







# د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: کومې ستونزې مطرحې دي؟

داکتر محمد هاشم کمالي

وری ۱۳۹۳


۱۲ کاله
باکیفیته څیړنه

څیړنې د ښه
افغانستان
لپاره
AREU

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
د تحلیلي خپرونو لړۍ

# د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: کومې ستونزې مطرحې دي؟

داکتر محمد هاشم کمالي

وږی ۱۳۹۳

دغه څېړنه د امریکا د متحده ایالاتو د سولې د انستیتیوت
او د فنلنډ د سفارت په مالي مرسته ترسره شوې ده.

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

د پښتۍ انځور: (له پاس څخه کښته)؛ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د لويې جرګې یوه منظره؛ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د لويې جرګې په جريان کې د خلکو د استازو څيرې؛ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د لويې جرګې په جريان کې د خلکو استازي يوې وينا ته غوږ نيسي؛ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د لويې جرګې استازي، کابل (د افغانستان ملي آرشيف).

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د افغانستان له ملي آرشيف څخه چې د ۲۰۰۴ کال د لويې جرګې راټول شويو انځورونو ته يې په سخاوت او خلاص لاس سره د لاس موندنې امکان را په برخه کړل، د زړه له کومې مننه کوي

ژباړن: محمد کاظم ملوان

د خپروني کود: ۱۴۱۲P

© ۱۳۹۳ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ځينې حقوق محفوظ دي. کيدای شي دغه خپرونه تکثير او بيا چاپ شی او يا دبيا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او يا په هره بڼه او هره وسيله لکه: برقي ضبطی او نورو وسايلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د ليکوال او د افغانستان د څېړنی او ارزونی د واحد د مشخصاتو يادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پيرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګريزه استفاده منع ده. که چيرې دغه خپرونه بيا خپره او يا د بريښنايي بڼه په واک کې ورکړل شی، بايد دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کړښه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او يا په انترنتی صفحه وليکل شي. د هر ډول ګټې اخيستنې لپاره چې پورته يې يادونه ده شوې بايد مخکی له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ليکلې اجازه له انټرنيتي سايټ www.areu.org.af او يا له ۰۰۹۳ (۰) ۷۹۹ ۶۰۸۵۴۸ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

## د لیکوال په اړه

محمد هاشم کمالي په اسلامي فقه او حقوقو کې د نړۍ په کچه یو پېژندل شوی عالم او اوسمهال په مالیزیا کې د پرمختللو اسلامی څېړنو د نړیوال انستیتیوت (IAIS) برحال رییس دی. نوموړی د افغانستان د اساسي قانون د تدقیق د کمیسیون غړی او د څه مودې لپاره یې رییس (۲۰۰۳ز.) هم و؛ هغه په مالدیف (۲۰۰۴- ۲۰۰۷ز.)، عراق (۲۰۰۴- ۲۰۰۵ز.) او سومالیا کې (۲۰۱۰ز.) د اساسي قانون د اصلاحاتو په اړه د ملګرو ملتونو سلاکار هم پاته شوی. پروفیسر کمالي په ډېرو ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې ویناوې کړې او تر ۲۵ زیات علمي کتابونه او د ۱۲۰ په شاوخوا یې علمي مقالې لیکلې دي. د هغه لیکل شوي آثار په بېلابېلو ژبو ژباړل شوي دي. د نوموړي په اړه په Who's Who کتاب کې، چې د بیوګرافیو او پېژندنو ټولګه ده او پکې د نړۍ د شخصیتونو او وتلو څېرو د ژوند حال درج شوی دی، هم مطلب لیکل شوی دی.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ ځرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH)، (GIZ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# مننه

دغه لیکنه به د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) له مرستې، هڅې او ملاتړ پرته نه شوای ترسره کېدای. غواړم د AREU له مدیر ښاغلي نادر نادري څخه، چې ما په کابل کې هغه وخت ولید، چې له ما څخه یې وغوښت، د ۲۰۱۳ کال په ډسمبر کې د اساسي قانون په اړه د بحث د یوه ګردۍ میز لارښوونه پر غاړه واخلم، مننه وکړم. موږ دواړه په کابل کې د دوو لیدنو په ترڅ کې د دغې څېړنې بېلابېل اړخونه تر بحث لاندې ونیول. غواړم د هغه له خواخوږۍ او ملاتړ څخه، او دا چې زه یې خپل وړ او باکفایته همکار وبللم او د پروژې همغږوونکي، اروني جایاکودای ته وروپېژندلم، مننه وکړم. اروني د سرچېنو او مهمو معلوماتو په راټولولو کې، چې د دې اثر په چټکه بشپړتیا کې یې آسانتیاوې برابرې کړې، ډېره لویه مرسته وکړه.

په عین حال کې غواړم د افغانستان د اساسي قانون د نظارت په کمیسیون کې له خپلو پخوانیو همکارانو، ښاغلي سرور دانش (وروسته د عدلیې وزیر) او مشاور وزیر اشرف رسولی څخه، چې مشورو، مرکو او لیکنو یې دغه څېړنه له ډېرو اړخونو بډایه کړې، د زړه له کومي مننه وکړم. ما په عین حال کې د خپل ډېر پخوانی دوست او همکار، د عدلیې وزارت پخوانی مرستیال ډاکټر محمد قاسم هاشمزي له نظریو او لیکنو څخه هم ګټه اخیستې او څه موده مخکې مې په کابل کې د اساسي قانون په اړه په یوه ورکشاپ کې له هغه سره یوځای ګډون درلود.

په خواشینۍ سره د پخواني ولسمشر برهان الدین رباني او د عدلیې پخواني وزیر، حبیب الله غالب یادونه کوم. د هغوی ځانګړې مهربانۍ او د اساسي قانون په تفسیر پورې د تړلو مسئلو په تړاو د هغوی ګټورې مرکې، په درناوي سره د یادولو وړ بولم. د لوی خدای له دربار څخه د هغوی روح ارامه او خوشاله غواړم.

په پای کې، غواړم په مننې سره، د هغو مرستو یادونه وکړم، چې د مالیزیا په آسیس (IAIS) کې زما ملګرو، سیتي ماریه چو عبدالله او د څېړونو مرستیال هیلماتون سکره بنت عمر یې، د معلوماتو په راټولولو او ثبتولو او د اثر د وروستنې کتنې په برخه کې ترسره کړې دي. ما له معلوماتو څخه د ښې ګټه اخیستنې په برخه خپلې ټولې هڅې کړې دي، خو له دې سره که په متن کې کومه نیمګړتیا او کمزورتیا موجوده وي، مسوولیت یې پر خپله غاړه اخلم.

محمد هاشم کمالي

وری ۱۳۹۳

# د موضوعاتو لیکلړ


لنډیز ۱

۱. په افغانستان کې د اساسي قانون د جوړېدو بهیر ته یوه لنډه کتنه ۲

۲. د اساسي قانون تفسیر او بیا کتنه ۴

۳. د سپنتا قضیه او پایلې یې ۹

۴. د نه باور رایه: یو پرتلیز تحلیل ۱۴

۵. اسلام ته د اساسي قوانینو مراجعه ۱۲

۲. د قانون حاکمیت: ستونزې او هیلې ۱۹

۷. بشري حقونه: ستونزې او فرصتونه ۲۲

۸. د ښځو حقونه: هیلې او حقایق ۲۷

۹. اساسي قانون، دموکراسي او اسلام: همغږېتوب یا ناانډولي ۳۱

۱۰. د مبصرینو تحلیلونه او نظریې ۳۳

مأخذ ۴۴


# انځور


د اساسی قانون د لویه جرگی غړی د کال ۲۰۰۴ زیږدیز، کابل ۳

## لنډونمونه

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| CRC | د اساسي قانون د بیاکتنې کمېسیون |
| FSC | د شریعت فدرال محکمه |
| ICSIC | د اساسي قانون پر تطبیق د نظارت خپلواک کمېسیون |
| MJ | مشرانو جرګه |
| SC | ستره محکمه |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی سیاسي استازی |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام |
| WJ | ولسي جرګه |

# لنډيز

د **۲۰۱۴** ز. کال په جنوري کې د افغانستان د اوسني اساسي قانون لسمه کليزه پوره شوه. په دې موده کې د اساسي قانون د متن د ابهاماتو او همدارنګه د مرکزي قدرت د اصلي موقف په اړه يو لړ له بحثونو ډکې مسلې مطرحې شوې دی. البته په نوي اساسي قانون کې د ابهاماتو شتوالي، غيرمنتظره چاره نه ده. پوښتنه دا ده، چې آيا پخپله اساسي قانون او هغه بنسټونه او ادارې، چې دغه اساسي قانون يې رامنځ ته کړی، د دې وړتيا لري، چې د اساسي قانون او د قانون د واکمنۍ د لا زياتې پياوړتيا په موخه، دغه ابهامات حل او لرې کړي او کنه. د هر متن او ژبې کلمې د خپلې ځانګړنې له مخې، ټوليزه بڼه لري او په ناڅاپي حالتونو او پېښو کې په کار نه وړل کېږي. ټول عمده قانوني دودونه په دې خبره پوه دي او د اسې لارښووني وړاندې کوي، ترڅو د مهمو متنونو- لکه د قرآن کريم- په تفسير کې آسانتياوې رامنځته کړي. دا موضوع کېداي شي په عمومي متن کې، د پېچلو کلمو او جملو د ځانګړتياوو يا په متن کې د مطلق کيفيت په روښانولو کې ونډه ولري. د اسلامي قوانينو سيستم د قوانينو د تفسير په اړه د تفصيلاتو په وړاندې کولو سره، ځانګړې او ښکاره ځانګړتياوې لري. [1]

د اساسي قانون د تفسير ستونزه هغه وخت رامنځ ته شوه، چې د **۲۰۰۷** ز. کال د مې په مياشت کې ولسي جرګې (WJ) دوو وزيرانو ته د بهرنيو چارو وزير، ډاکټر رنګين دادفر سپنتا او د کډوالو د راستنېدو وزير، محمد اکبر اکبر ته د نه باور رايه ورکړه. سپنتا ته د نه باور رايه، د حامد کرزي او ولسي جرګې ترمنځ د اړيکو د لاخرابېدو لامل شوه او په عين حال کې د دولت د درې قواوو د اړيکو حالت يې هم تر پوښتنې لاندې راووست.

دغه څېړنه هغه موضوعات سره يوځای کوي، چې د اساسي قانون مهم ځانګړيتوبونه جوړوي او په ورته وخت په افغانستان کې راتلونکې دموکراسۍ او قانونوالۍ بهير ته له ستونزې ډکې پوښتنې راولاړوي. دا څېړنه په لسو برخو کې وړاندې شوې، چې په افغانستان کې د قانون جوړونې د تاريخ په اړه څېړنې سره پيلېږي او ورپسې په افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو کې د تيوري او عمل بيا کتنه راځي. د سپنتا د موضوع، نور تفصيلي اړخ او ترې پاتې اغيزې پخپل وار، په افغانستان او يو شمير نورو اسلامي هېوادونو کې د پارلماني نه باور رايې په يو بحث کې څېړل شوې دي. د افغانستان په اساسي قانون کې د اسلام ځای او د قانون د حاکميت په اړه د افغانستان ښکاره ژمنې د دغه اثر په پنځمه او شپږمه برخه کې توضيح شوې دي. په دوه جلا برخو کې، د بشري حقونو، د ښځو حقونو او د قانون په وړاندې د هغوی د برابروالي په اړه خبرې شوې دي. اساسي قانون، دموکراسي او اسلام د يوې مهمې پوښتنې په توګه، چې آيا درې واړه په اساسي قانون کې سره همغاړې دي يا يو له بل سره تناقض لري، وړاندې شوي دي. په وروستۍ برخه کې د **۲۰۰۴** ز. کال د اساسي قانون په اړه د مبصرينو او مفسرينو نظريې او ارزونې راټولې شوې دي، او په پای کې د يوې پايلې په لړ کې د پاليسۍ په اړه يو شمير وړانديزونه، وړاندې شوي دي.

زه د افغانستان د اساسي قانون د بياکتنې کميسيون (CRC) د يو غړي او د اساسي قانون د جوړولو په جريان کې د يوه ګډونوال په توګه کله کله د خپلو شخصي يادښتونو او تجربو يادونه کوم. [2]

---

۱ اسلامي قانون پوهنه د ناڅرګندو او مبهمو، نغښتو، سختو او پېچلوموضوعاتو دبيانولو لپاره لارښوونې وړاندې کړې دي. تفصيلي څرګندونې، د عمومياتو تشخيص ، د مطلق د مناسبوالي، يا عمومي متن باندې د ضروري ځانګړيتوبونو راټولول هم د ترلاسه کېدو وړ دي. د تفصيلاتو لپاره د محمد هاشم کمالي، د اسلامي قانون پوهنې اساسات، (*Principles of Islamic Jurisprudence*) درېيم بيا کتل شوی او بشپړ شوی چاپ، کمبريج: د اسلامې ټولنې متون، **۲۰۰۳**، **۱۱۷- ۱۸۷** مخ، وګورئ.

۲ د **۲۰۰۴** ز. کال اساسي قانون پر **۲۰۰۱** ز. کال د بن تړون له مخې، درې مرحلې درلودې: لومړی، د دوو ښځو په ګډون د اساسي قانون د تسويد نهه کسيزې کميټې، لومړنۍ مسوده يې په اتو مياشتو کې جوړه کړه. دويم، د اوو ښځو په ګډون د اساسي قانون **۳۵** کسيز کمېسيون، بيا هم په اتو مياشتو کې دغه مسوده بيا وکتله. په دې مرحله کې، CRC له عامه خلکو سره، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي دفتر (UNAMA ) په ګډون او لوژستيکي ملاتړ سره، سلا وکړه. په پای کې د اساسي قانون لويه جرګه، چې په هغې کې د **۱۰۲** ښځو په ګډون **۵۰۲** استازو ګډون کړي وو ، په کابل کې جوړه شوه، ترڅو د اساسي قانون مسوده تصويب کړي. د اساسي قانون لويه جرګه (CLJ ) په پيل کې د لسو ورځو لپاره جوړه شوې وه، خو د اساسي قانون د محکمې څپرکي (فصل) د حذفولو او پرځای يې د (**۱۲۱**) مې مادې د ځايولو له امله د **۲۱** ورځو لپاره دوام ومونده. د نور تفصيل لپاره د احمد هجرت عاصم "د **۱۳۸۲**/ **۲۰۰۴** ز. کال اساسي قانون" http://psir.blogfa.com وګورئ. همدا ډول د محمد هاشم کمالي، "د افغانستان په اساسي قانون کې اسلام او ښځې" (References to Islam and Women in the Afghan Constitution) د عرب د قانون څلور مياشتنۍ **۲۲** (**۲۰۰۸** ). **۲۰۷- ۳۰۲**، په **۲۷۲f** کې هم وګورئ.

## ۱. په افغانستان کې د اساسي قانون د جوړېدو بهير ته يوه لنډه کتنه

په افغانستان کې د اساسي قانون تدوين له پخوا راهيسې په نه بدليدونکې توګه له بحرانونو، کودتاګانو او د رژيم له بدليدو سره تړلې دی. افغانستان تر يوې پيړۍ په کمه موده کې شپږ اساسي قانونونه درلودلي دي، د دې ترڅنګ پر ۱۹۹۰ ز. کال جمهور رييس رباني هڅه وکړه، د اساسي قانون يو نيمګړي سند جوړ کړي، چې هېڅکله هم تصويب نه شو. په دوو لومړنيو تفصيلي اساسي قوانينو- (۱۹۲۳ ز. او ۱۹۳۱ ز.) کې شاهي مطلقه نظام، د افغانستان د نظام په توګه ومنل شو، خو د دې ترڅنګ، د ۱۹۲۳ ز. کال په اساسي قانون کې په کابل او ولايتونو کې د مشوره ورکولو نيمه منتخبه شورا او د ۱۹۳۱ ز. کال په اساسي قانون کې په کابل کې د مشوره ورکولو انتخابي ملي شورا رامنځته شوه.[۳] د ۱۹۳۱ ز./ ۱۳۱۰ کال اساسي قانون (د افغانستان د دولت عليه اساسي اصول)[۴] په (۱۲) څپرکو او (۱۱۰) مادو کې د ۱۳۰۹ کال په لويه جرګه کې تصويب، چې پر ۱۳۱۰ کال د پاچا محمد نادرخان له خوا په رسمي توګه خپور شو. د دغه اساسي قانون له څلورم څپرکي (له ۲۷- ۵۷ مادو) سره سم د يوې ملي شورا، چې د درې کلونو لپاره يې ټاکل شوي غړي درلودل، وړاندوينه شوې وه. د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون، مشروطه پاچاهي، چې د قواوو په تفکيک او د پراخو حقونو پر بنسټ ولاړه وه، ومنله. خو دغه اساسي قانون پر ۱۹۷۳ ز. کال د کودتا له لارې، چې افغانستان يې يو جمهوري دولت اعلان کړ او محمد داوود يې جمهور رييس و، لغو شو. هغې سياسي ناکرارۍ، چې هېواد له يادې کودتا وروسته ورسره مخ شو، د څلورو نور اساسي قوانينو د رامنځ ته کېدو لامل شو: پر ۱۹۷۷ ز. کال (د داوود د جمهوری رياست په موده کې)، پر ۱۹۸۰ کال ز، د کمونيست جمهور رييس ببرک کارمل په وخت کې، پر ۱۹۸۷ کال ز. د ډاکټر نجيب الله په دوره کې او ورپسې پر ۱۹۹۰ ز. کال د برهان الدين رباني د رياست جمهوري پرمهال. اختلافونه او تضادونه د دغو دورو ځانګړني وو: له شاهي نظام څخه تر نيمه جمهوري رژيم بيا تر کمونيستي حاکميت، اسلامي دولت، طالبانو رژيم او اوس اسلامی جمهوريت- له طالبانو پرته، چې حتا د اساسي قانون او دموکراتيک قانونيت په اړه يې لا فکر هم نه کاوه- هر يوه د قانونيت په لټه کې نوي اساسي قوانين معرفي کړل. پخواني رژيمونه يې غندل او د هېواد لپاره يې د نوي راتلونکي ژمنه کوله.

له قانون څخه د طالبانو تصور له شريعت سره ډېره نژدې اړيکه درلوده، هغوی د کړنو اصول، چې د ۲۰۱۰ ز. کال د لايحې په نوم ياديږي، جوړه کړه، چې ظاهرا د شريعت پراساس ولاړه وه.[۵] لايحه قسما د دې لپاره تصويب شوه، چې "د ځانګړو ستونزو جوړوونکو قوماندانانو د زياتيو او تيريو مخنيوی وکړي او د تحريک د امارت عصر هويت تاييد او له هغو عملي لانجو سره مقابله وکړي، چې د تحريک تر مستقيم کنترول لاندې د خاورې د ډېرې برخې د راتللولامل وګرځي".[۶]

د پام وړ يوه مهمه استثناء د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون دی، چې د محمد ظاهرشاه (۱۹۳۳- ۱۹۷۳ز.) په وخت کې د عصري کېدو او اصلاحاتو په موخه په داسې توګه رامنځ ته شو، چې نه د کودتا او نه د رژيم د بدلون په پايله کې وه. خو له دې ټولو سره، ياد اساسي قانون په شاهي کورنۍ کې درز او نفاق رامنځته کړه او په واقعيت کې له اساسي قانون څخه د محمد داوود د څنګ ته کېدو لپاره، ګټه واخيستل شوه، چې د وخت پياوړی صدراعظم او د پاچا د تره زوی وو. په دې اړه لاندې توضيحات وړاندې کېږي:

د ۱۹۳۱ ز. کال اساسي قانون، افغانستان د محمد نادرشاه په کورنۍ کې يوه موروثي شاهي اعلان کړه، چې د پاچا کورنۍ د هغه "تر ټولو مشر نارينه اولاد او د هغه ورو" ګڼل کېدل (۵ مه ماده). د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون په اساس کې څرګنده کړه، چې شاهي کورنۍ د هغه تر ټولو مشر زوی، بيا تر نورو دويم مشر زوی او اولادونه يې او بيا د پاچا وروڼه او اولادونه يې دي. خو همدې اساسي قانون روښانه کړې ده، چې د پاچا زوی، لور، خور او د تره اولادونه، د هغوی ميرمنې او اولادونه په سياسي ګوندونو کې ګډون نه شي کولی

۳ د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون (د افغانستان د دولت عاليه اساسي نظامنامه) د جلال آباد د لويې جرګې له خوا پر ۱۳۰۱ هجري شمسي کال، چې له ۱۹۲۳ ز. کال سره سمون لري، تصويب شو. ياد قانون اته څپرکي او ټولې (۷۳) مادې درلودې. د دغه قانون پر بنسټ، د دولت د شورا غړي نيمايي د خلکو له خوا ټاکل کېدل او نيمايي نور يې د پاچا له خوا انتصابېدل. (د اساسي نظامنامې ۴۱ مه ماده). د افغانستان د اسلامي جمهوريت د عدليې وزارت، د افغانستان د اساسي قوانينو بشپړه مجموعه ۱۳۰۱- ۱۳۸۲، کابل ۱۳۸۲/ ۲۰۰۷ ز. په عين حال کې د سرور دانش او د افغانستان د ليکوالو فرهنګي مرکز، د افغانستان د اساسي قوانينو بشپړ متن (۱۳۰۱- ۱۳۷۲) ، تهران، ۱۳۷۴/ ۱۹۹۵ هم وګورئ.

۴ د "اصولنامې" او تر هغې مخکې "نظامنامې" افادې، له هغو اصطلاحاتو څخه استازيتوب کوي، چې د شريعت په پرتله، چې خورا ډېر صلاحيت او واک لري، لږ صلاحيت او قوت درلود. د دواړو افادو پر ځای اوس "قانون" کارول کېږي. د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون او ورپسې نور ټول "داساسي قانون" په نوم ياد شوي دي. قانون يوه عربي ترکِي کلمه ده، خو داسې ښکاري، چې افغانستان هغه له ترکيې څخه چيرې چې هلته د خلافت تر ړنګيدو وروسته، يو غير مذهبي (seculor) دولت جوړ شو، اخيستی وي.

۵ د ۲۰۱۰ کال لايحه د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۹ کلونو د لايحو بيا کتل شوې نسخه ده. د ۲۰۱۰کال لايحه د وسله والې جګړې د پرمخ بيولو، له ملکي کسانو او د غليم له قوتونو سره چلن، د خلکو پر ژوند او ملکيت د تيري لړۍ د درولو په اړه د لارښوونو يوه مجموعه ده. په دې توګه لايحه، شکنجه او ځورونه او په زور اعتراف اخيستل منع کوي (۱۵ او ۱۹ مه ماده)، د دښمن شل او شوټ کول، اختطاف (۷۰ او ۷۳ مادې) او د تسليم شوو عسکرو وژل ناروا ګڼي (۱۴ مه ماده) د لايحې (۷۸) ماده وايي، چې "مجاهدين مکلف دي، چې له خلکو سره اسلامي چلن وکړي او هڅه وکړي، چې د عادي عامه مسلمانانو په زړونو کې ځای پيدا کړي.

۶ کيت کلارک (په نيويارک کې د افغانستان په اړه څېړونکی)، "حساب ورکولو ته د طالبانو رابلل"، ۵-۶ (۲۰۱۱)، په http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2011/07/06/calling_the_taliban_to_account_0, 6 July 2011 (لاسرسی د سپتمبر ۲۲ د ۲۰۱۴ کال)

او همد راز نه شي کېدای، چې یاد کسان وزیر، لومړی وزیر، د پارلمان غړي یا په ستره محکمه کې قاضي شي. (**۲۴** مه ماده). دغه مادې په عمل کې د هغه وخت مقتدر صدراعظم، (د هغه وخت خارجه وزیر) محمد نعیم او د هغوی کورنۍ له لوړو مقامونو څخه بې برخې کړل. دغه موضوع په شاهي کورنۍ کې مخالفت رامنځ ته کړ او په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي پیل شوه.

که څه هم د **۱۹۶۴**ز. کال اساسي قانون د افغانستان په تاریخ کې تراوسه پورې له ډېرو اړخونو خورا بشپړ اساسي قانون ګڼل کېږي او د بن په تړون [7] کې د موقت اساسي قانون په توګه ومنل شو، خو د یاد اساسي قانون ځانګړې برخې، لکه د سیاسي ګوندونو رامنځته کېدل، هېڅکله عملي نه شوې او د بن په تړون کې هم د دغې برخې یادول له ځينو اړخونو څخه ستونزمن ثابت شو: له هغه وخت څخه اوه دېرش کاله تیرېدل، په دې موده کې د څو نورو اساسي قوانینو جوړېدل، پر **۱۹۷۶** ز. کال د یوه نوي مدني قانون (**۲۵۰۰** مادې) او د جزاء قانون (**۵۲۳** مادې) رامنځ ته کیدل، او د دوو لسیزو جګړو، د افغانستان په ټولنیزو- سیاسي حقایقو کې ژور بدلونونه راوستلي وو. حقوق پوهانو او قاضیانو، حتا تر **۲۰۰۴** ز. کال وروسته، د زړو قوانینو تطبیق ته، چې په نوي اساسي قانون کې عجیب ښکارېدل، ادامه ورکړه او ستونزې، د هغه مقام په پیژندنه کې، چې وکولی شي، اساسي قانون تفسیر او له هغه سره د شته قوانینو انطباق عملي کړي، د ناڅرګندو ګډوډیو له امله، دوام وموند.

د بن د تګلارې تطبیق، د سولې او امنیت سالم چاپیریال ته اړتیا درلوده، ترڅو انتقالي حکومت د پراختیا او پرمختیا په لور ګامونه واخلي، خو په خواشینۍ سره داسې ونه شول؛ د دې پرخلاف، هېواد د امنیتي ستونزو، د طالبانو د شورش او د کرزي او ولسي جرګې ترمنځ د واک د یوې تعرضي لوبې په لومه کې راښکیل شو، چې تر **۲۰۱۴** ز. کال پورې یې دوام وکړ، چې د کرزي د دورې د پای نېټه ده.

دوه مختلفې ادارې، ستره محکمه (له دې وروسته SC) او د اساسي قانون پر تطبیق د نظارت خپلواک کمېسیون (له دې وروسته ICSIC)؛ پر **۲۰۰۸**ز. کال د ICSIC قانون له تصویب راهیسې، د اساسي قانون د څارنې او بیا کتنې دندې ترسره کوي. ستونزه هغه مهال رامنځ ته شوه، چې د ICSIC قانون د اساسي قانون له (۱۲۱ مې) مادې سره په عین موضوع کې، تناقض درلود.



د اساسی قانون د لویه جرګی غړی د کال **۲۰۰۴** زیږدیز، کابل

7 د بن تړون د ملګرو ملتونو له خوا د یو نړیوال کنفراس پایله وه، چې د درې پرله پسې کلونو لپاره یې د افغانستان د بیارغونې لپاره یوه کړنلاره رامنځ ته کړه. د سیاسي انتقال مرحله یي جریان د UNAMA او نورو بهرنیو مرستندویو موسسو له خوا رامنځ ته شو. دغه تړون د عدالت د نوي سیستم بیاجوړونه او اصلاح، د یوه نوي اساسي قانون پر بنسټ او د اسلامي اصولو، نړیوالو معیارونو، د قانون حاکمیت، د افغانانو حقوقي دودونو او په حکومت کې د ښځو د پراخ ګډون پر اساس، ومنله.

## ۲. د اساسي قانون تفسير او بيا کتنه

پارلماني قانون جوړونه او د حکومت پر کړنو څار، په تېرو دريو لسيزو يا ډېرو کې، د معاصرو اساسي قوانينو په يو عمده خصوصيت بدل شوي دي. نن ورځ په ډېرو اساسي قوانينو کې، د دې لپاره چې تقنينيه او اجراييه څانګې د اساسي قانون پر اساس د خپلو واکونو حدود وساتي، د قضايي بيا کتنې يو شکل، شتون لري.

سره له دې، د ۲۰ مې پېړۍ په لومړيو کې په ايران او ځينو عربي هېوادونو کې تجربې ښيي، چې ټولو اسلامي هېوادونو د اساسي قوانينو بيا کتنه وروسته پيل کړې ده. کېدای شي د اساسي قانون د بيا کتنې او څارنې موخې مختلفې وي. په مصر کې، د اساسي قانون پر بنسټ، د اساسي قانون عالي محکمه پر ۱۹۷۱ ز. کال جوړه شوه او د اساسي قانون د بياکتنې انحصاري واک ورته وسپارل شو. د يادې محکمې موخه دا وه، چې داسې قضايي سيستم رامنځ ته شي، چې د پانګه والو له خوا په تېره بيا د ملکيت د حقونو [8] له اړخه، د ثبات او اساسي حقونو يو قانوني تضمين وبلل شي. د ايران په اسلامي جمهوريت کې د ۱۹۸۹ ز. کال د اساسي قانون په بيا کتنه کې، ساتونکې شورا (څارونکې شورا)، د دې لپاره رامنځ ته شوه، چې د اسلامی انقلاب لاسته راوړنې وساتي او د اسلامي دولت له بنسټونو څخه ملاتړ وکړي، په داسې حال کې، چې د ترکيې د اساسي قانون محکمه، پر ۱۹۸۲ ز. کال په دې خاطر رامنځ ته شوه، چې له ترکيې ډوله سيکولريزم څخه چې د کماليزم [9] په نوم هم يادېږي، حمايت وکړي.

د اساسي قوانينو د بياکتنې او څارنې دوه مختلف ډولونه وجود لري: متمرکز او غير متمرکز. په متمرکز سيستم کې، هغه بېلګه، چې په ډېرو اروپايي هېوادونو لکه فرانسه، جرمني او ايټاليا کې کارول کېږي- يوه وقف شوې اداره، د اساسي قانون محکمه يا د اساسي قانون شورا- يوازينۍ دولتي اداره ده، چې له اساسي قانون سره د يو قانون د تطابق، يا د حکومت د کړنو په اړه د معتبرو پرېکړو واک لري. کله چې په يوې قضيې کې د اساسي قانون په اړه پوښتنې لاندې محکمو ته وړاندې شي، نو د حل لپاره يې د اساسي قانون محکمې ته راجع کېږي.

د اساسي قانون په غيرمتمرکزه بياکتنه کې، هغه سيستم، چې په متحده ايالاتو او پاکستان کې دود دی، په قضاء کې ټولو محکمو ته د اساسي قانون د څارنې او بياکتنې واک ورکړل شوي دي. په پورتني سيستم کې عالي محکمه هغه وخت په اساسي قانون پورې اړوندې پوښتنې تر غور لاندې نيسي، چې د لاندينيو محکمو له خوا ورته راجع شوي وي. په پاکستان کې، د ۱۹۷۳ز. کال تعديل شوي اساسي قانون (D۲۰۳) ماده وايي، چې د شريعت فدرال محکمه، د حکومت يا يو وګړي په غوښتنه، هرو مرو هر قانون تر څېړنې لاندې نيسي او که چيرې معلومه شي، چې تر بحث لاندې قانون د اسلام له کوم حکم سره تناقض لري، نو فسخه کېږي. لاندينۍ محکمې په ځانګړو قضيو کې، چيرې چې له اساسي قانون سره د يوه عمل يا حالت په اړه، چې د هغو پر بنسټ رامنځ ته شوي وي، شک پيدا شي، پرېکړې کوي. که چېرې پرېکړې له اساسي قانون سره تناقض ولري، محکمه له تطبيق څخه يې انکار کوي. په داسې مواردو کې وروستۍ خبره د سترې محکمې ده. د سترې محکمې (CS) د صلاحيتونو په اړه، غير متمرکز سيستم پر دوو نورو ډولونو وېشل کېږي: ۱). SC په متحده ايالتونو او پاکستان کې د قانون د باطلولو واک لري، او ۲). قانون د SC له خوا تر هغه تعليق يا ځنډول کېږي، چې د پارلمان له خوا يا تعديل او يا يې پر ځای بل قانون نه وي جوړ شوی. دغه وروستۍ ډول قضايي څېړنه يا بياکتنه په يمن، عربي متحده اماراتو، ماليزيا، نايجريا او تر يوې کچې په افغانستان کې رواج لري. مصر، ترکيه، اندونيزيا او بحرين هغه هېوادونه دي، چې هلته د اساسي قانون د بياکتنې چارې په بشپړه توګه د اساسي قانون په يوې جلا محکمې پورې اړه لري. [10]

د فرانسې د اساسي قانون له دود سره سم په شمالي افريقا کې، د تونس، الجزاير، مراکش، موريتانيا، سينګال او لبنان هېوادونه د "اساسي قانون شوراګانې" لري، چې صلاحيت يې محدود دی. په خپله فرانسه د خپل اساسي قانون له شورا څخه غواړي، چې ټول بنسټيز قوانين (هغه قوانين، چې د اساسي قانون احکام تطبيق او په دقت يې اجراء کوي) او د ځانګړو غړو قانوني طرحې تر تنفيذ مخکې وګوري. د اساسي قانون دغه ډول مجرد او مخکنۍ بياکتنه په عمومي توګه د سياسي کارکوونکو، د مقننه قوې غړو، اجرائيوي يا سيمه ييزو حکومتونو له خوا ترسره کېږي. د اساسي قوانينو شوراګانې، د موخو له پلوه محدوديت لري؛ ځکه چې د قضايي خصوصيت پر ځای ډېر سياسي ځانګړنې لري او پرېکړې يې الزامي نه دي؛ که څه هم موضوع د ځانګړو قضيو او د صلاحيت د حدودو له مخې فرق کوي. د اساسي قانون د بياکتنې غير متمرکز سيستم محکمې ته اجازه ورکوي، چې له اساسي قانون سره د قانون

---

۸ تامر مصطفی، د اساسي قانون لپاره مبارزه- په مصر کې قانون، سياست او اقتصادي وده، (*The Struggle for Constitutional Power: Law, Politics and Economic Development in Egypt*).(کمبريج: د کمبريج پوهنتون مطبعه، ۲۰۰۷)، ۵۷f، وګورئ

۹ رينر ګروت "د بنيادی کنترول مودلونه" رينر ګروت او تيلمان رودر، په اسلامي هيوادونو کې اساسي قوانين: د بدلون او تداوم ترمنځ، (Models of Institutional Control in *Constitutionalism in Islamic Countries: Between Upheaval and Continuity*) (اکسفورد او نيويارک: د اکسفورد پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۲)، ۲۲۲ مخ.

۱۰ ګروت، "د بنيادی کنترول مودلونه" (Models of Institutional Control)، ۲۲۴ مخ.

د تطابق په اړه، له تنفيذېدو څخه يې ډېر وروسته كله چې نړيوال اغېز يې معلوم شي، بياكتنه وكړي. دغه ډول مشخصه بياكتنه، چې د وروستنۍ بياكتنې په نامه هم يادېږي، ځانګړې قضايي خصوصيت لري، پراخ بنسټيه ده او زياتره الزامي بڼه لري[۱۱]. په څو وروستيو لسيزو كې ډېره لېوالتيا دا ده، چې د اساسي قانون جلا محكمې جوړې شي، ترڅو د اساسي قانون د بياكتنې دندې ترسره كړي. داسې يو جريان د جرمني سيستم په نامه يادېږي، چې په ډېرو نويو دموكراسيو كې پلي كېږي.[۱۲]

د اساسي قوانينو د بياكتنې محكمې ډېرې نورې دندې هم لري. يادې محكمې كولى شي، په رييس جمهور پورې لګول شوې تور هم وڅېړي، ټولټاكنې وڅاري، د دولت د ادارو ترمنځ اختلاف حل كړي، او آن تر دې چې له اساسي قانون سره د سياسي ګوندونو د تطابق په اړه پرېكړې وكړي. داسې بريښي، چې هېوادونه او قانوني واک هم د اساسي قانون په بياكتنې پورې د ځينو اړوندو كليدي پوښتنو په اړه د توپيرونو خوا ته ميلان لري: څوک كولى شي دعوه وكړي، د دعوې اساس به څه شي وي او د محكمې د پرېكړو اغېزې به څه وي. كېداى شي يادو پوښتنو ته په اساسي قانون، د محكمو د جوړولو قانون يا د اساسي قانون د محكمې په وروستنيو تفسيرونو كې ځواب ويل شوي وي.

د اساسي قانون محكمه كولى شي، له مشخصو پېښو څخه رامنځ ته شوي قضيې واوري، همغه ډول چې كولاى شي د اساسي قانون مسايل په مجرده توګه، حتا تر دې مخكې چې يوه پېښه رامنځته شي يا يو قانون نافذ شي، تر غور لاندې ونيسي. يوه مجرده بياكتنه هغه وخت هم ترسره كېداى شي، كله چې سياسي ټولنې له محكمې څخه وغواړي، چې له كوم واقعي اختلاف پرته د اساسي قانون د متن په اړه باصلاحيته تفسير وړاندې كړي.[۱۳]

په افغانستان كې، لومړى اساسي قانون، د ۱۹۲۳ ز. كال اساسي نظامنامې، د دولت شورا له دې صلاحيت سره منلې ده، چې د حكومت اجراات وڅاري، په ځانګړې توګه هغه مهال، چې د متضررو له خوا په تيره بيا "كله چې هغوى د يو قانون په اړه شكايت كوي، دغه قانون له اساسي قانون سره انطباق وركړي. (۴۳ مه ماده). د دې ترڅنګ شورا ته واک وركړ شوي و، چې د حكومت ټولې قانوني طرحې تر دې مخكې، چې پاچا ته د توشيح لپاره وړاندې شي، تر بياكتنې لاندې ونيسي (۴۲ مه ماده). پر دې سربېره شورا دنده درلوده، چې ټول هغه تړونونه، قراردادونه او موافقه ليكونه، چې افغانستان له بهرنيو اړخونو او حكومتونو سره يې لاسليک كړي وو، تر بياكتنې لاندې ونيسي (۴۹ مه ماده). دا هغه څه دي، چې په CRC كې د ليكوال پخوانى همكار سرور دانش، چې وروسته د عدليې وزير شو، هم په دې برخه كې ورته نظر لري. د ۱۹۳۱ ز. كال اساسي قانون د اساسي قانون د تفسير په اړه چوپتيا غوره كړې وه او دې حالت د ۱۹۶۴ او ۱۹۷۷ ز. كلونو په اساسي قوانينو كې بدلون ونه موند.

د ۱۹۸۷ ز. د ډاكتر نجيب اساسي قانون، د اساسي قانون ۸ كسيزه شورا رامنځ ته كړه، چې په عمده توګه د دولت د سياسي ادارې په توګه يې كار كاوه. دغې شورا ته دنده سپارل شوې وه، چې "قوانين، قانوني سندونه او نړيوال تړونونه" له اساسي قانون سره د تطابق لپاره وڅېړي "او جمهور رئيس ته په اساسي قانون پورې د ټرلو مسئلو په تړاو مشوره وركړي" (۱۲۳ مه ماده). په عين حال كې شورا ته دا دنده هم سپارل شوې وه، چې " د اساسي قانون پر بنسټ، جمهور رييس ته د قانوني او حقوقي مسئلو د انكشاف په اړه وړانديزونه، وړاندې كړي" (۱۲۴ ماده) رييس جمهور د يادې شورا غړي د شپږو كلونو لپاره ټاكل. د شورا نور موضوعات او تشكيلاتي طرزالعملونه "د قانون پراساس جوړېدل" (۱۲۷ مه ماده).

په افغانستان كې د اساسي قانون د بياكتنې د نسبي ټكنى بهير يو لامل دا كېداى شي، چې افغاني قاضيان غواړي، كله چې قانوني او موجودې لاربښوونې د اړتيا وړ مشورې برابرې نه كړي، له اسلامي منابعو څخه تياره مرسته ترلاسه كړي. دغه موضوع دې حقيقت ته په پام سره لاپياوړې كېږي، چې د افغانستان ډېرو اساسي قوانينو قاضيانو ته لاربښوونه كړې، هغه موضوعات چې د وضعي قوانينو له خوا حل نه شي، بايد د اسلامي يا حنفي مذهب د حكمونو پر اساس حل شي- هغه حالت چې د اوسني اساسي قانون له (۱۳۰ مې) مادې سره تطابق لري. د دغې مادې ډېر ښه كيفيت، په داسې يو حالت كې، چې د "عدالت روحيه په ډېره ښه توګه تامين شي" په خواشينۍ سره په زياترو مواردو كې ورته پاملرنه نه كېږي. د حنفي مذهب له قانوني سيستم څخه استفاده دا اغيزه لري، چې د اساسي قانون د

۱۱ كاترين ګلن باس او سوجيت چودري، "د اساسي قانون د ليږد لپاره د قانون له مركز څخه "دموكراسۍ په اړه نړيوال راپوروركول(Constitutional Review in New Democracy: Reporting International)، لنډه ليكنه "۴۰، د ۲۰۱۳ كال سپتمبر، ۸ مخ، http://democracy-reporting.org/files/dri-bp-40_en_constitutional_review_in_new_democracies_2013-09.pdf (لاسرسى ۲۴ آګست ۲۰۱۴)،

۱۲ د تام ګنيبرګ، "د اساسي قانون پرتليزه بياكتنه" (Comparative Constitutional Review)، (كابل : افغانستان، ۲۰۰۸)، http://comparativeconstitutionsproject.org/files/ constitutional_review.pdf (لاسرسى ۲۲ فبروری ۲۰۱۴)، ۱ : په عين حال كې د سيرى لې راى، "په مغرب (المغرب) كې اساسي قانون"، ګروت او رادر (۹.n)، p۱۱۱F، د شمالي افريقا په درې هيوادونو كې، مراكش د اساسي قانون په بياكتنې كې تر ټولو وړاندې دى، په داسې حال كې چې په الجزاير او تونس كې معتدل حالت لري.

۱۳ ګنيبرګ (n۱۲)، ۱- ۳ مخ.

تفسیر په اړه د ژوندیو بحثونو له رامنځ ته کېدو څخه مخنیوی وشي. د دې پرځای چې د اساسي قانون ابهام په خپله د اساسي قانون په اساس حل شي، افغاني قاضیان حنفي منابعو ته د دې لپاره مراجعه کوي، چې ډېر منعطف او وسعت لري. د دې خبرې معنا دا ده، چې افغان قاضیان ښایي د اساسي قانون په پرتله د نورو وضعي قوانینو په تفسیر او تعبیر کې پخپله د دغو قوانینو له احکامو ګټه واخلي. البته دا خبره هم جوته ده، چې په اسلام کې د اساسي قوانینو دود نشته، نو ځکه ټول د شریعت درناوی کوي.

په افغانستان کې د ۱۹۶۴ ز. کال د اساسي قانون له مخې، د لومړي ځل لپاره یوه خپلواکه ستره محکمه رامنځ ته شوه. د «دموکراسی د دوران» لنډې مودې، چې ۹ کاله یې دوام وکړ، قضایي اصلاح ته پاملرنه زیاته کړه. لومړۍ ستره محکمه (SC)، په انتقالي دوره کې (د اساسي قانون د ۱۲۵ مې مادې له مخې) پر ۱۹۶۷ ز. کال په کار پیل وکړ، په جدي توګه یې خپله خپلواکه ونډه پر غاړه واخیسته او د موجوده قوانینو او اساسي قانون ترمنځ د تطابق ډېرې پوښتنې یې تر غور لاندې ونیولې. SC د دې کار لپاره د لوړو کچو قاضیانو ته پیاوړي قضایي سیمینارونه[۱۴] جوړ کړل، د سیمینار پرېکړه لیکونه یې د قضایي متحد المالنو له لارې د معلوماتو او عملي کېدو لپاره ټولو محکموته ولېږل او لیکلي لارښوونې (قواعد) یې ترتیب کړې، ترڅو د محکمو چارې تنظیم شي. په پایله کې د یادو متحد المالونو او قواعدو یوه سلسله د سترې محکمې له خوا صادره شوه. په دې قواعدو کې ډېره تفصیلي قاعده «د جزایي موضوعاتو لپاره لارښود قواعد» دي، چې ۲۱ مادې لري. دا او داسې نور قواعد په رسمي جریده کې تر خپرېدو وروسته نافذ بدل[۱۵]. زیاتره دغه قواعد او طرزالعملونو د اساسي قانون د (۲۹) او (۱۰۲) مادو له مخې د حنفي مذهب د فقه پر اساس جوړ شوي وو. باید یادونه وشي، چې دغه دوره پر ۱۹۷۲ ز. کال له مدني قانون (۲۵۰۰ مادې) او جزاء قانون (تر ۵۰ ډېرې مادې) څخه وروسته، پیل شوه. داسې معلومېږي، چې ځینې دغه اقدامات پر دې سربېره، چې د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون په اړه یې چوپتیا غوره کړې وه.

لکه څرنګه چې په راتلونکو برخو کې به ترې یادونه وشي، د اساسي قانون بیاکتنې ته اشاره کوي. له یو بل سره د فقه د لارښودو کتابونو توپیروالي، له پخوا راهیسې د افغانستان د محکمو لپاره یوه مسئله وه. دغه حقیقت ته په پاملرنې سره، چې په حنفي مکتب کې مختلفې نظریې وجود لري، دغه چاره له یوې خوا په محکمو کې د اجرااتو د توپیر او له بلې خوا د حنفي فقه د ورتیا په اړه، په اساسي قانون کې ستونزې رامنځ ته کړې وې.

د ولایتی محکمو د رییسانو په دویم قضایي سیمینار کې د سترې محکمې رئیس، پروفیسر ضیایي پر ۱۳۵۰ ز. کال پخپله پرانېستونکې وینا کې ووېل، چې د اساسي قانون له (۱۰۴ مې) مادې سره سم دې د قضایي جریان یووالي، د سیمینار له اساسي موخو څخه وګڼل شي. هغه زیاته کړه، چې د نوي اساسي قانون په رڼا کې "له قانون څخه زموږ پوهاوی تغییر کړی. ځینې ډېرې مهمې مسئلې د ۱۳۴۷/ ۱۹۲۸ کال په لومړي سیمینار کې حل شوې، خو تراوسه د محکمو په جریان کې توپیر او اختلاف شته".

هغه د فقه او قانون د تطبیق په تړاو پر یو واحد او د باور وړ قضایي تعامل باندې ټینګار وکړ. دا مهمه وه، چې د محکمې جریان او پرېکړې په ورته پېښو کې دوامدارې وي.[۱۶] "په حنفي فقه کې د مسئلو د توپیر په اړه د سترې محکمې رئیس د ماخذونو او مراجعو پر یووالي ټینګار درلود. د فقه په منابعو کې د راجح شوو او موافقه شوو (مفتی بها) موقفونو او مراجعو پر یووالي ټینګار درلود. د فقه ډېر لارښود کتابونه په عربي ژبه وو او زموږ په منابعو کې یې ژباړه هم موجوده نه وه، له همدې امله، SC هڅه وکړه هدایه [المرغیناني]، او د معلوماتو لارښوونه یې په شپږو میاشتو کې په شپږو ټوکونو کې د الاتاسی السوري په وسیله وژباړې. لومړی او شپږم ټوکونه یې په دري وژباړل شول او د نورو څلورو ټوکونو کار جریان درلود، چې عمده تکیه یې د (اوتامن) پر مجلة الاحکام[۱۷] وه.

دا لاندې مطالب مرسته کوي، هغه بنسټونه، چې د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون یې د نورو قوانینو د تشو د ډکولو او همدا ډول له اساسي قانون سره د قانون او حنفي فقه د تطابق په برخه کې، کار وکړ او بریالی شول، توضیح کړي.

۱. "په مدني حقوقي پېښو کې د قضایي احکامو بې اغیزې کول" (د قضایي حقوقي پېښو په اړه مربوطه قواعد) په اوو مادو کې تشریح شوي دي. په لنډه توګه، ویل شوي، چې د جزایي قضیو (پېښو) باطلول د جزایي طرزالعملونو د ۱۹۲۵ کال قانون (د جزایي اجرااتو قانون ۱۳۴۴) له خوا ترسره کېږي، خو ورته لارښوونې د مدني دعواو لپاره هم ضرورت ګڼل کېدې. موجوده قوانینو دغه

---

۱۴ دوېیم سیمینار، چې د وخت د سترې محکمې د رئیس، پروفیسور ډاکتر عبدالحکیم ضیایي له خوا پرانېستل شو، د ۱۳۵۰/ ۱۹۷۱ کال د تلي او لړم په میاشتو کې د ۱۹ ورځو لپاره دوام وموند. د سیمینار د پرېکړه لیکونو کره کتنه ښیي، چې په یادو سیمینارونو کې د ډېرو مهمو قضایي ستونزو په حلولو کې پرمختګ شوي وو. د نورو معلوماتو لپاره د قضاء (د SC ژورنال) فوق العاده (خاصه ګڼه)، د ولایتي محکمو د رییسانو دویم سمینار، ۱۳۵۰، ۷۰ مخ وګورئ.

۱۵ د متحد المالونو او قواعدو بشپړې ټولګې په دریو ګڼو کې، چې له ۱۳۲۴ څخه د ۱۳۵۰ (۱۹۲۷- ۱۹۷۱) کلونو پورې د انکشاف په اړه دي، په دریو ټوکو کې چاپ شوي دي.

۱۲ د ولایتي محکمو د رئیسانو په دویم سمینار کې د سترې محکمې د رئیس، ضیایي له پرانسیتونکی وینا څخه، قضا (د SC ژورنال، هماغه ځای؛ ۴.

۱۷ هماغه ځای، ۵ مخ.

موضوع نه وه حل کړې که څه هم حنفي فقه ځينې قواعد وړاندې کول، چې په هماغه وخت کې بايد د تنفيذ لپاره وړاندې شوي واى. ځکه چې په قانون کې يوې تشې وجود درلودې، په دې توګه د اساسي قانون له (۱۰۲) مادې سره سم حنفي فقه د عمل وړ وګرځيد.

واقعي قوانين، قضايي حکم په لاندې مواردو کې باطل اعلانوي، ۱) کله چې د يوه اعتباري او قانوني قضايي حکم اساسي عناصر شتون و نه لري، لکه په يوې قضيې کې د دعوې يوه خوا يا وړ قاضي حاضر نه وي؛ ۲) کله چې د دعوې يو لورى د لږ عمر خاوند وي او د دعوې وړتيا و نه لري؛ ۳) کله چې اصلي موضوع د ثبوت وړ نه وي، خو قضاوت صورت موندلى وي او داسې نور. کامل متن په دې يادښت سره خاتمه پيدا کوي: "دغه قواعد/ قوانين د قضايي عالي شورا د تصويب تابع دى، او يوه مياشت تر هغه وروسته چې په رسمي جريده کې نشر شي، نافذ ګڼل کېږي". [۱۸]

۲.هغه قوانين، چې د مدني دعواوو په پېښو کې غيابي قضاوت کوي (په حقوقي قضيو کې په غيابي احکامو پورې اړوندو قواعدو) په اړه هم د دويم سيمينار له خوا د قوانينو يوه سلسله، چې ۲۸ مادې يې لرلې، تصويب شوې. يوځل بيا د غيابي قضاوت لپاره اساسي موقف د نافذ قانون نشتوالى دى، چې په هغه صورت کې حنفي فقه د اساسي قانون د (۱۰۲ مې) مادې پر اساس د تطبيق وړ ده. په لنډه توګه، حنفي فقه د دعوې د يوې خوا په غياب کې د قضاوت صدور ته اجازه نه ورکوي، خو دا استثناء په هغو حالاتو کې دا چاره ممکنه ده، چې مدعي و نه غواړي، د محکمې غونډې ته حاضر شي. که چيرې د حضور لپاره د منلو وړ عذر موجود نه وي، محکمه بايد هرو مرو نوموړى شخص درې ځلې راوغواړي که بيا هم حاضر نه شو، نو محکمه کولى شي، حکم صادر کړي. د يوې خوا او يا دواړو خواوو د شکايت يا دعوې تر وړاندې کېدو وروسته او يا د شاهدانو تر وړاندې کولو او داسې نورو څخه مخکې يا وروسته، د يوه طرف يا د هغوى د وکيل د نه حاضرېدو په صورت کې، د محاکمې واقعي مراحل ډېر تفصيل لري. تفصيلي قوانين يوځل بيا د يو يادښت له لارې پاى ته رسېږي، چې د قضاء د عالي شورا له خوا تصويب او په رسمي جريده کې چاپ شي. [۱۹]

د اساسي قانون له ۱۰۲ مې مادې سره سم د ځو سيمينارونو پرېکړه ليکونه د ملکيت پر سر د اختلافونو په اړه، کله چې د محکمې د قضاوت تطبيق ستونزمن ښکاربده، تعقيب شول. د بېلګې په توګه که د ځمکې د ملکيت مشخصات، چې د قضاء په محکمې کې ثبت شوي وي، د تنفيذ پرمهال له هغه ثبت شوي ملکيت سره په بنيادى توګه فرق پيدا کړي، دغه وضعيت د قوانينو د نهو مادو تابع ګڼل کېږي. [۲۰]

په داسې حال کې، چې پورته ۱ او ۲ متنونه په موجودو قوانينو کې د تشو د ډکولو لپاره دي، کېداى شي راتلونکى مثال د اساسي قانون يوه پرځاى بياکتنه وګڼل شي. دغه موضوع د قاچاقي توکو د مخنيوي په اړه د وخت د ګمرکي قواعدو (د ۱۳۱۷ / ۱۹۳۸ د قاچاقو د انسداد له لايحې) سره ورته والى لري. SC حکم صادر کړ، چې ياد قواعد د اساسي قانون د (۲۹) مادې غوښتنې پرځاى کولى نه شي، نو په دې توګه بې اعتباره ګڼل کېږي. (۲۹) مه ماده، "د پارلمان د دواړو جرګو فيصله، چې پاچا توشيح کړې وي" قانون ګڼي. له هغه ځايه چې ياد مقرراتو او قواعدو دغه پړاوونه نه وهلي، نو بې اعتباره وګڼل شول. په دې توګه SC د ګمرک قانون (د ۱۳۱۳/ ۱۹۳۴ د ګمرکاتو اصولنامې) او نورو موجوده قوانينو ته، چې نافذ پاتې وو، مراجعه وکړه[۲۱]. په يوه اړوند قضايي متحد المال کې SC د يوې پوښتنې په ځواب، چې ايا د مشخصو کورونو د لټولو په ډول، د موټرو تلاشۍ او لټول هم قضايي حکم ته اړتيا لري، وويل، د موټرو د تلاشۍ لپاره قضايي حکم ته اړتيا نشته او دغه ډول تلاشۍ په محل کې د ادارې د مشر په امر سرته رسېدلى شي. [۲۲]

د محجورو پوروړو د محجوريت په اړه چې نه غواړي، خپل پور اداء کړي، د SC مقرراتو په ۲۲ ماده کې (د مديون د حجر په اړه او د هغه له خوا د پور له ادا کولو څخه د امتناع قواعد) يوه بېلګه ښيي، چې له اساسي قانون سره د حکومت د اجرااتو او د حنفي فقه د قواعدو د تطابق په اړه د بياکتنې غوښتنه کوي. حنفي فقه د هغه پوروړي، چې د پور د اداء کولو توان لري، خو خپل پور نه اداء کوي، له دغه عمل څخه يې د مخنيوي لپاره د بندي کولو اجازه ورکوي- هغه عمل، چې د اساسي قانون له پلوه د قانوني اختياراتو له حدودو څخه بهر دى. تر کتنې لاندې مقررات د اساسي قانون د (۲۲ مې مادې، پر۱۴ بند) استناد کوي، چې داسې وايي: "له يوه چا څخه د چا پوروړتوب د دې لامل نه ګرځي، چې له آزادۍ څخه بې برخې شي. د پور د بېرته ترلاسه کولو طريقه بايد د قانون له خوا تنظيم شي". خو د دغو حقونو د ترلاسه کولو لپاره له ځو طرزالعملونو پرته چې د (حقونو د تحصيل د لايحې) په نامه يادېدل او هغه هم زاړه شوي وو،

۱۸ قضاء "فوق العاده ګڼه،" ۱۲ مه کې.

۱۹ هماغه ځاى، په ۲۸ کې.

۲۰ هماغه ځاى، ۲۹- ۳۲ مخونه.

۲۱ د ۲۹، ه، ۱۳۴۷/ ۱۹۶۷ نېټې، ۳۳۲۷ شميره متحد المال د محمد عثمان ژوبل (راټولونکى)، په محکمو پورې تړلې اداري او قضايي متحد المالونو مجموعه، لومړى ټوک ، ۲ مه برخه، ۱۳۶۴ او ۱۳۴۷ کلونه، کابل ستره محکمه، ۱۳۵۰ (۱۹۱۷)، ۱۲۲ مخ.

۲۲ قضايي متحد المال، شميره ۴۲۷۷، هماغه ځاى، ۱۴۳ مخ.

کوم قانون موجود نه و، چې د اساسي قانون غوښتنې پرځای کړي، نو حنفي فقه، که څه هم هغه پخپله له اساسي قانون سره ډېر ورته والی نه درلود، د تطبیق وړ وګڼل شو. له هغه راهیسې، چې نوي مقررات دود شول، د لنډ مهال لپاره دغه تشه ډکه شوه. واقعي مقررات د پور د ادا کولو وړ او نه وړ پورورو له تعریفونو، له نورو څخه د ځېنو پورونو

لومړیتوب، څنګه او څه وخت به محکمه د پوروړي د شتمنیو د خرڅېدو حکم کوي او داسې نورو څخه راپیل شوي وو، چې په هغو کې د بندي کیدو په اړه هېڅ یادونه شوې نه وه. ۲۳

په یوه ۱۷ فقره ییز قضایي متحد المال کې، SC ډېرې مسلې حل کړې دي، چې په دې لاندې ټکو سره پیلېږي او زه یې دلته لنډیز وړاندې کوم:ټولو محکمو ته ویل شوي وو، هغه دعوې او اختلافونه، چې دوی ته راجع کېږي، د هغو قوانینو پر بنسټ حل کړي، چې له اساسي قانون سره تناقض و نه لري. په همدې توګه، د هغو پېښو په تړاو، چې محکمې ته د قضاء د لوړ پوړو چارواکو له خوا حکمونه راتلل او قاضي باور درلود، چې دغه حکمونه له قانون او شریعت سره مخالف دي، قاضي ته هدایت ورکړ شوی و، چې د محکمې جریان ودروي او د نورو لارښوونو د ترلاسه کولو په خاطر موضوع په لیکلي ډول سترې محکمې ته وړاندې کړي. ۲۴

په دې اړه د اساسي قانون پر ۱۲۸ مې مادې باندې استناد کېده [له اساسي قانون وروسته هغه قوانین، چې نافذ دي، په دې شرط د اعتبار وړ دی، چې له اساسي قانون سره تناقض ونه لري]، او البته دا حقیقت هم د یادولو ده، چې کله SC د محکمو د تشکیل او د قانوني واک حدود، (د قضاء د صلاحیت او تشکیلاتو قانون) جوړاوه، په دې اړه له ټولو قاضیانو څخه غوښتل شوي و، چې SC ته خپلې نظریې او وړاندیزونه وړاندې کړي. ۲۵

په یو بل قضایي متحد المال (ګڼه: ۹۵۹، نیټه: ۱۹۲۸/۱۸.۲.۱۳۴۷) کې SC په قانون یا حنفي فقه کې د ابهام د حل لپاره د یو ځانګړي طرزالعمل وړاندیز کړی دی. د پخوانیو تجربو پر بنسټ، SC خپله اندېښنه داسې څرګنده کړې، چې د اساسي قانون (۱۰۲ مه) ماده باید د محکمې په چارو کې د ځنډ لپاره د بهانې په توګه استعمال نه شي. ۲۶

تر ۱۹۲۴ ز. کال پخوا وختونه د دې ښودنه کوي، چې قاضیانو (او قضاء) ته ډېرې پاملرنې نه کېدې. پخوا به حقوقي مشورې او لارښوونې د عدلیې وزارت له علمي انجمن څخه ترلاسه کېدې؛ وروسته د وزارت د قضایي فتواګانو او بیا وروسته د SC د څېړنې د څانګې له خوا سرته رسیدلې. قاضیانو ته ویل شوي و، چې هغوی دې لومړی په موجودو قوانینو او حنفي منابعو کې د اساسي قانون د (۱۰۲ مې) مادې په رڼا کې څېړنې ترسره کړي. هغوی کولای شي، د اړتیا په صورت کې له سیمه ییزو علماوو څخه مشوره واخلي. د دې پرځای، چې د پېښو او قضیو لپاره د څېړنو له لارې حل لارې ولټول شي، محکمو زیاتره هڅه کوله، چې د لارښوونې لپاره SC ته "د ځنډولو او د قضایي مسئلو په اړه د صحیح قانوني موقف نیولو لپاره د وخت پیدا کولو د تکتیک په توګه" راجع کړي. "دغه کار د SC د څېړنې څانګې د کار حجم خورا زیات کړ او ځینې وختونه به ۳۰ یا ۴۰ دوسیې د څېړنې لپاره پرتې وې، چې د دوسیو د لا ډېر ځنډ لامل کیده" ۲۷ د دې لپاره و، چې د لاندې جریان لپاره، دغو اجرائیوي لارښوونو وجود درلود:

کله چې محکمې د موجودو قوانینو د موادو ترمنځ د تناقض او بشپړ ابهام له ستونزو سره مخامخېدې، هغوی اړ وو، چې خپله غوښتنه SC ته په دریو برخو کې وړاندې کړي. لومړی، د قضیې او رامنځ ته شوې ستونزې پوره توضیح ، دویم) د حل بشپړې لارې، چې د قانون او حنفي فقه د څېړنو پایلې وې او مرکز ته را رسیدلې وي؛ او دریيم) که چیرې شتون ولري، ټول ضمیمه اسناد او دا چې تفسیر ته اړ ابهام، په دقیقه توګه څه شي ده. د ولسوالۍ محکمې باید د خپل اړوند ولایت له ولایتي محکمې څخه د لارښوونې غوښتونکي شي او که چیرې ولایتي محکمه لازمه وګڼي، کېدای شي موضوع د قضا عالي شورا ته وړاندې شي ۲۸.

---

۲۳ د مدیون د حجر او د هغه له خوا د پور د نه ادا کولو په اړه قواعد ، فوق العاده شمیره ، د ولایتی محکمو د رییسانو دوهم سیمینار،۱۳۵۰، ۳۲-۴۲ په ۳۲-۳۷ مخ کې

۲۴ د ۱۷/۹/۱۳۲۴ نیټی ۱۱۸۲ قضایي متحد المال د ۱۹۲۷ دسمبر د محمد عثمان ژوبل (ټولونکی) "په محاکمو پورې د ټړلو اداري او قضایي متحد المالونو مجموعه"، لومړی ټوک، ۲ مه برخه، په ۱۳۴۲ او ۱۳۴۷ کلونو پورې تړلې، کابل: ستره محکمه، ۱۳۵۰ (۱۹۷۱) ۴۵ مخ. راټولوونکی په سریزه کې لیکلي (۵ مخ) چې د دغو مجموعو (راټول شوي) درې ټوکه چې ۱۳۴۲- ۱۳۵۰ کلونه څیري، چاپ شوي دي. لومړی ټوک هغه کلونه تر پوښښ لاندې نیسي، چې SC (ستره محکمه) لاجوړه شوې نه وه.

۲۵ هماغه ځای، ۴۴ مخ.

۲۶ هماغه ځای، ۷۸ مخ.

۲۷ هماغه ځای، ۷۹ مخ.

۲۸ هماغه ځای، ۷۸ مخ: او بیا زیاته شوې، که چیرې د SC د څیړنې څانګه ومومي، چې کیدای شوای موضوع د بشپړ تحقیق له لارې پخپله په اصلي محکمه کې حل شوی وای، او دا ډول هڅې په څیړنه کې د بی پروایی ښکارندویي کوي او په لوړه کچه او علمي معیار هڅې نه دي ترسره شوي او که چیرې دا ډول هڅې درې ځلې تکرارې شي، موضوع به د قاضیانو په سوانح کې ولیکل شي.

## ۳. د سپنتا قضیه او پایلې یې [۲۹]

د ولسي جرګې له خوا دوو وزیرانو، سپنتا او اکبر ته د نه باور رایې ورکولو تر وخت پورې د SC له خوا د اساسي قانون د بیاکتنې پوښتنې نه وې رامنځ ته شوې. دواړه وزیران د ۲۰۰۷ ز. کال د مې په میاشت کې د اساسي قانون د ۹۲ مادې پر بنسټ په ظاهر کې له ایران څخه د افغان کډوالو له ایستلو څخه د مخنیوې په چارو کې د نه بریالیتوب په ګناه ولسي جرګې ته استیضاح او تر پوښتنې لاندې ونیول شول. ولسي جرګې دواړو ته د نه باور رایه ورکړه، خو کله چې د سپنتا د رایو په صندوق کې د رایې دوه سپینې پاڼې پیدا شوې، داسې وګڼل شو، چې دغه رای ورکول به د سپنتا په ګټه تمام شوی وای که چیرې دغه سپینې رایه پاڼې هېڅ حساب شوي نه وای. په هر حال جرګې پرېکړه وکړه، چې په همدغې اوونۍ کې به دویم ځل رایه واخلي، د دویم ځل په رایه اخیستلو کې توازن د سپنتا په زیان تمام شو. د اساسي قانون ۹۲ مه ماده وایي، چې د وزیر پر ضد د نه باور رایه باید رڼه، مستقیمه او د قانع کوونکو دلیلونو پر بنسټ ولاړه وي، که نه نو د رایې اخیستلو پایلې به مشخصې و نه ګڼل شي. دغه مسئله چې د یادې پرېکړې لپاره قانع کوونکو دلیلونو وجود درلود او که څنګه، ولسي جرګې پرې بحث وکړ او په پای کې یې اعلان وکړ، چې د دغه وزیر نه بریالیتوب پوره قانع کوونکی وو. [۳۰]

جمهور رئیس کرزی د سپنتا په اړه دویمه رایه اخیستنه تر پوښتنې لاندې راوسته او موضوع یې SC ته له اساسي قانون سره د هغې د تطابق لپاره ولېږله. په عین حال کې، کرزی د بل وزیر ښاغلي اکبر په اړه د نه باور رایه ومنله. [۳۱]

سترې محکمې ځواب ورکړ، چې د نه باور رایه په قانع کوونکو دلیلونو ولاړه نه وه؛ نو ځکه د اساسي قانون له پلوه غیر قانوني ګڼل کېږي. په پایله کې سپنتا ته اجازه ورکړل شوه، چې خپلې دندې ته دوام ورکړي. [۳۲] په عین حال کې وویل شو، چې د افغاني کډوالو د اخراج ممانعت د وزیر تر کنټرول لاندې نه وه، له بلې خوا په ۹۲ ماده کې د مشخصو ابهاماتو د شتوالي له امله دا هم روښانه نه وه، چې آیا سلب شوي وزیر ته باید اجازه ورکړل شي، پخپله دنده کې پاته شي، استعفاء وکړي یا یې کار پای ته ورسول شي.

د سپنتا پېښه په رسنیو کې ډېره اوږده شوه. عبدالرحمن شوکت د کرزي پرېکړه په دریو ټکو کې ترنیوکې لاندې ونیوله: د دوو وزیرانو په اړه دوه موقفونه؛ غیرمعمولي بېړه، چې د خپل وخت تر پوره کېدو مخکې (د ۹۴ مادې پر اساس ۱۵ ورځې) یې احساساتي غبرګون وښود؛ او د سترې محکمې دخیل کول. کرزی څرنګه کولای شي، خپله پرېکړه، چې یو وزیر موقوف او بل وزیر پخپل ځای کې وساتي په داسې حال کې چې دواړه په ورته موضوع کې تورن دي، توجیه کړي؟[۳۳] پرتو نادري په دې اړه یو مدني ټولنیز بحث پیل کړ او ویې ویل چې سپنتا باید په هماغه وخت او همالته موضوع ته د پای ټکی ایښې وای او استعفایې کړې وای، او یا د ولسي جرګې او مشرانو جرګې (MJ) یوه ګډه غونډه د کرزي په وړاندیز جوړه شوې وای او موضوع ته یې د حل لاره پیدا کړې وای. [۳۴]

په عین حال کې ویل کېدل، چې د کرزي له خوا SC ته د پېښې وړاندې کول، د SC او WJ د یو بل په وړاندې درول وو.[۳۵] ولسي جرګې (wj) ډېر قوي غبرګون وښود او ویې ویل، چې SC قانوني حق نه درلود، چې دا قضیه واوري، ځکه چې د اساسي قانون له (۱۲۱) مادې سره سم د کوم قانونیا قانوني سند تطابق یا نه تطابق مسله تر بحث لاندې نه وه، او ولسي جرګې د SC پرېکړه ونه منله. [۳۶] شوکت په

---

۲۹ دغه پېښه په پراخه توګه رسنیو ته راووته او هومره پراخه مطبوعاتي بڼه یې غوره کړه، چې په دننه او بهر کې د دغې ساده پوښتنې له چوکاټ څخه ووتله، له همدې امله د دې پېښې په اړه زما خبرې یوازې قضایي او د اساسي قانون په چوکاټ کې جنبه لري.

۳۰ د احمد هجرت عاصم "د ۱۳۸۲- ۲۰۰۴ اساسي قانون" وګورئ، ۱.

۳۱ محمد قاسم هاشمزی، "په افغانستان کې د قواوو تفکیک او د اساسي قانون د تفسیر ستونزه"، (The Separation of Powers and the Problem of Constitutional Interpretation in Afghanistan," in *Constitutionalism in Islamic Countries*) ګروت او رودر (N۹)، ۲۷۹ مخ. په لومړي دوره کې د سپنتا په اړه د نه باور رایې ۱۲۴ وې خو دغه شمیره په دویم ځل کې ۱۴۱ ته ورسیدې. د عبدالجمیل نعیمي، "ولسي جرګه او غیر مسلکي او غیر کارپوهه پرېکړې" وګورئ http://www.afghanasamai.com/afghanasamai8/New/Naimi.html, 7 July 2007 (لاسرسی ۲۲ مې ۲۰۱۴)، ۱.

۳۲ هاشمزی، "په افغانستان کې د قواوو تفکیک او د اساسي قانون د تفسیر ستونزه" (The Separation of Powers) ۲۸۰ مخ.

۳۳ عبدالرحمن سکوت "د پارلمان او سپنتا ترمنځ د لیوه او وري لوبه: ولې قانوني موضوعات ته سیاسي بڼه ورکول کېږي؟" http://www.ariaye.com/dari4/khabari/spanta.html (لاسرسی ۲۱ مې ۲۰۱۴). عبدالرحمن شوکت د افغانستان په چارو کې سیاسي مبصر دی، که څه هم ډېر مشهور نه ګڼل کېږي.

۳۴ پرتو نادري، "د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو مشورتي ناسته" د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي پر ۲۲ مه/ د ۲۰۰۷ کال د جون ۱۲مه، د افغانستان د مدني ټولنو اداره/ موسسه. http://www.acsf.af/index.php?option=com_content&view=article&id=445:2011-06-29-07-04-22&catid=13&Itemid=18, 12 June 2007 (لاسرسی ۱۹ مې ۲۰۱۴)، ۴.

۳۵ محمد قوي کوشان (د امید اونیزې مسوول مدیر)، داکتر شیر شاه یوسفزی (د افغانستان د چارو تحلیلګر) او بشیر بیژن (سیاسي مبصر) "ولسي جرګه: ستونزې او پایلې" د امید اونیزه، د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي ۱۱ مه ۱۴۱۵۷/ ۲۰۰۹ په http://dari.irib.ir/political/برنامه-سیاسی/افغانستان-امروز-نگاه-نو/item/۲۴۰۱-ولسی-جرگه-،-دستاوردها-و-چالش-ها, ۱۴ July 2009 (لاسرسی ۲۰ مارچ ۲۰۱۴).

۳۶ د نړیوال بحران ډله، افغانستان: د ۲۰۱۴ ز. کال د لیږد خوا ته اوږده او سخته لاره، (Afghanistan: The Long, Hard Road to the 2014 Transition) ایشیا راپور، (ګڼه ۲۳۶، http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/236-afghanistan-the-long-hard-road-to-the-2014-transition.aspx, 8 October 2012. د (لاسرسی د فبروری ۲۲ ، ۲۰۱۴)، ۱۴. دا هم زیاته شوې وه: "د رئیس جمهور کرزي حکومت اکثرا اساسي قانون ته درناوي له طالبانو او نورو شورشي ډلو سره د ملي مصالحې یو لوی شرط ګڼلې ده؛ خو په هر حال، اجراییه څانګې، څو څو ځلې داسې باور څرګند کړی دی، چې دوی تر اساسي قانون پورته دي...."

دې اړه د اعتبار وړ ملاحظه وړاندې کړې، چې "جمهور رئیس باید SC په دې موضوع کې ورګډه کړې نه وای، او پرځای یې باید د ولسي جرګې پرېکړه بې له ځنډه په کراری سره منلې وای." [۳۷]

پخواني جمهور رئیس برهان الدین په کابل کې له لیکوال سره په یوه ناسته کې (د ۲۰۰۸ ز. کال د اګست پر ۲۴ مه) وویل، چې سترې محکمې د ولسي جرګې د نه باور رایې په وړاندې کوم اعتراض نه درلود او آن تر دې چې له هغې سره یې موافقت هم کړی و، خو د جمهور رئیس د فشار له امله، چې غوښتل یې له هغې سره مخالفت وشي، همداسې وشول. مشاور وزیر اشرف رسولي او په کابل کې په یوه ورکشاپ کې ګډونوال (د ۲۰۰۸ ز. د اګست پر ۲۵ مه چې زه هم هلته حاضر وم) فکر کاوه، چې د نه باور رایه د WJ ځانګړی حق و او په دې برخه کې تفسیر یا قضایي مداخلې ته اړتیا نه وه موجوده. رسولي وایي داسې یوه موضوع نشته، چې حکومت ټینګار نه وي کړي چې رد دې شي.

دوو نوو نوښتونو د حل او بډمهاله لارې وړاندې کړې. یوه د SC غبرګون و، چې د ۲۰۰۵ ز. کال د محاکمو د تشکیل او صلاحیت موجود قانون (په تیره بیا ۲۴ مه ماده) یې په داسې توګه تعبیر شو، چې د SC موقف یې د اساسي قانون د تفسیر په اړه یو ځل بیا تایید کړ.[۳۸] دویم نوښت د اجراییه څانګې له خوا د قانون د مسودې په توګه د اساسي قانون د (۱۵۷) مادې پربنسټ وړاندې شو، چې ICSIC ته اجازه ورکوي، تقنیني مسوده "د جمهور رئیس تر توشیح مخکې" تر بیاکتنې لاندې ونیسي او تر دې مخکې، چې په قانون بدله شي، خپلې نظریې له اساسي قانون سره د مسودې د تطابق په تړاو وړاندې کړي. له ICSIC څخه هم تمه کېده، چې د "اساسي قانون او پخوانیو قوانینو د نه تطابق په پایله کې د رامنځته شویو لانجو" په اړه یې قانوني مشوره ورکړې وای.[۳۹] په هر حال کله چې هغه قانوني مسوده، ولسي جرګې ته وړاندې شوه، ولسي جرګې داسې یې تعدیل کړ، چې ICSIC ته صلاحیت ورکړل شي، چې اساسي قانون تفسیر کړي.

دغه دواړو نوښتونو یو بل بشپړول او له دغه پیچلې حالت څخه یې د وتلو ښه لار وړاندې کوله. هغوی غوښتل، چې یاد اختلاف ICSIC ته د "مجردې" بیاکتنې دنده ورکړي، په داسې حال کې، چې SC ته یې یوازې د یوې قضیې یا مسئلې د رامنځ ته کېدو په صورت کې، د "مشخصې" بیاکتنې صلاحیت ورکاوه.

د ۲۰۱۱ ز. کال د جون پر ۱۱مه د سپنتا د قضیې په څېر یوه بله قضیه، رامنځ ته شوه. کله چې ولسي جرګه له خوا لوی څارنوال محمد اسحق الکو، قاضی القضات عبدالسلام عظیمي او د CS له نهو قاضیانو څخه شپږو ته یې د نه باور رایه ورکړل شوه. دا قضیه د یوې ځانګړې محکمې د جوړولو تر پرېکړې وروسته رامنځته شوه، چې SC د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو د پراخو درغلیو په تړاو د ډېر شمېر شکایتونو د څېړلو لپاره جوړه کړې وه. خو کله چې یادې محکمې ۲۲ وکیلان بې صلاحیته اعلان کړل، ولسي جرګې په شو ورځو کې د همدغې محکمې مامورین د پوښتنو لپاره راوغوښتل او کله چې هغوی حاضر نه شول، نو ټولو ته یې د نه باور رایه ورکړه.[۴۰]

د ۲۰۱۳ ز. کال په فبرورۍ کې ولسي جرګې، د کورنیو چارو له وزیر مجتبی پتنګ څخه خپل باور، ظاهرا په هېواد کې د امنیتي حالت په خرابېدو کې د هغه د نه کفایت او همدا ډول په حساسو امنیتي ځوکیو کې د نالایقو کسانو د مقررولو په تور بېرته واخیست. ولسي جرګې پتنګ وروغوښت، پوښتنې یې ترې وکړې او پر ضد یې د نه باور رایه وکاروله. پتنګ موضوع له SC سره شریکه کړه، ترڅو معلومه شي، چې دا د نه باور رایه په دلیلونو ولاړه وه که نه. SC غوښتنه یې په دې خاطر ونه منله، چې باید د اجراییه قوې یا جمهور رئیس له خوا دوی ته راجع شي. داسې ښکاري، چې پتنګ موضوع تعقیب نه کړه او کرزي هم محمدعمر داوودزی یې پرځای مقرر کړ. ولسي جرګې همدغه نوي مقرري هم په یوه میاشته کې تایید کړه.[۴۱] له دې پرته چې وغواړو، تفصیل ته داخل شو، د رسنیو

---

۳۷ شوکت (n۳۳)، لومړی مخ.

۳۸ تر ۲۰۰۷ کال پورې عمومي تصور دا و، چې یوازې SC صلاحیت درلود، چې قانون تفسیر کړي. د بیلګې په توګه، کله چې پر ۲۰۰۵ کال کې څرګنده شوه، چې د ولسوالی د شوراګانو ټاکنې ترسره کېدای نه شي. او په دې ترتیب مشرانو جرګه نه شي جوړېدلې- ځکه چې د غړو یوه پر درېیمه برخه یې د ولسوالیو له شوراګانو څخه ده (د اساسي قانون ۸۴ مه ماده)- SC مشوره ورکړه، چې هره ولایتي شورا د یو غړي پرځای کولای شي دوه غړي مشرانو جرګې ته ولیږي، ترڅو چې د ولسوالۍ شوراګانې جوړې شي. همدې ته ورته کله چې د وزیرانو په تاییدولو کې په پارلماني رایو اړونده کلمه (اکثریت MOJARITY) په اړه پوښتنې رامنځ ته شوې، نو SC د اړتیا وړ تفسیر وړاندې کړ، چې دا د حاضرو غړو اکثریت دي. SC په عین حال کې یو بل تفسیر هم د ۱۲۱ مادې په مورد کې کړی او هلته یې د "هغوی" ضمیر داسې معنا کړي، چې د اساسي قانون تفسیر هم پکې شامل شي. نو ویلي شو، چې د تفسیر دا درې بیلګې د SC په ګټه یو ډول تقدم رامنځ ته کړی دي. دا د ډاکتر محمد قاسم هاشمزي، په کابل کې د یوه ورکشاپ ګډونوال نظر وو، چې ما هم د ۲۰۰۸ ز. کال د اګست پر ۲۵ مه پکې ګډون درلود. د ج. الکساندر تایر "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر وضعیت" (واشنګټن دی سی: د متحده ایالتونو د سولې ټولنه ۲۰۰۹)، ۳ مخ.

۳۹ جان دمپسي اوج. الکساندر تایر "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر د بحران د حل لار" (Resolving the Crisis over Constitutional Interpretation in Afghanistan) د USIP د سولې لنډیز، (واشنګټن دی سی: د متحده ایالتونو د سولې ټولنه، د مارچ ۲۰۰۴)، ۴ مخ.

۴۰ د تفصیل لپاره د نړیوال بحران ډله (n۳۲)، ۴ مخ، وګورئ.

۴۱ Amaj1TV, آماج -- رد صلاحیت مجتبی پتنگ، وزیر داخله افغانستان از سوی مجلس, http://www.youtube.com/watch?v=_1MI9Qhc804&hd=1, 22 July 2013 (لاسرسی ۲۰ می د ۲۰۱۴کال). په عین حال کې د خصوصي تماسونو له لارې د SC له اړوندو څانګو سره، خپل معلومات لا زيات کړئ.

دوه مبصرین، ولیزاده او شریفي، هم فکر کاوه، چې پتنګ په وزارت کې پخپلو چارو کې او آن تر دې چې پخوا هم کمزورې اداره درلوده، خو ورپسې یې پوښتنه وکړه: آیا داسې قضیې په هغه تاوتریخوالي پورې څه اړه لري، چې د وخته د دولت په ادارو (قواوو) کې شتون درلود. ۴۲

دې پوښتنې ته چې د نه باور رایې د "دلایلو او پرځایوالی" قاضي به څوک وي؟ یو باوري غبرګون ورکړ شوی دی: "ځکه چې د نه باور رایه په ټولیزه توګه سیاسي خصلت لري... د هېواد حقوق پوهان په دې اند دي، چې د خلکو استازي هغه کسان دي، چې تر ټولو ډېر ښه قضاوت کوي او هغوی باید هغه کسان وي، چې وواییي آیا د نه باور رایې دلایل قانع کوونکي دي او کنه". ۴۳

جمهور رئیس کرزی د ICSIC قانون په دې دلیل، چې د اساسي قانون له ۱۲۱، ۱۲۲ او ۱۵۷ مادو سره تناقض لري، رد کړ. د هغه عمده دلیلونه دا وو: الف). ۱۲۱ ماده SC ته د اساسي قانون د پراخې بیاکتنې صلاحیتونه ورکړي دي؛ او ب). (۱۵۷) ماده یوه څارونکې اداره غواړي، چې د اساسي قانون د تطبیق څارنه وکړي، نه داسې یوه اداره، چې تفسیر وکړي. دا یوه بااعتباره توضیح وه، خو بیا هم ولسي جرګې د ۲۰۰۸ ز. کال په اګست کې د کرزي ویتو رد کړه او د ICSIC قانون یې د دوه پر دریېم اکثریت سره پر نافذ شوي قانون بدل کړ (د ۹۴ مادې پر اساس). ۴۴د ICSIC نوی قانون وایي:

> کمېسیون د اساسي قانون د تفسیر په ګډون، د اساسي قانون د اغیزمن تطبیق لپاره، دا لاندې صلاحیتونه او مکلفیتونه د جمهور رئیس، ملي شورا، سترې محکمې او اجراییه قوې د غوښتنې پربنسټ لري (۸ مه ماده).

د ICSIC قانون ۹مې مادې د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون، د ټولټاکنو خپلواک کمېسیون او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون ته صلاحیت ورکړي وو، چې د تفسیر موضوعات کمېسیون ته وړاندې کړي.

خو په هر صورت دا روښانه نه وه، چې د اساسي قانون بیاکتنه په همغه ډول، چې ICSIC یې غوښتل، مشورتي وه یا الزامي. په دې قانون کې اساسي ستونزه دا وه، چې د SC له صلاحیت سره یې چې له اساسي قانون سره د نورو قوانینو تطابق وو، د اساسي قانون د ۱۲۱ مې مادې پر اساس تناقض موجود و.

په ۱۲۱ ماده کې د کلمو او جملو په استعمال کې یو ډول ځانګړی ابهام وجود لري، یاده ماده وایي: "له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محکمو په غوښتنه او د هغوی تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی" هغه کسان، چې باور لري، د اساسي قانون تفسیر د SC د صلاحیت په حدودو کې دی، داسې دلیل وړاندې کوي، چې د مادې په متن کې د "هغوی" ضمیر اساسي قانون ته هم شاملېږي. له ګرامري پلوه به دا ستونزمنه وي، چې ووایو په ۱۲۱ ماده کې د "هغوی" ضمیر په عین حال کې اساسي قانون ته هم شاملېږي. خو بیا هم که چیرې له ګرامر څخه هاخوا هم لاړ شو، او د مادې ټولې معنا او مقصد ته پام وکړو، ښایي دا به منطقي وي که ووایو، چې د اساسي قانون تفسیر د SC د صلاحیت په حدودو کې شامل دی.۴۵د تفسیر غوښتنه د ۱۲۱ مادې پراساس یوازې د حکومت یا محکمو له لارې کېدای شي، په یاده ماده کې داسې څه نشته، چې مدني ټولنې، مدافع وکیلان یا عامه خلک وکړای شي، دا ډول غوښتنې وکړي. باید په دې اړه یادونه وکړو، چې په ډېرو "مرکزي" ډوله د اساسي قانون بیاکتنو کې محکمو او د حکومت نورو څانګو ته لاسرسی او مراجعه محدوده ده، په داسې حال کې چې "ویشل شوي" سیستمونه د ښاریانو له خوا شخصي شکایتونه هم مني. له څېړنو د ترلاسه شوې پایلې لنډېز دا خبره څرګندوي، چې په اساسي قانون کې حقونه د تطبیق وړ دي. په لنډه توګه عامه لاسرسی، په عین حال کې کولای شي محکمې ته عام ملاتړ راجلب کړي، ځکه چې پرېکړې یې د وګړو د حقونو د ساتلو په اړه دي. په هر صورت، هر وګړي ته د دې

---

۴۲ "د داخله چارو د وزیر د صلاحیت د سلب په اړه د ټولنیزو شبکو په غبرګون" کې د شفیق ولیزاده او عبدالشکور شریفي نظریې وګورئ http://avapress.com/vdcc1xqm.2bqsi8laa2.html, 1 February 2012 (لاسرسی می ۲۲، ۲۰۱۴).

۴۳ "د داخله وزیر د استیضاح په اړه د کرزي غبرګون" د نامعلوم شخص له خوا د ۱۳۹۲ کال د اسد لومړی (د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۳ مه)

۴۴ د لیکوال په باور، دا په افغانستان کې لومړی ځل و، چې ولسي جرګې داسې یو قانون د رایو په دوه دریېمه تصویب کړ چې د دولت مشر ویتو کړي وو.

۴۵ د اساسي قانون په اړه په کابل کې په یوه ورکشاپ کې (د ۲۰۰۸ ز. کال د اګست ۲۴-۲۵) چې زه لیکوال هم د اساسي قانون د بیاکتنې کمېسیون له څو غړو سره هلته حاضر وم، د "هغوی" د ضمیر د ښکاره واردولو په اړه د اختلاف نظر موجود و. اشرف رسولي او حبیب الله غالب (د عدلیې پخوانی وزیر)نظر درلود، چې د ګرامر په اساس دغه ضمیر (د جمع غایب ضمیر) سم د لاسه د ۱۲۱ مادې د څلور نور نومونو پسې راځي. بیا وروسته "هغوی" راځي، چې کولای شي یوازې هغو نومونو ته راجع شي، چې ورپسې راځي، په تیره بیا کله چې پخواني او راتلونکي عناصر له یو بل سره مقابل هم وي. سرور دانش د CRC یو پخوانی غړی، هم فکر کاوه، چې ۱۲۱ ماده تر یوه حده په بیړه اضافه شوه او د جملې جوړښت ته ډېر پام نه دی شوی. محمد قاسم هاشمزی، د وخت د عدلیې وزیر مرستیال، داسې وویل، چې ددې مادې تسوید کوونکو، چې ټول ژوندي وو، غوښتل په یاده ماده کې د اساسي قانون د بیاکتنې موضوع ته ځای ورکړي او په دې توګه یې د SC د صلاحیت په حدودو کې راولي، رسولي او غالب په خپل ګرامري تحلیل کې رښتیني وو، خو زما باور دا دی، چې دانش او هاشمزي حق په جانب وو، چې "هغوی" له ګرامري پلوه "د اساسي قانون" ۱۲۱ ماده په متن کې شامل ګڼي، خو دقیق موقف دا دی، چې د اساسي قانون تفسیر په رښتینې توګه په SC پورې تعلق لري. دوه لومړني کسان، پر خپلو ګرامري تحلیل باندې تکیه کوي؛ په داسې حال کې چې دوه وروستني په دغه متن کې د مطلب او معنا پسې ګرځي.

اجازه ورکول، چې خپل شکایت محکمې ته وړاندې کړي، د محاکمو کار ډېروي، او د اساسي قانون محکمه مجبوره ده، چې کافي تشکیلات، مامورین او منشیان ولري، ترڅو د قضیو دغه جریان اداره کړي.[۴۲]

۱۵۷مه ماده هم ICSIC ته د اساسي قانون په تفسیر کې د ونډې ورکولو په اړه کومه اشاره نه لري. نو ځکه دغه ماده یوازې د "قانون د حکمونو پراساس" د یوه کمېسیون د "جوړېدو" او د جمهوررییس له خوا یې د غړو د ټاکلو په اړه خبرې کوي. هغه قوانین، چې پر اساس یې دغه دواړه اداري رامنځته شوي، ترڅو د لازمو تعدیلاتو پر اساس نوي شوي نه وي او ترڅو چې د ټولو د نظر په اتفاق د SC او ICSIC ترمنځ ونډه تشخیص شوې نه وي، داسې بریښي، چې د صلاحیت د حدودو په اړه اختلاف، سیستم له خنډ او ځنډ سره مخ کوي.[۴۷]

جمهور رئیس د اجراییه قوې مشر دی، خو هغه په عین حال کې د اساسي قانون پر بنسټ مسوولیت لري، چې د دولت دارګانونو ترمنځ ښې اړیکې رامنځ ته کړي. (۶۰ مه ماده وګورئ). ښه اداره باید د دې وړتیا ولري، چې په داسې حالتونو کې چې په قانون کې ابهام موجود وي، ورته د حل آسانې لارې ولټوي. په دې اړه د یادونې وړ ده، چې د اساسي قانون اسلامي تیوري د رهبرۍ درې بنسټیزې اړتیاوې جوتوي: پوهه، عدالت، او حکمت[۴۸]. په دې اړه یوه پوښتنه پیدا شوه، چې د لومړیو دوو په اجرا کې کېدای شي، درېیم خصوصیت هم استنتاج شي او ډېر وګڼل شي، خو ځواب دا و، چې حکمت ددماغ ځانګړې کیفیت دی، چې د دوو شیانو ترمنځ د انډول په پام کې نیولو سره د دې وړتیا لري، چې د نورو په کړنو او فکر کې د پیاوړتیا او کمزورتیا په اړه قضاوت کوي. حکمت په عین حال کې د اسلامي عامه قانون د دکتورین (قضایي پالیسي) او شرعي سیاستیو ضروري جزء دی. په دې توګه سیاست د حکومت مشرتابه ته صلاحیت ورکوي، چې د ښه حکومت کولو د ګټو لپاره، حتا د لنډ مهال لپاره له عادي قواعدو څخه تېر شي. اسلامي سیاسي لیکنې د ښو مشرانو مثالونه وړاندې کوي، چې شعوري قضاوتونه یې کړي دي او د عادي قواعدو په لاره نه دي تللي، خو په دې برخه کې یې لوړ نومونه ګټلي دي.[۴۹] حکمت او سیاست، ښه مشران په تیره بیا د دولت مشران مسوول ګڼي، چې د دولتي چارو ښه اداره دقضایي پالیسۍ او نوښتونو له لارې تامین کړي.

له CRC سره زما هغه بحثونه پوره په یاد دي، چې ICSIC مو د نوي اساسي قانون د تطبیق څارونکې اداره ګڼله، ترڅو د بن د جریان په تطبیق کې پر وخت وده او پرمختګ رامنځ ته شي. موږ د دغه حقیقت په اړه هم خبرې کولې، چې پخپله اساسي قانون (۱۵۷ ماده) د انتقالي حکومت دنده ګڼلې ده، چې یو شمېر تقنیني فرمانونه صادر کړي، چې دغه چاره د توجه وړ څارنه غواړي. دا خبره له دې حقیقت څخه هم معلومېږي، چې ICSIC په ۱۳ مه برخه کې، چې "انتقالي احکام" دي، په (۱۵۷) ماده کې یاده شوې، چې په واقعیت کې د دې موضوع د بیانولو لپاره مناسب ځای نه و. د دغو مواردو په اړه هېڅ ډول ابهام نشته. ابهام هغه وخت رامنځته شو، چې په لویه جرګه کې د مسودې هغه برخه، چې د اساسي قانون د محکمې په اړه وه، له منځه ولاړه او ورپسې په ناڅاپي توګه (۱۲۱) ماده زیاته شوه، چې تشه یې[۵۰] ډکه کړي. د دغې پوښتنې په وړاندې چې آیا (۶۴ مه) ماده، چې جمهور رئیس د اساسي قانون د تطبیق د څارنې لپاره توظیفوي، له (۱۵۷ مې) مادې سره مخالفت لري کنه؟ دا یوازې بیځایه ادعا ده، چې جمهور رئیس، چې د ICSIC د غړو مقرري تاییدوي، نو کولی شي، د خپل څارنې صلاحیت هم ICSICته ورکړي. دا ځکه چې (۶۴) ماده، عمومي خصلت لري، په داسې

۴۲ د تفصیل لپاره، کاترین ګلن باس او سوجیت چودری، د اساسي قانون د لیږد لپاره د NVU قانوني مرکز وګورئ: (Constitutional Review in New Democracy: Reporting International) د دموکراسۍ نړیوال راپور، لنډ پاڼه ۴۰، د ۲۰۱۳ کال سپتمبر، ۷-۸ مخونه په- http://democracy-reporting.org/files/dri-bp-40_en_constitutional_review_in_new_democracies_2013-09.pdf (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۴). کې وګورئ.

۴۷ د بحث لپاره، د نړیوال بحران ډله (n۳۲)، ۱۳ مخ وګورئ.

۴۸ د خلیفه د وړتیاوو په اړه د نور تفصیل لپاره، د ابوالحسن الموردي، کتاب الاحکام السلطانیه والولایت الدنیا، (بیروت، دارالکتب امیا، ۲۰۰۰)، ۲ مخ، وګورئ. ابویا لا الفرح، الاحکام السلطانیې ته هم مراجعه وکړئ. محمد حامد الفقیه، دویم ټوک، (قاهره: مصطفی البابي الحلبي، ۱۹۶۶)، ۲۵ مخ وګورئ.

۴۹ د بحث لپاره سیاست شرعیه، محمدهاشم کمالي، د شریعت قانون یوه معرفي، (Beyond the Shari’ah: An Analysis of Shari’ah-Oriented Policy (*Siyasah Shar’iyyah*)” in *Shari’ah Law: An Introduction*) (اکسفورد (U.K): د یوې نړۍ مطبعه، ۲۰۰۸)، ۲۲۵-مخونه ۴۲. CH۱۱: "له شریعت څخه هاخوا: د شریعت پراساس د پالیسۍ یو تحلیل (سیاست شریعه).

۵۰ د اساسي قانون وړاندیز شوې عالي محکمې د اساسي قانون په مسوده کې دا لاندې صلاحیتونه درلودل: ۱) له اساسي قانون سره د نورو قوانینو، تقنیني فرمانونو او نړیوالو تړونونو، د انطباق کتنه، ۲). د اساسي قانون، قوانینو او تقنیني فرمانونو تفسیر، ۳). د ټولټاکنو څارنه، او ۴). د جمهور رئیس تورنول (په مسوده کې ۱۴۶ مه او په همدې برخه کې ورپسې نورې مادې) دغه ټوله برخه په ظاهر کې په دې دلیل ایسته شوه، چې کېدای شي، د اساسي قانون محکمه د ایران ډول ساتونکو شورا باندې بدله شي او د اساسي قانون او د اسلام په اړه احکام او مادې د خپل سیاسي سیستم په ګټه وکاروي. دغه اندېښنې په عمده توګه د هغه وخت د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي رئیس دین محمد ګران، زلمي خلیلزاد (په هغه وخت کې د افغانستان لپاره د متحده ایالتونو د جمهور رئیس ځانګړې سلاکار) او لخدر ابراهیمي (په هغه وخت کې د UNAMA مشر) له خوا اظهار شوې. په هر حال د ویرې منبع معلومه نه وه، کله چې سرور دانش وویل، چې د ایران د ساتونکو شوراکومه محکمه نه، بلکې یوه سیاسي اداره ده، چې د فرانسې د اساسي قانون شورا ته ورته ده، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د وړاندیز شوي اساسي قانون له مخې، عالي محکمه یو قضایي ارګان وو. (د مولف له شخصي یادښتونو څخه: ګران او دانش په کابل کې د ۲۰۰۸ ز. کال د اګست میاشتې په یو ورکشاپ کې، چې د اساسي قانون لپاره جوړ شوی و، ګډون درلود، مولف هم په دغه ورکشاپ کې ګډون درلود. په عین حال کې د دمپسي او تیبر، "د بحران حل" (N۳۹)، ۱-۲ مخونه او الکساندر تیبر "د اساسي قانون د تفسیر وضعیت" ۵ مخ.

حال کې، چې (۱۵۷ ) مه ماده خاص خصوصیت لري. ۲۴ مه ماده په ۲۱ فقرو کې د جمهور رئیس د صلاحیت او مسوولیتونو په اړه خبرې کوي، په داسې حال کې، چې (۱۵۷) ماده یوازې د څارنې په اړه مطالب لري. بیځایه نه ده که دلته د اسلام له پلوه د قوانینو د تفسیر په اړه (د فقه اصول)، چې کله د "عام" او "خاص" ترمنځ اختلاف رامنځ ته شي، خاص، عام ورګنې.[51]

اصلي شک او تردید په (۱۵۷) ماده کې د "نظارت- په دري ژبه کې سرپرستي" د کلمې پر سر راولاړېږي، چې داسې وایي چې: "د څارنې خپلواک کمېسیون باید د قانون دتطبیق لپاره د قانون له احکامو سره سم جوړ شي". پوښتنه راپورته کېږي، چې آیا د اساسي قانون د تطبیق څارنه د تفسیر معنا هم ورکوي. د کابل د ۲۰۰۸ ز. کال په ورکشاپ کې، چې په اساسي قانون پورې اړوندو مسئلو لپاره جوړ شوی و، سرور دانش، د وخت د عدلیې وزارت مرستیال محمدقاسم هاشمزي، د SC د هغه وخت د څېړنې د څانګې آمر عبدالمالک کاموي، د کابل پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی رئیس دین محمد ګران او زه د دې نظریې ملاتړي وو، چې "پر تطبیق باندې څارنه" د اساسي قانون د تفسیر د صلاحیت په معنا نه ده. دانش د دې مسئلې په تړاو له (۲۴مې) مادې څخه د یو مثال په راوړلو سره ملاتړ وکړ، چې جمهور رئیس ته دنده سپاري، چې "د اساسي قانون له تطبیق څخه څارنه وکړي، (هغه جمله ده چې دلته په کار وړل شوې) دا ده "د اساسي قانون له اجراء څخه مراقبت وکړي" چې په ۱۵۷ ماده کې د (څارنې) سره مترادف ګڼل کېږي. آیا دا په دې معنا ده، چې جمهور رئیس هم کولای شي اساسي قانون تفسیر کړي؟ ځواب "نه" ده. موضوع په دې ځای کې هم عین شي ده: ICSIC ته یوه عملي دنده ورکړل شوې، چې هغه له تطبیق څخه نظارت وکړي،تفسیر بل شی دی.[52]

---

۵۱ د تفصیل لپاره د کمالي، د اسلامي قانون اصول وګورئ. ۱۵۳ - ۱۵۵ مخونه.

۵۲ په کابل کې د ۲۰۰۸ کال د اګست میاشتی په ورکشاپ کې د لیکوال شخصي یادښتونه.

## ۴. د نه باور رایه: یو پرتلیز تحلیل

د نه باور رایه هغه وسیله ده، چې د کنټرول او انډول لپاره د پارلمان له خوا د دولت د دوو نورو ارګانونو په وړاندې عملي کېږي. پارلمانونه په معمولي توګه د دې صلاحیت لري، چې د وزیرانو، د سترې محکمې لوړ پوړې قاضیان، د اساسي قانون په اړه د کمېسیونونو مشرانو او غړو او نورو لوړپوړو مامورینو مقرری تاییده کړي. پارلمان په عین حال کې د دموکراتیکو اساسي قوانینو پراساس صلاحیت لري، چې د جدي سرغړونو او غفلت کولو په صورت کې له دغو مامورینو څخه خپل تایید او باور بېرته واخلي. د انډول لپاره اجراییه قوې/ د دولت رئیس ته زیاتره د پارلمان د انحلال صلاحیت[۵۳]، د هغو تقنیني سندونو د ویټو (نه منلو) صلاحیت ورکول کېږي، چې پارلمان تیر کړي وي- البته دغه صلاحیتونه د خاصو شرایطو او طرزالعملونو پر بنسټ ورکول کېږي. خو بیا هم، پارلمان کولی شي، په مشخصو شرایطو کې، د رئیس جمهور ویټو (ردونه) په قاطع اکثریت سره رد کړي. SC، یا د اساسي قانون محکمه، پخپل وار صلاحیت لري، چې پر یوه قانون بیاکتنه وکړي او په ځینو شرایطو کې چې یو قانون، اساسي قانون نقض کړی وي، باطل یې اعلان کړي که څه هم دغه قانون په مناسبه توګه خپل پړاوونه وهلي وي. په دې توګه د دولت درې ارګانونه په معمولي توګه له یو بل څخه خپلواک دي، خو داسې لارې وجود لري چې په ادارو کې د یو بل اجراات کنټرول او انډول کړي، او تر یوې کچې له یو بل څخه تائید او ملاتړ وکړي. دا موضوع د دولت په عمده دندو او چارو کې د همغږۍ او ګډو موخو د تحقق تضمین کوي.

په دغه اساسي چوکاټ کې، ډول ډول هېوادونه او اساسي قوانین کولی شي د ادارو ترمنځ اړیکې د هغوی له ځانګړو اړتیاوو او طرزالعملونو سره سم نوې او ټینګې کړي. د بېلګې په توګه د مصر د ۱۹۷۱ ز. کال اساسي قانون د خلکو شورا (ولسي جرګې) ته صلاحیت ورکړی، چې خپل باور له صدراعظم، مرستیالانو یې، او له هر وزیر او مرستیالانو څخه یې بیرته واخلي که چیرې دغه حرکت د لږ تر لږه سلو غړو له خوا ملاتړ شي او وروسته د غوڅ اکثریت له خوا تصویب شي. د صدراعظم مرستیالان او وزیران که تر پوښتنې لاندې راشي باید خپلې استعفاوړاندې کړي، او صدراعظم باید خپله استعفاء جمهور رئیس ته وړاندې کړي (۱۲۷- ۱۲۹ مادې).

د ایران د اسلامي جمهوریت د ۱۹۷۹ ز. کال اساسي قانون (چې پر ۱۹۸۹ ز. بیا کتنه پرې وشوه) اسلامي مشورتي شورا ته واک ورکړی و، ترڅو د وزیرانو شورا، یا ځانګړی وزیر/وزیران تر پوښتنې لاندې ونیسي او که چیری لازمه وه، هغوی ته د نه باور رایه ورکړي "د وزیرانو شورا او هغه وزیر چې استیضاح شوی وي [وروسته] له کار څخه لیرې کېږي" او نشي کېدای، چې ژر د راتلونکې وزیرانو شورا غړی شي. (۸۹ ماده)

د اردن د ۱۹۵۴ ز. کال اساسي قانون له مخې (چې ۵۴ مه ماده یې په ۱/۱۰/۲۰۱۱ نېټه تعدیل شوه) د وزیرانو شورا یا یو وزیر ته د نه باور رایه په ولسي جرګه کې د لږ تر لږه لسو غړو په غوښته ترسره کېږي. که چیرې جرګې د وزیرانو شورا ته د جرګې د ټولو غړو په غوڅ اکثریت د نه باور رایه ورکړه، د وزیرانو شورا باید استعفاء ورکړي. که چیری د نه باور رایه یو وزیر ته ورکړل شي، نو هغه باید له خپلې دندې څخه استعفاء ورکړي.

د پاکستان د ۱۹۷۳ ز. کال اساسي قانون له مخې (چې پر ۱۹۸۵ ز. کال یې ۹۱ او ۹۵ مادو تغییر وکړ) کابینه، یوځای د دولت له وزیرانو سره د ملي شورا په وړاندې مسوولیت لري. که چېرې د ملي شورا د غړو لږ تر لږه ۲۰ غړې شورا ته د صدراعظم د راتګ او باور کولو په اړه له ملي شورا څخه د باور د اخیستلو پرېکړه وکړي، او هغه یې تر لاسه نه کړي، او یا کله چې ملی شورا د نه باور رایې په اړه غوڅ اکثریت وي، صدراعظم خپله استعفاء جمهور رئیس ته وړاندې کوي.[۵۴]

په افغانستان کې، د پارلمان له خوا د نه باور رایه، د هغې د عملي کېدو د طریقې په سبب، هم د ۲۰۰۴ ز. کال او هم د ۱۹۶۴ ز. کال په اساسي قوانینو کې، د بېلابېلو دلیلونو پراساس ستونزمنه ده. د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون روښانه درېځ درلود، چې د وخت نوې خو ډېرې غښتلې ولسي جرګې ته، نه یوازې د ځانګړو وزیرانو په وړاندې، بلکې د ټول حکومت په وړاندې د نه باور رایې صلاحیت ورکړي، چې په دواړو مواردو کې یې خپله اغیزه درلوده او وزیر یا حکومت اړ و، چې استعفاء وکړي (۹۱- ۹۴ مادې). د ۱۹۶۰ ز. کلونو ولسي جرګې په تېره بیا له خپل دغه صلاحیت څخه لویه او ډېره ګټه واخیسته، چې نتیجه یې د پنځو کلونو په لنډه موده کې د څلورو یو په بل پسې حکومتونو سقوط و. له پارلماني سیستم څخه ریاستي سیستم ته د تغییر ترڅنګ، همدغه عمده لامل و، چې CRC پر ۲۰۰۳ کال ټول حکومت ته د نه باور رایې د ورکولو ملاتړ و نه کړ او د یوه وزیر یا حکومت د غړي لپاره یې د نه باور رایه ومنله. که څه هم ډېرو عواملو شتون درلود، خو یو عامل، چې موږ د ۱۹۶۴ ز. کال په اساسي قانون کې د یوې مشخصې کمزورۍ په

---

**۵۳** د یادونې وړ ده، چې د افغانستان اوسنی قانون، جمهور رئیس/ اجراییه قوې ته د پارلمان د انحلال صلاحیت نه دی ورکړی. دا خبره د دې لپاره ده، چې اساسي قانون داسې مقتدر جمهور رئیس ټاکي، چې د ۱۹۶۴ ز. کال د اساسي قانون پربنسټ هم د باچا او هم د صدراعظم صلاحیتونه هغه ته ورکوي. هغه ته د پارلمان د انحلال د صلاحیت ورکول ددې معنا لري، چې ټول واک د اجراییه قوې په لاس کې دی.

**۵۴** د پاکستان اساسي قانون د ځانګړو وزیرانو په وړاندې د نه باور په اړه چوپ پاتې ده. په دې توګه معلومیږي، چې صدراعظم او د هغه کابینه مسئوله ده.

توګه درک کړه، هغه دا وه، چې د قواوو د تفکیک په اړه یې ډېر صراحت درلود، خو د دریو واړو ارګانونو ترمنځ یې د همغږۍ او کنترول او انډول لپاره کافي تضمین نه درلود. د ۱۹۶۴ ز. کال د اساسي قانون پارلمان کولای شوای، چې قاضي القضات او د CS قاضیان د ځانګړو طرزالعملونو پر اساس (۱۰۲ ماده) په دنده کې د اهمال او ښه نه اجراء په تور محکمې ته احضار کړي. د ۱۹۶۴ ز. کال د اساسي قانون SC (۹۷- ۱۰۷ مادې وګورئ) د دولت یو خپلواک ارګان و، خو په ځرګنده توګه یې ورته د اساسي قانون د تفسیر او بیاکتنې صلاحیت نه و ورکړی، ترڅو د یو قانون انطباق له اساسي قانون سره یقیني کړي. یوازې پاچا دا صلاحیت درلود، چې د دولت درې واړه ارګانونو ته حکم صادر کړي، او ان تردې چې پارلمان منحل کړي (۲۳ ماده). که چیرې پارلمان یا SC د اساسي قانون د یوې فقرې په اړه کوم خاص تفسیر وړاندې کړی وای، پاچا کولای شو، د هغه د تطبیق په اړه احکام صادر کړي. د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون ریاستي سیستم ومانه او په پایله کې یې د نه باور رایې د کارولو په تړاو د ۱۹۶۴ ز. کال اساسي قانون ستونزمنو او سختو مادو ته تغییر ورکړ. خو سره له دې بیا هم په متن کې ابهام له منځه نه ولاړ. (۹۲ مه) ماده وایي، چې ولسي جرګه کولای شي یو وزیر ور وغواړي او ترې پوښتنه وکړي، که چیرې د ولسي جرګې (۲۰) سلنه غړي د دې چارې غوښتونکي وي. که چیرې وزیر سم او د قناعت وړ توضیحات ور نه کړي، ولسي جرګه کولی شي په وړاندې یې په غوڅ اکثریت سره د نه باور رایه وکاروي، خو په دې شرط چې دلایل یې روښانه او قانع کوونکي وي.

## ۵. اسلام ته د اساسي قوانینو مراجعه

د ۱۹۸۰ ز. کال (د کارمل د دورې) له اساسي قانون پرته، په افغانستان کې ټول اساسي قوانین په عمده توګه اسلامي خصوصیت لري. د ۲۰۰۴ ز. کال په اساسي قانون کې لږ تر لږه ۱۷ ځلې اسلام ته د ملت د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې، د لومړۍ مادې په شمول، چې افغانستان یې اسلامي جمهوریت اعلان کړی، مراجعه کړې ده. (۲) مه ماده اسلام دولتي دین ګڼي او (۳) ماده وایي، چې هېڅ قانون د اسلام مقدس دین له "عقایدو او حکمونو" سره مخالف کیداي نه شي.[۵۵] د قضاء په څپرکي کې، (۱۳۰) مه ماده وایي، چې محکمې باید د قضیو په حل کې د اساسي قانون او نورو قوانینو احکام تطبیق کړي. که په یادو منابعو کې هېڅ داسې احکام پیدا نه شول، محکمه "باید د اساسي قانون پر بناء د حنفي مذهب پر اساس داسې یوه پرېکړه وکړي، چې عدالت په ډېره ښه ممکنه توګه تامین شي" (۱۳۱ مه) ماده په هغو قضیو کې، چې د اسلام د شیعه مذهب د پیروانو شخصي قضیې تر څېړنې لاندې نیسي، صلاحیت ورکوي، چې په دې برخه کې شیعه فقه تطبیق شي. (۱۴۹) ماده وایي، چې د اسلام په اړه "د دې قانون" احکام د بدلون وړ نه دي، په دې توګه اساسي قانون داسې اقدامات کړي، چې له مخې یې، اسلام د ملي هویت اساس او بنسټ ګڼل کېږي، چې دا په خپله د افغاني ټولنې د واقعیتونو منعکسوونکی دی.

د ۲۰۰۴ ز. کال په اساسي قانون کې په پراخه کچه د اسلام په حضور سربېره، دریمه ماده یې په صراحت سره وایي، هېڅ قانون نه شي کولی، د اسلام د اصولو مخالف وي. یاد شوی اساسي قانون د مصر د ۱۹۷۱، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ ز. اساسي قوانینو په شان نه دی، بلکې په مثبته توګه شریعت د قانون جوړونې د اساسي منبع په توګه پیژني. په عمل کې هم، د افغانستان قانوني سیستم په واقعیت کې دوه ګونی سیستم دی، چې په هغو قوانینو کې چې په شریعت پورې ډېره اړه نه لري، لکه د سوداګرۍ قانون، د اداري او مدني خدمتونو قوانین او داسې نور...په حقیقت کې په مستقیمه توګه یا د نورو هېوادونو د قوانینو له لارې- د مثال په توګه د ترکیې او مصر- چې پخپله تر یوې کچې پر نړیوالو حقوقي دودونو او په تېره بیا د فرانسې پر سیستم تکیه لري، له اروپایي سیستمونو څخه ګټه پورته کړې ده.

د اوسني اساسي قانون په (۱۳۰ مه) ماده کې، حنفي فقه ته مثبته مراجعه، په هغو مواردو پورې تړلې ده، چې نیمه- قضایي خصوصیت لري. دغه موضوع د ۱۹۲۴ ز. کال اساسي قانون (۲۹ مې مادې) ته ورته نه ده، چې حنفي فقه یې، په محکمې یا له محکمې څخه بهر، په هغه صورت کې چې په وضعي قوانینو کې هېڅ ډول لارښوونه شتون ونه لري، په هېواد کې د تطبیق وړ قانون ګاڼه. د ۱۹۲۴ ز. کال اساسي قانون (۱۰۲ ماده) اساسا د (۲۹) مادې متن او محتوا تکرار کړې دی، خو بیایې هم د محکمو په قضیو پورې تړلې ده. اوسنی اساسي قانون یوازې یو وار حنفي فقه ته په (۱۳۰ مه) ماده کې مراجعه کړې ده. د اوسني اساسي قانون ۹۴ مه ماده، چې د ۱۹۲۴ ز. اساسي قانون (۲۹) مادې ته ډېره نژدې ښکاري، حنفي فقه ته مراجعه له پامه غورځولې ده. د دې خبرې معنا داده، چې د ۲۰۰۴ ز. کال د اساسي قانون پر اساس حنفي فقه یوازې د محکمې په جریان کې مطرحه ده.

دا په دې معنا ده، چې د (۳) مې مادې په مغایره فقره کې هم د مغایرت مقصد، کله چې د ۱۹۲۴ ز. کال د اساسي قانون له ورته حکم سره پرتله شي، پراخ دی. په وروستي اساسي قانون کې ویل کېږي، چې قانون نه شي کولای د "اسلام د مقدس دین له اساسي اصولو سره مخالفت ولري" د دغو دواړو اساسي قوانینو (۲۴ مه ماده) هېڅ یوه یې هم په حقیقت کې د دغو جملو صریحه کارونه نه دې توضیح کړې، چې د پخوانیو تجربو پر اساس سخت دریځه محافظه کاران دې ته هڅوي، چې د فقه متمم تفصیلات پکې شامل کړي او بیا ادعاء وکړي، چې له اسلام سره مغایرت لري[۵۲]. داسې ښکاري، چې د اوسني اساسي قانون پر بنیاد دغه مغایرت، نه یوازې اساسي اصول، بلکې په حقیقت کې د اسلام ټول معتقدات او احکام په بر کې نیسي. معتقدات الهیاتي اصولو ته اشاره لري، په داسې حال کې چې احکام، چې حقوقي دلالت لري، په ټولنه کې د وګړو ورځني چلندونه او اړیکې تنظیموي. دغه د مغایرت د مادې پراخ مقصد، کله چې د "اسلامي جمهوریت" په توګه د دولت نوې دندې په پام کې ونیول شي، د لا نور انکشاف او د شرایطو د مشخصاتو یو قانع کوونکی قضیه رامنځ ته کوي، چې له قاضیانو او حقوق پوهانو سره د هغوی په کارونو کې مرسته کولای شي. داسې بریښي، چې د تشریحي یادښت، بشپړوونکی مهال ویش او با مسئولیته تفسیر لپاره د نورو څېړنو او لارښوونو د جوړولو اړتیا لیدل کېږي.

۵۵ د تفصیل لپاره د کمالي "اسلام او ښځې" وګورئ.(References to Islam and Women) ۲۸۰ ff کې پخپله د اساسي قانون عنوان "د افغاستان اساسي قانون" و، چې لویې جرګې ته وړاندې شو، خو په دې مرحله کې عنوان ته یې بدلون ور کړ شو او "د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون" نوم ورکړ شو. د فرید نظري "د افغانستان اساسي قانون ته یوه کره کتنه" ,http://www.kotiposti.net/msaleha/nai_4/sh6_18.html December 2006 (لاسرسی ۲۰۱۴ کال د مې ۱۱) وګورئ. هلته دا موضوع روښانه شوې ده، چې یو مسلمان رهبر، محسني کندهاري، په لویه جرګه کې ودرید او غږ یې کړ "هر څوک که مسلمان وي نو باید ودرېږي او خپل ملاتړ دې اعلان کړي، چې "دافغانستان جمهوریت" باید بدلون ومومي او "د افغانستان اسلامي جمهوریت!" ورته وویل شي.

۵۲ د ۱۹۲۴ ز. کال د اساسي قانون پراساس د غلطو ادعاګانو بیلګې د کمالي په "اسلام او ښځې" کې وګورئ.(References to Islam and Women) ۲۸۷ – مخ.

آیا دې فقرې په واقعیت کې عادلانه دی؟ په واشنګټن پوهنتون کې د حقوقو د پروفیسور مرستیال کلارک لومباردو، دغه پوښتنه او یو شمېر نورې پوښتنې مطرحې کړې دي، چې آیا قاضیان کولای شي له اسلام سره د تطابق لپاره قوانینو ته بیاکتنه وکړي او هغه قوانین، چې له اسلام سره پوره یو شان نه وي، لغو کولای شي؟ د اسلامي فقرو د تفسیر لپاره د دلایلو له کوم میتود څخه ګټه اخیستل کېدای شي. آیا څنګه کېدای شي، اسلامي احکام د دموکراسۍ او نړیوالو حقوقو له قانون سره همغږي شي؟ داسې څرګندېږي، او لومباردی هم په دی اړه کومه یقیني ادعا نه درلوده، خو بیایې هم لیکلي دي، چې "هېڅ افغاني محکمې تر نن پورې هېڅ قضیه ددغې مادې (حکم) (۳ مه ماده) د تفسیر له لارې نه ده فیصله کړې، په دې توګه موږ یقین نه لرو چې یاده ماده عادلانه وي". [۵۷] خو ویلی شو، چې دغه موضوع د لاندې دلیلونو پر بنسټ د حیرانتیا وړ نه ده. ۱). لومړی دا چې دا ممکنه نه ده، چې افغاني تقنیني ارګانونه داسې قانون تصویب کړي، چې د قرآن او حدیثو له روښانو حکمونو سره تناقض ولري. ۲). د اسلام د احکامو په اړه، چې پر قانوني تفسیر ولاړ دي (د بېلګې په توګه د فقه په اړه د اجتهادي لیکنو مجموعه) د صلاحیت د حدودو په نږدې هېڅ عمده مکتبونو کې، چې په پوره توګه ډول، ډول او مختلف دي، ډېره ستونزمنه ده، چې د متناقضو مادو د تطبیق لپاره ښکاره اساسات وړاندې شي. ډېر وختونه داسې راځي، چې قانون پوهان په یوه مشخصه قضیه کې له دوو تر اوو (۷) یا اتو (۸) مختلف تفسیرونه کړي، چې دغه موضوع په اړه یې پرېکنده پرېکړه تر یوه حده ستونزمنه کړې ده.

لومباردی زیاتوي: "داسې ښکاري، چې فقره په پای کې به د توجیه وړ وګڼل شي". خو که داسې وي، افغانان باید پرېکړه وکړي، چې کومه موسسه باید هرو مرو له شریعت سره متناقضې مادې تفسیر کړي. دلته باید ووایو، چې افغاني پوهان او قاضیان باور لري، چې (۳مه) ماده د توجیه وړ ده. په ځېنو اسلامي (او حنفي) هېوادونو لکه پاکستان او مصر کې قضایي بیاکتنه په داسې ډول شوې ده، چې نه یوازې له بشري حقونو څخه ملاتړ کوي، بلکې غواړي دا ډول ملاتړ د اسلام د قانون جزء وګڼي[۵۸].

په پاکستان کې د ۱۹۷۳ ز. کال اساسي قانون د شریعت د فدرال محکمې (FSC) له خوا د قوانینو اسلامي بیاکتنه روا ګڼي. په مصر کې، د اساسي قانون محکمه، منظمې محکمې لري، چې اسلامي بیاکتنه ترسره کوي. په هر صورت، په دواړو هېوادونو کې قانون جوړونه له اسلامي معیارونو سره سم ترسره کېږي، چې قاضیانو د دلایلو په راوړلو کې د یوه دوه ډوله میتود په جریان کې تشخیص کړي او په هغه کې یې د دودیز او نوی تفسیرعناصر سره یوځای کړي دي. په پرتلیزه توګه، داسې معلومېږي، چې مصر له پاکستان څخه په دې اړه ډېر بریالی ښکاري[۵۹].

په ایران کې ساتونکې شورا د ټولو تقنیني اسنادو، چې د پارلمان له خوا تصویب شوي هم وي، د جعفري فقه په اساس د بیاکتنې صلاحیت لري. د دغه ۱۲ کسیزې شورا نیمایي غړي پر فقه پوه کسان دي، چې ټول په جعفری فقه کې تخصص لري او نور شپږ کسان یې معاصر حقوق پوهان او قانون پوهان دي[۶۰]. هغوی ټول د ایران د مذهبي لارښود له خوا ټاکل کېږي. د ۱۹۷۹ ز. کال اساسي قانون ټولو قاضیانو ته لارښوونه کوي، هغه قوانین او مقررات، چې له شریعت سره مطابقت نه لري، تطبیق نه کړي، بلکې د خپل قضاوت په اجراء کې له ساتونکې شورا څخه هدایت واخلي. په داسې حال کې، چې په پاکستان کې، FSC د دولت د مشخصو ادارو په غوښتنه یا پخپله د محکمې له پرېکړې سره سم (اساسي قانون، ۲۰۳ ماده) له شریعت سره د قوانینو د انطباق بیاکتنه کوي، داسې معلومېږي، چې په ایران کې له شریعت سره د قوانینو انطباق پخپله سرته رسېږي که په هره مرحله کې یعنې د پارلمان تر تصویب مخکې یا وروسته، وي. [۶۱]

۵۷ کلارک، لومباردي، چې. د حقوقو د پروفیسور مرستیال او په نړیوالو اړیکو کې د پروفیسور ضمیمه مرستیال، د واشنګټن د حقوقو په مکتب کې ده، "په اسلامي بیاکتنه کې ستونزې او فرصتونه: د نورو اسلامي هېوادونو تجربې د افغانستان لپاره درسونه" (The Challenges and Opportunities of Islamic Review: Lessons for Afghanistan from the Experiences of Other Muslim Countries) د USIP حالت په اړه لیکنه، ۲۰۱۲، ۲ مخ. دغه لیکنه د افغانستان د قانون په اړه د هغه ورکشاپ له مخې شوې وه، چې د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په ۲۰- ۲۱ کې، جوړ شوی و.

۵۸ لومباردی، "په اسلامي بیاکتنه کې ستونزې او فرصتونه: د نورو اسلامي هېوادونو تجربې د افغانستان لپاره درسونه (The Challenges and Opportunities of Islamic Review) ، ۲ مخ.

۵۹ هماغه ځای، ۹- ۱۰ مخ.

۶۰ د ایران د اسلامي جمهوریت د ۱۹۷۹ ز. کال د اساسي قانون، (Constitution of the Islamic Republic of Iran) ۹۱ او ۹۴ مادې. د لومباردی، "په اسلامي بیاکتنه کې ستونزې او فرصتونه: د نورو اسلامي هېوادونو تجربې د افغانستان لپاره درسونه" (The Challenges and Opportunities of Islamic Review) ۴ مخ هم وګورئ.

۶۱ رامین س. مشتاقي، "اساسي قانون په اسلامي جمهوریت کې: د افغانستان د اساسي قانون اصول او د هغوی ترمنځ اختلاف" (Constitutionalism in an Islamic Republic: The Principles of the Afghan Constitution and the Conflict between Them," in *Constitutionalism in Islamic Countries*) رینر ګروت او تیلمان رودر (n۹) ۲۹۳- ۲۹۴ او ۷۰۳ مخ.

د ساتونکې شورا پر داسې یوې څواکمنې ادارې بدلې شوې، چې د ۱۹۸۹ ز. کال په اساسي قانون کې د بیاکتنې په لړ کې د مصلحت شورا (د عامه ګټو شورا) رامنځ ته شوه، چې د ساتونکې شورا ونډه یې کمه کړه. د مصلحت شورا، د ساتونکې شورا او پارلمان ترمنځ د احتمالی اختلاف په اړه حکمیت کوي[۲۲]. که چیرې ساتونکې شورا یوه تقنیني طرحه یا یو قانون له اسلامي اصولو یا اساسي قانون سره د نه انطباق په دلیل رد کړي، کېدای شي د تعدیل لپاره یې پارلمان ته ولیږي. په هر صورت، که چیرې پارلمان تعدیل ونه مني، موضوع د مصلحت شورا ته وړاندې کېږي، چې د ساتونکې شورا برعکس، کولای شي د غه اختلافي تقنیني سند، له دې پرته، چې ساتونکې شورا یا پارلمان ته یې راجع کړي، پخپله تعدیل کړي. [۲۳]

د ۱۹۷۰ ز. کلونو په بهیر کې په مصر او پاکستان کې د اسلامي خوځښتونو پیل، پر عامه نظرونو اغیزه وکړه، ترڅو پخپلو اساسي قوانینو کې شرعي فقرې شاملې کړي. په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ ز. کلونو کې د مصر او پاکستان محکمو د اسلامي قوانینو پر بیاکتنې کار پیل کړ. په دواړو هېوادونو کې محکمو دوه ډوله اسلامي قوانین سره جلا کړل ۱). هغه قوانین، چې د قرآن او حدیثو پر روښانه متنونو ولاړ دي؛ او ۲). هغه قوانین، چې د تفسیر او اجتهاد له لارې رامنځ ته شوي دي. د مصر او پاکستان محکمې دې پایلې ته ورسیدې، چې دوه مطرح شوي اسلامي اصول د اهمیت وړ دي: الف). دا چې مسلمانان د عدل پراساس عمل کوي، او ب). مسلمانان د عامه ګټو پر بنسټ عمل کوي. د اجتهادي قوانینو په اړه، نتیجه دا وه، چې فقه ته نژدې ټول قوانین په همدې ډلو کې راځي، او دولت هغه مهال حق لري، داسې قوانین عملي کړي، چې د فقه له اجتهادي قوانینو سره انطباق ونه لري، له مطرح شویو اسلامي اصولو سره ورته والی ولري او عدالت او عامه ګټې تامین کړي. په دواړو هېوادونو کې محکمو، په تېره بیا د خپل معاصر تفسیر له محتوا سره سم، د اسلامي عامه قانون د مفکورې شرعي سیاست ته هم مراجعه کړې ده. [۲۴]

د افغانستان د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون، د تقنیني اسنادو مخکنې او تر اجرا وړاندې بیاکتنه، روا ګڼي. په داسې حال کې، چې جمهور رئیس کولای شي، د قانون مسوده، کله چې یې د اساسي قانون له درېیمې مادې سره په تناقض کې ووینې، رد کړي، SC د ۱۲۱ مادې پر اساس کولای شي، له اساسي قانون سره سم د قوانینو بیاکتنه او له (۳ مې) مادې سره یې انطباق وڅېړي، ان کله چې قانون تنفیذ شي، هم کولی شي، له نظره یې تېر کړي. وضعیت تر هغه همداسې و، چې ولسي جرګې پر ۲۰۰۸ ز. کال د ICSIC له لانجو ډک قانون تصویب کړ. پخپله اساسي قانون د قانون پر بنسټ یوازې د ICSIC د کمېسیون تشکیل او جوړښت، له دې پرته، چې هغه ته د قضایي بیاکتنې صلاحیت ورکړي، منلی دی. په اساسي قانون یا بل هر قانون کې داسې احکام نشته، چې د (۱۲۱) مادې پر اساس د SC له خوا د قضایي بیاکتنې جریان او اغیز یې تنظیم کړي. داسې ښکاري، چې SC پخپله خپلې پرېکړې د (۱۲۱) مادې پر اساس په مشورتي شکل، نه په اجراییوی ډول، ترکتنې لاندې نیسي[۲۵]. په هر صورت، د اساسي قانون ۱۲۲ مه ماده وایي، چې د اساسي قانون له نافذېدو سره سم، ټول هغه قوانین، چې له اساسي قانون سره تناقض لري، خپل اعتبار له لاسه ورکوي. په همدې دلیل، SC کولای شي داسې یو قانون، چې له اساسي قانون سره تناقض ولري، باطل اعلان کړي[۲۶]. په هر حال، داسې تعامل، چې د SC اوسنۍ پرېکړې له (۱۲۲ مې) مادې څخه د احتمالي ګټې اخیستنې په اړه او دا چې څنګه له (۳ مې) مادې سره متقابل عمل وشي، وجود نه لري. په دې اړه د نورو څېړنو او لاڅېړونو د انکشاف لپاره امکانات شته.

۲۲ د ګروت او رودر، (n۹)، سریزه، ۹ مخ کې وګورئ.

۲۳ رینر ګروت، "د بنیادي کنترول موډلونه" (Models of Institutional Control)، د ګروت او رودر، مجموعه، (n۹) ۲۲۴ مخ.

۲۴ لومباردي، "په اسلامي بیاکتنه کې ستونزې او فرصتونه: د نورو اسلامي هېوادونو تجربې د افغانستان لپاره درسونه" (The Challenges and Opportunities of Islamic Review)، ۱۱-۱۲ مخونه.

۲۵ د پارلماني چارو وزیر ته د SC د ۱۲/۰۳/۱۳۸۲ (د ۲۰۰۲ کال د جون ۲ مه) نیټې له ۱۵۱۳

۲۶ . مشتاقي (n۲۲) ۲۹۴.مخ وګورئ.

## ۲. د قانون حاکمیت: ستونزې او هیلې

د قانون حاکمیت د اساسي قوانینو او د دموکراسۍ د معاصرو مفاهیمو اساس جوړوي او د حساب او ځواب ورکولو اړین شرط گڼل کېږي. د قانون حاکمیت، د قانون متابعت او د ټولو وگړو له خوا یې که حکومتي چارواکي یا رعیت دي، یوشان درناوي کولو په معنا ده. دا په عین حال کې د قانون په وړاندې، له هر ډول نژادي، ژبني، جنسیتي او مذهبي توپیر پرته، د برابروالي معنا ورکوي او حکومت هم ژمن دي، چې خپلې ټولې چارې له قانون سره سم تنظیم کړي[۲۷].

ای. وی. دسي د قانون حاکمیت دا ډول پېژني:

> هېڅ انسان د جزا مستحق نه دی. هېڅوک نه شي کولای بل څوک د قانون پر اساس له جسمي او مالي پلوه وځوروي، مگر د هغه قانون د حکم پر بنسټ، چې د جرم تر ارتکاب، مخکې نافذ شوی وي. په دې مفهوم د قانون حاکمیت د حکومت له هر ډول سیستم سره، چې پکې یو څو کسانو د پراخ قدرت په لرلو سره په استبدادي توگه حکومت کوي، مخالفت لري... او دا چې هېڅ انسان، د خپل مقام یا حالت له مخې تر قانون لوړ نه دی. [۲۸]

د افغانستان اساسي قانون په مقدمه کې خپله ستره موخه "د یوې مدني ټولنې جوړول، چې له ظلم، استبداد، تبعیض او تاوتریخوالي څخه پاکه او پر قانونیت، ټولنیز عدالت... " ولاړه وي، اعلان کړې ده. د دې خبرې تفصیلي بڼه په دویم فصل کې د خلکو د اساسي حقونو او وجایبو په برخه کې، په داسې حال کې چې د برابروالي په اړه، مشخصې مادې لري، وړاندې شوې ده. په دې توگه (۲۲ مه) ماده "د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر ډول تبعیض، او یا امتیاز" منع کوي. دا ماده له نورو احکامو سره یوځای د قانون د نقض په تور د جمهور رئیس، وزیرانو او د SC قاضیانو محکمې ته راکشول (په ترتیب سره ۶۹، ۷۸ او ۱۲۷ مادې)، د افغانستان له خوا د قانون د حاکمیت د ژمنو په لاره کې هېڅ شک نه پرېږدي[۲۹]. د (۱۲۱ مې) مادې پر اساس د قضایي بیاکتنې په تړاو د دولت ژمنې ښیي، چې قانون او نور وسایل، چې د هېواد د ژوند بنسټ تنظیموي، هرو مرو باید د اساسي قانون له اصولو سره سمون ولري.

(۶۹) ماده په داسې قاطع او څرگندې جملې پیلېږي، چې "جمهور رئیس د ملت او ولسي جرگې په وړاندې مسئول دی"، او ورپسې په تفصیل سره د جمهور رئیس د عزل طرزالعمل، که چیرې د بشر په وړاندې په جرمونو، خیانت او نورو جرایمو متهم شي، توضیح کوي. جریان په ولسي جرگه کې د یوې پر دریېمې برخې غړو له خوا پیلېږي او هغه وخت چې د غړو د دوه پر دریمې برخې له خوا تایید شي، ولسي جرگه د یوې میاشتې په موده کې لویه جرگه راغواړي. که چیرې لویې جرگې دغه تور تایید کړي، جمهور رئیس له کاره گوښه کېږي او محاکمه یې په ځانگړې محکمې کې ترسره کېږي.

په دې ډول، افغانستان ډېر سخت اړ دی، چې د قانون حاکمیت د خپل ټولنیز سیاسي ژوند پر حقیقت بدل کړي. پر دې سربیره، هېڅ متن، قانون یا اساسي قانون دغې موخې ته نه رسېږي ترڅو د هېواد مشران، دولتي مامورین، خصوصي سکتور او عام وگړي په دې برخه کې ټینگه اراده ونه لري، چې د قانون حاکمیت په رښتیني توگه د ورځني ژوند نه بېلیدونکي جزء وگرځوي. په خواشینۍ سره باید وویل شي، چې دا ستونزه تراوسه نه ده حل شوې "د قانون د حاکمیت په برخه کې د افغانستان حکومت خپلو خلکو ته پاتې راغلی او په دې برخه کې کې ناکام شوی دی" پورتنۍ جمله هغه پایله ده، چې د افغانستان په اړه د استانبول په نړیوال کنفرانس کې ترلاسه شوې ده. د دغه کنفرانس راپور زیاتوي، چې "د یوه موثر عادلانه سیستم نشتوالی هغه عام (ټولیز) شکایت دی، چې د کابل له حکومت څخه وجود لري". [۷۰]

د سپنتا قضیه هم، لکه چې مخکې ترې یادونه وشوه، د افغانستان په مدني ټولنه کې داسې بحث راپورته کړ، چې د قانون د حاکمیت په اړه یې د حکومت ژمنې تر پوښتنې لاندې راوستلې. دغه بحث ټینگار وکړ، چې جمهور رئیس کرزی د قانون د حاکمیت په اړه کله چې نور یې ماتوي، په اړه یې خبرې کوي، خو خپله د قانون د حاکمیت سپیڅلتوب ته ډېر لږ درناوی لري. د لوړ پوړو چارواکو په

---

۲۷ هارون امیر زاده، "افغانستان د قانون له حاکمیت څخه د قدرت د اړیکو تر مافیایي کیدو پورې .http://muqawamat.blogfa.com/post-1895 aspx, 15 September 2007 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د آپریل ۸)، ۲.

۲۸ ای. وی. دیسی، د اساسي قانون د څېړنې سریزه(*Introduction to the Study of the Law of the Constitution*)، وید E.C.S، (لندن: مکمیلن، ۱۹۴۸)، ۲۰۲ مخ. په عین حال کې د سر ایوار جینینگس، حقوق او اساسي قانون، (*The Law and the Constitution*) پنځم چاپ، (لندن: د لندن پوهنتون مطبعه، ۱۹۲۴) ، ۵۱ مخ.

۲۹ مشتاقی (n۲۲)، ۷۰۸ مخ.

۷۰ دغه کنفرانس د افغانستان په اړه (د څېړنو امریکايي مرکز او د نړیوال دیالوگ لپاره د هولینگ مرکز له خوا "په افغانستان کې د حکومت کولو د اساساتو" (Fundamentals of Governance in Afghanistan) په اړه، په گډه جوړ شوی و. د کنفرانس لنډیز د توماس جې بارفیلد له خوا د ۲۰۰۹ ز. کال د جون په میاشت کې جوړ شوی دی، - ۴ مخ.

ګومارلو کې د هغه فيوډالي ميتود له مخې او په هېواد کې دقانون د حاکميت دغندنې وړ حالت- چې ځينې يې هېڅ بيلګه نه لري- تر پوښتنې لاندې دي. د وزارتونو څوکۍ پخوا به تر ټولو مخکې ښو سوابقو لرونکو کسانو ته او د لياقت پر اساس ورکول کيدې، که څه هم قومي او سيمه ييزو عواملو هم په ګومارلو کې يو څه ونډه درلوده، خو دې ونډې هېڅ وخت د لياقت ځای نه نيوه. د کرزي دورې له دغه تعامل او دود سره خدای پاماني وکړه. د جنګسالارانو او د نشه يي توکو مافيا هم يو نوی عامل دی، چې حتا د طالبانو (۱۹۹۲- ۲۰۰۱ز.) په وخت کې هم شتون نه درلود، خو د افغانستان په حکومت کې د رهبرۍ په مقامونو کې د هغوی ګومارنه، يوه بې سارې موضوع ده.

د هغو عواملو په پراخه سلسله کې، چې په افغانستان کې د قانون د حاکميت مخنيوی کوي، افراطي قوم پالنه شامله ده، چې د بيلګې په توګه، د جرګې په دود کې د قومي مشرانو او اغېزمنو ملايانو په قضاوت او حکمونو کې څرګندېږي. په همدې توګه د روحانيونو او پر ايديولوژۍ ولاړو رژيمونو ظهور، چې له غيرقانوني او خونړيو کودتاګانو، بهرنيو مداخلو له لارې رامنځته شوې، همدارنګه د مرکزي حکومت او اقتصادي بنسټيزو جوړښتونو د ويجاړولو، د ۲۰۰۱ کال په وروستيو کې د طالبانو د سقوط لپاره د امريکايانو له خوا پر افغانستان څو مياشتنی بمباردونو، په ۱۹۹۰ کلونو او وروسته کې د مجاهدينو او طالبانو ترمنځ جګړه، د جنګسالارانو او مخدره توکو د مافياوو رامنځ ته کېدل، چې له نړيوالو او په هېواد کې له بډايو سياستوالو سره د اړيکو له لارې قدرت ته ورسيدل او له هر راز پوښتنې او جزاء څخه يې معافيت درلود، دا ټول ددې هېواد د ويجاړولو او د قانون د حاکميت د مخنيوي عوامل ګڼل کېدای شي. د دې ټولو ترڅنګ د واک لرونکو افغانانو ترمنځ د دوو تابعيتونو درلودل، چې کولای شي د جرمونو د ثبوت په وخت کې له هېواده بهر وتښتي، او په پای کې په هېواد کې له ۲۰۰۷ ز. کال څخه راوروسته د اساسي قانون فلج کوونکی بحران، هم په ډېرو بدو عواملو کې شمېرل کېږي[۷۱].

شلمه پېړی له شک پرته د افغانستان په تاريخ کې له تاوتريخوالي ډکه دوره وه، خو په عين حال کې په دې موده کې په هېواد کې د قانونيت رامنځ ته کيدل، په اساسي قوانينو کې دخلکو د حقونو شاملېدل، د پارلمان جوړېدل، په قضايي سيستم کې اصلاحات، او په هېواد کې د حقوقي او سياسي پوهاوي لپاره د ډېرو قوانينو جوړېدل، هم د شلمې پېړۍ ښې بېلګې او لاسته راوړنې دي. د ۱۹۲۴ ز. کال اساسي قانون په هېواد کې د قانون د حاکميت لپاره يوه روښانه ژمنه او د پراخو حقونو، د وګړو ترمنځ د مساواتو او برابرۍ او د قانون د لوړوالي بيلګې ګڼل کېږي، [۷۲] خو بيا هم د شلمې پيړۍ د لومړۍ نيمايي ټولې لاسته راوړنې، چې په هېواد کې يې د قانون د حاکميت د ټينګولو په برخه کې ترسره شوي وې، د جګړې په کلونو کې د پراخې بی قانونۍ، پرله پسې پوځي حالت، امنيتي لانجې او د ښه حاکميت د نشتوالي له امله، له منځه ولاړې. د اقتصاد، پوهنې او روغتيايي خدمتونو په برخو کې د پام وړ اصلاحاتو سره سره، د جمهور رئيس کرزي د حکومت په وخت کې، د قانون حاکميت بيخي له منځه ولاړ.

د شريعت او دموکراسۍ په اړه، عنايت ليکلي دي، چې د شريعت د لوړ ارزښت او ځای له ساتلو سره، "اسلام، د شخصي ګټو پرځای، د معيارونو او ښو تعريف شوو لارښوونو پر اساس د حکومت د شتوالي اړتيا تاييدوي" عنايت د خپلې ليکنې په همدې مخ کې داسې زياتوي، چې اسلام د دموکراسۍ بله تجربه داسې بيانوي، "دغه ضرورت چې يو حکومت بايد نه يوازې د قانون پراساس حاکميت وکړي، بلکې بايد په خپلو ټولو پرېکړو کې د هغو کسانو غوښتنې، چې پر هغوی حکومت کېږي، هيرې نه کړي" [۷۳]

په همدې توګه خالد ابوالفضل هم وايي، چې د شريعت قانون د عدالت او قانونيت معيارونه پرځای کوي "ځکه چې حکومت اړ ده، چې داسې يو لوړ قانون مراعات کړي، چې هغه ته بدلون نه شي ورکولی او ځکه چې حکومت نه شي کولی، هر څه چې غواړي، عملي يې کړي او يا د قانون له حدود څخه بهر شي" الفضل زياتوي دغه تصور، چې د يوه قانوني اسلامي حکومت اصلي جوهر دا دی، چې ياد حکومت د شريعت د قانون تابع ده، اکثره د پخوانيو قانون پوهانو له خوا، چې ټينګار کوي، يو عادل حاکم پخپله بايد هرو مرو د شريعت تابع وي، تکرار شوی دي[۷۴].

د جرګې دود او هغه ستونزې چې د قانون د حاکميت په وړاندې يې رامنځ ته کوي، په وروستيو کلونو کې د افغاني او نړيوالو ناظرينو له خوا تر څېړنې لاندې نيول شوي دي. خو دې ټينګ حقيقت ته په پام سره، چې د اټکل له مخې د ټولو حقوقي اختلافونو ۸۰-۹۰ سلنه

۷۱ هماغه ځای، ۴-۱۱ مخ.

۷۲ د قانونيت د اساساتو او ۱۹۲۴ ز. کال اساسي قانون لپاره، د محمد هاشم کمالي ليکنه، قانون په افغانستان کې: د اساسي قوانينو، د واده قانون او قضاء په اړه څېړنه، (*Law in Afghanistan: A Study of the Constitutions, Matrimonial Law and the Judiciary*)، (ليدن: ای. جی. بريل، ۱۹۸۵)، ۳۹- ۴۷ مخونه وګورئ.

۷۳ حامد عنايت، معاصر اسلامي سياسي فکرونه، د شلمې پيړۍ په وړاندې د شيعه او سني مسلمانانو غبرګون، (*Modern Islamic Political Thought: The Response of the Shi'i and Sunni Muslims to the Twentieth Century*)، (بياچاپ)، (کوالالمپور: اسلاميک بوک ترست، ۲۰۰۱)، ۱۹۰ مخ.

۷۴ خالد ابوالفضل "په اسلام کې د حکومت لپاره د شريعت او اساسي قانون مرکزيت" ، (The Centrality of Shari'ah to Government and Constitutionalism in Islam," in *Constitutionalism in Islamic Countries*)، ګروت او رادر (n۹) ، ۳۸ مخ.

د محلي جرګو له خوا حلېږي، ډېر کسان د عدالت له ګډ سیستم څخه ملاتړ کوي، چې د جرګو او رسمي قضاء د عناصرو یو ځای کول غواړي[٧٥]. ددې خبرې یو ملاتړ، علي وردک، وایي، چې نارسمي سیستم دوه امتیازونه لرل: یو دا چې یو عملي مکانیزم و، چې د سیمه ییزو اختلافونو د حلولو لپاره په پراخه کچه ترې کار اخیستل کېده او تر ټولو مهمه دا ده، چې نارسمي سیستم له ځېنو جرمونو پرته، د جزایي عدالت پرځای پر جوړوونکي عدالت ټینګار کاوه، چې ګناهکار بېرته په ټولنه کې مدغموي او په عمده توګه د ټولنیز انډول لپاره پر روغه جوړه تکیه کېږي. په هر ځای او هر چیرې د جرګې کارول (چې په غیر پښتنو سیمو کې د شورا په نوم هم یادېږي) قسما په رسمي قضاء کې د پراخ فساد نتیجه ده؛ ځکه چې جرګې په پرتلیزه توګه ډېر د اعتماد وړ، لږ لګښت او په آسانۍ سره د لاسرسي وړ دي[٧٦].

جرګې د لنډ مهال لپاره او د خاصو اختلافونو په اړه د پرېکړو لپاره جوړېږي، چې معمولا خپلې غونډې په آزاد چاپیریال یا په جومات کې جوړوي. هغوی لومړی د دعوې خواوو ته غوږ نیسي، ورپسې پر موضوع بحث او خبرې اترې کوي او یوې پرېکړې ته رسېږي. د جرګې غړي په رضاکارانه ډول کار کوي، هغوی ته نه حکومت او نه د دعوې لوري پیسې ورکوي. په کورنیو اختلافونو پورې اړوندو مسلو کې جرګه کولای شي، د دواړو خواوو استازي راوغواړي، او په حساسو لانجو کې یوازې د کورنیو نژدې غړو ته اجازه ورکول کېږي، چې په جرګه کې ګډون وکړي. د کورنۍ غړي د درېیمګړو کسانو یا هغو حکمانو په څېر ګډون کوي، چې د رایې حق نه لري. قومي دود ته درناوی کېږي، که څه هم په داسې موضوعاتو لکه د ښځو د مېراث په حق کې له شریعت څخه تخلف هم موجود وي. جرګې په عین حال کې د کوچنیانو د ودونو، په زور ودونو، او د قیمومیت د واک د ناوړه استعمال په تړاو ، ښه نوم نه لري[٧٧].

د عدالت د دوه ګونې سیستم په اړه د وردک له وړاندیز څخه، د متحده ایالاتو د سولې ټولنې UNDP (په افغانستان کې د بشري انکشاف په اړه، پخپل دویم راپور کې، ۲۰۰۷ز.)، پر ۲۰۰۸ کې د نړیوال بانک راپور او پر ۲۰۱۰ ز. کال په کابل کې د مرستندویانو او حکومتي ادارو نړیوال کنفرانس ملاتړ وکړ[٧٨].

په هر حال، د جرګې له پرېکړو سره، SC د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د ښځو ډېر فعالین په توندۍ سره مخالفت کوي؛ ځکه چې د هغوی په باور په دغو پرېکړو کې د ښځو او نجونو په وړاندې له تاوتریخوالي سترګې پټې شوې او په جرمي یا مدني اختلافاتو کې نارینه ته امتیازي حقونه ورکوي. د جرګې د پرېکړو ځېنې اړخونه، لکه بد په ځېنو ټولنو کې داسې دود دی، چې ښځې د یوې لانجې د حلېدو په موخه د جبران په ډول واده کېږي، چې دغه موضوع په ځانګړې توګه، له ښځو سره دښمني کول دي. ښځې په جرګو کې ګډون نه شي کولی او د بشري حقونو او ټولنیزې ودې په اړه د جرګو پرېکړې په ټولیزه توګه عجیبه ښکاري[٧٩].

دواړه خواوې د اعتبار وړ دلایل لري، خو تراوسه لا بریالي شوي نه دي، چې ګډ موقف رامنځ ته کړي. البته دا ممکنه ده، د منلو وړ یو فورمول جوړ شي، چې پر بنسټ یې ځېنې قضیې لکه د ځمکې او مېراث پر سر اختلافونه، د تاوتریخوالي جرمونه او د بشري حقونو تر پښو لاندې کول د جرګو له اختیاره وایستل شي، او د مدني اختلافونو عمده برخه او کوچني جرمي پېښې جرګې ته پرېښودل شي، خو د جزایي اقداماتو په اړه، چې جرګه یې عملي کولای شي، یو څه محدودیتونه وضع شي. د سیمه ییزو محکمو او جرګو ترمنځ یو څه اړیکې لازمې دي، چې په دې توګه محکمې کولی شي، په جرمي اختلافونو کې د جرګو د پرېکړو او د افغانستان د قوانینو او د عدالت د اصولو ترمنځ مطابقت ډاډمن کړي. په هغو سیمو کې چې حکومت یا لږ شتون لري یا هېڅ شتون نه لري، د جرګو بیا جوړونه کولی شي، په سیمه کې د حکومت د یو څه موجودیت معنا ولري. ما په خپلو اصلاحي وړاندیزونو کې، چې د څېړنې په پای کې وړاندې شوي، غوښتنه کړې، چې د جرګې سمونه او بیا جوړونه کېدای شي، په ځانګړو سیمو کې پیل شي، خو نورو سیمو ته یې وده او پراختیا د امنیتي حالت په ښه والي او په هېواد کې د یوه قوي حکومت په شتوالي پورې اړه لري. یوه ممکنه لاره دا ده، په افغانستان کې داسې یو قانون جوړ شي، چې د سیمه ییزو جرګو د قانوني واک حدود پکې تعریف او معلوم شي او پرېکړې یې، چې د حکمیت او مینځګړیتوب له لارې کېږي، رسمیت پیدا کړي. غواړم په دې اړه د پایلې په برخه کې چې وروسته راځي، یو څه تفصیلي بحث وکړم.

---

٧٥ یوه څېړونکی د کابل ولایت د کلکان او میربچه کوټ په ولسوالیو کې د کلیو د شوراګانو او ولسوالیو شوراګانو په اړه څېړنه کړې ده، ۲۰۰۳- ۲۰۱۳ کلونه، په وروستیو کلونو کې د موضوع د یو ضمني اړخ په اړه لیکي، چې "کلیوال پر حکومت باور نه کوي او خپلې قضیې (دعوې) لکه پر ځمکه، مېراث او کورنۍ اختلافونه د طالبانو د محکمو له لارې حلوي". د یوتاکا هیاشي "د خلکو له خوا د سولې راوستل: په کلیوال افغانستان کې په مرکو ولاړه موردي څېړنه A Peacebuilding from the Bottom: Daily Life and Local Governance in Rural Afghanistan," *Islam and Civilisational* (*Renewal*)، ۳ شمیره، ٧٥ (جولای ۲۰۱۴)، ۳۱٧-۳۳.

٧٦ د تفصیل لپاره د استری سهورکی، هغه وخت چې ډېر لږ وي: په افغانستان کې نړیواله پروژه، (*When More is Less: The International Project in Afghanistan*)، (نیویارک: د کولمبیا پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۱)، ۲۱۲ مخونه.

٧٧ کمالي، "اسلام ته مراجعې" (n۲) ۲۹۴- ۲۹۵ مخونه.

٧٨ هماغه ځای، ۲۱۵ مخ.

٧٩ هماغه ځای، ۲۱۳ مخ. د کمالي، په افغانستان کې قانون (N٧٦) ۴ مخ او نور هم وګورئ.

## ۷. بشري حقونه: ستونزې او فرصتونه

د افغانستان د اساسي قانون په مقدمه کې ژمنه شوې، چې داسې یوه ټولنه به جوړوي، چې "له ظلم څخه خلاصه وي... او د قانون په حاکمیت، او د بشری حقونو او د بشر په وقار او درنښت ولاړه وي" (۲ مه) ماده د افغان دولت ژمنه د ټولنیز عدالت او بشري حقونو د ټینګښت په برخه کې تکراروي، او (۷ مه ) ماده وایي، چې دولت د ملګرو ملتونو منشور، د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه او هغه نړیوال تړونونه، چې افغانستان یې لاسلیک کړي، رعایتوي.

په اسلامي اساسي قوانینو کې داسې موضوعات ډېر لږ لیدل کېږي، په دې توګه د افغانستان اساسي قانون له هرې خوا ځانګړیتوب لري او بې ساری ګڼل کېږي.[۸۰] دویم فصل (چې په حقیقت کې تر ټولو اوږد او لوی فصل دی- ۲۲- ۲۰ مادې) د حقونو په اړه یوه پراخه لړۍ لري، چې په عمده توګه د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، د مدني او سیاسی حقونو په اړه نړیوال تړون او د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو په اړه نړیوال تړونونه- چې په ټولیزه توګه د نړیوالو حقونو قانون یا د بشري حقونو د نړیوال قانون په نامه یادېږي، پکې شامل دي[۸۱]. دغه موضوع په (۱۴۹ مه) ماده کې چې وایي "د اتباعو د اساسي حقونو تعدیل یوازې د هغوی د حقونو د ښیګڼې لپاره جواز لري"، په دې توګه په اساسي حقونو کې هر ډول منفي تعدیل، غیر قانوني ګڼل شوې ده. د افغانستان اساسي قانون په عین حال کې "د سیمې د ډېرو اسلامی هېوادونو له اساسي قوانینو سره په دې کې فرق لري، چې دموکراسي او د قانون حاکمیت پکې ډېر اهمیت لري[۸۲]" دغه تصور د بشر حقونو د خپلواک کمېسیون په جوړېدو سره لا ډېر روښانه شوی، چې "په افغانستان کې د بشر حقوقو له رعایت څخه د څارنې د ښه والي او ملاتړ لپاره" (۵۸ ماده) رامنځ ته شوی دی. په یاده ماده کې ویل شوي، چې "هر څوک کولی شي د خپلو بشري حقونو د نقض په صورت کې دغه کمېسیون ته شکایت وکړي" دغه موضوع ډېر اهمیت لري، چې دلته په متن کې د وګړي پر ځای "هر څوک د دې حق لري، چې له خپلو اساسي بشري حقوقو څخه دفاع وکړي". په بله خبره، بشري حقونه د افغانستان د محکمو له خوا په عمل کې د تطبیق وړ دی.

په ډېرو هېوادونو کې د "بشري د حقونو" او "د اساسي قانون حقونو" ترمنځ د یادولو وړ اساسي توپیر په دې کې دی، چې په ملي محکمو کې یوازې "د اساسي قانون حقونه" د څارلو وړ دي، په داسې حال کې چې "بشری حقونه" باید د یوه بل قانون له خوا تصدیق شي، ترڅو د ملي محکمو له خوا د تطبیق وړ شي. دغه تفاوت، د لیکوال په اند، د افغانستان د اساسي قانون له خوا باطل او بشري حقونه په ملي محکمو کې د قضاوت وړ شمېرل کېږي، که څه هم د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د مینځګړیتوب له لارې وي.

ځینې مبصرینو د بشري حقونو په اړه د ۲۰۰۴ ز. کال د اساسي قانون دوه ګونې ژمنه، او بیا (۳مه) ماده، چې وایي په افغانستان کې هېڅ قانون د اسلام له اساساتو سره تناقض نه شي درلودلی، تر پوښتنې لاندې راوستې ده[۸۳]. د مصر، ایران او سوډان په اساسي قوانینو کې هم د نافذه قوانینو او شریعت ترمنځ د انطباق په اړه روښانې اړتیا ته اشاره شوې، خو یوه یې هم د بشري حقونو نړیواله اعلامیه یاده کړې نه ده. د سید محمودي په خبره، دا د درک وړ دی، چې د افغانستان اساسي قانون داسې تصور لري "چې د (۳ مې) مادې او بشري حقونو او نړیوالې اعلامیې ترمنځ کوم فرق نشته"[۸۴] په بله وینا، د افغانستان د اساسي قانون پر اساس چې نړیوالې اعلامیې یې له شرطه منلې ده، د دې دوو ترمنځ د تضاد پرځای، د یو بل بشپړول څرګندېږي.

د ولسي جرګې د حقوقي او قضایي کمیټې رئیس، "عالمي بلخي" هم په دې برخه کې همدا مفهوم اخلي او په اساسي قانون کې د اسلام او بشري حقونو ترمنځ د تضاد پرځای د یو بل بشپړول روحیه ویني. هغه په یوه مرکه کې وویل، چې ځینې کسان د افغانستان له اساسي قانون څخه د اسلام او بشري حقونو، او همدا ډول له نارینه وو سره د ښځو د مساوی حقونو په اړه سطحي نتیجه اخلي. اساسي قانون دا ژمنې کوي، چې دلته هم تقارب او هم تباین دواړه تکي وجود لري، خو دې حالت ته باید د مطلقو جملو په توګه ونه کتل شي. که تباین موجود وي، کېدای شي داسې لارې پیدا شي، چې هغه سره نژدې کړي. "په دې اړه زما خپل درک دا دی، چې دلته تناقض نشته... زموږ د اساسي قانون په متن کې به داسې ټکي شتون ولري، چې ډېرې روښتیا ته به اړتیا ولري، خو تناقض پکې نشته"[۸۵]

---

۸۰ سید محمودي، "د افغانستان په نوي قانون کې شریعت: تناقض یا تعریف؟" (The Shari'a in the New Constitution of Afghanistan: Contradiction or Compliment)، زاورف (zaoerv) ۲۴(۲۰۰۴)، ۸۲۹

۸۱ محمد قاسم هاشمزی، "د قواوو تفکیک"، (The Separation of Powers)، ۲۷۲ مخ.

۸۲ مشتاقي، (N۲۲) ۲۸۴ مخ.

۸۳ محمودي، (N۸۱)، ۸۷۳ مخ.

۸۴ هماغه ځای، ۸۷۴ مخ.

۸۵ له سید حسین عالمي بلخي سره د محمد نظري مرکه (د ۱۳۸۵ کال د جدي ۱۲ مه، / د ۲۰۰۸ کال جنوري)، "د افغانستان د اساسي قانون د کمزورتیا او قوت ټکي په کوم ځای کې دي؟"، www.rahenejatdaily.com; January 2008 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۳).

آیا (**۳** مه) ماده او (**۷** مه) ماده له یو بل سره تناقض لري؟ البته د شریعت او بشري حقونه ترمنځ د مثال په توګه، د جنسیت د برابروالي او د مذهب د آزادۍ په اړه تفاوتونه شته، خو دا چې دغه تفاوتونه د تضاد او تناقض شکل غوره کړي، په دې پورې اړه لري، چې له شریعت څخه د یو چا درک او پوهه څنګه ده. د بېلګې په توګه، د مذهب د آزادۍ په اړه، د فقه مسله په داسې بڼه ده، چې له خپل دین څخه اوښتنه (ارتداد ) د مرګ سزا لري، خو په قرآن کریم کې د دې لپاره سزا نه ده ټاکل شوې، که څه هم په قران شریف کې د ارتداد په اړه په شلو ځایونو کې یادونه شوې ده. په دی توګه د پورتنۍ پوښتنی لپاره دوه ځوابونه وجود لري، چې یو یې وایي، چې تضاد او تناقض شته، په داسې حال کې، چې بل یې په تضاد او تناقض باور نه لري. له نارینه وو سره د ښځو د مساواتو او برابرۍ حق په اړه له همداسې یو حالت سره مخامخېږو. که د مذهبونو له پلوه موضوع وڅېړو، نو روښانه ده، چې د UDHR په وړاندې له تشنجه ډک دریځ نیول کېږي، خو د شلمې پېړۍ د تقنیني اصلاحاتو په رڼا کې ډېرو اسلامي هېوادونو د قرآن کریم د اړوندو برخو په نوي تفسیر کې فقهي موقف ته بدلون ورکړي او بیاکتنه پرې کړې ده. ما د ښځو د حقونو د مساواتو او برابروالي په اړه د ځېنو لویو اسلامی پوهانو نظریې راټولې کړې دي او غواړم دلته د کورنۍ اسلامي قانون د اصلاحاتو ځېنی خصوصیات بیان کړم.

د سوریې د **۱۹۵۳** ز. کال د شخصیه احوالو قانون د منځني ختیځ د قوانینو په کتار کې لومړني قانون و، چې د واده او طلاق په اړه یې مهم اصلاحات رامنځته کړي دي. دغه قانون د طلاق د برخې په مقدمه کې وایي، چې "په خواشینۍ سره په اسلام کې د طلاق له اصلي موخې او شرطونو څخه، پخوانیو قانون پوهانو غلطه معنا اخیستې او هغه یې تحریف کړې ده، په دې توګه د هغوی د نظریو په اساس، د واده په ژوندانه کې خوندیتوب له منځه تللی دی". په داسې حالت کې، صحیح پالیسي دا ده، چې "د شریعت د احکامو د زړه سوي ور پرانیزو، ترڅو د طلاق په اړه د اسلام اصلي قانون ته راوګرځو او د [سني مکتب (مذهبونو)] له څلورو طریقو څخه داسې احکام راوباسو، چې د عامه هوساینې لپاره ګټور وي" د طلاق د قانون په اړه واقعي ریفورم، چې د سوریې په تقنیني سندونو کې معرفي شو، هومره بنسټیز نه و، چې تمه یې کېدله. خو په هر صورت دا د نورو منځني ختیځ او آسیایي هېوادونو د تقنیني اصلاحاتو لپاره یوه محرکه قوه وه.[82] یو بل سمون چې په پراخه توګه ترې یادونه کېږي، د مراکش د **۲۰۰۴** ز. کال کورنۍ قانون دی، چې د مداوانا په نوم یادېږي، چې د قیمومیت او خوندیتوب (ولایه اوقیوامه) په اړه یې د فقه په قانون کې بدلون راووست او په فامیلي چارو کې یې د مور او پلار ترمنځ یې مساوات او برابروالی رامنځ ته کړ. په دې اساس، مېرمن له خپل مېړه سره د کورنۍ په اداره او هوساینې کې ګډ مسئولیت لري (**۱۵۱** مه ماده). د مراکش په اساسي قانون کې سمونونه، چې د **۲۰۱۱** ز. کال په جولای کې تصویب شول، د جنسیت تساوي او د جنسیت پر اساس د تبعیض ممنوعیت، منل شوی دی. په داسې حال کې، چې د مراکش د **۱۹۹۲** ز. کال اساسي قانون پربنسټ، مساوات په عمومي توګه په سیاسي حقوقو باندې ولاړ و، د **۲۰۱۱** ز. کال په اساسي قانون (**۱۹** مه ماده) کې مساوات او برابروالي پراخو بشري حقونو ته انعکاس ورکړی دی.

په دې څېړنه کې د پوره تفصیل امکان نشته، خو غواړم له خپلې یوې لیکنی څخه چې عنوان یې اسلامي نړۍ ده او نژدې دېرش کاله مخکې لیکل شوې ده، یو څو کرښې دلته رانقل کړم: "اسلامي قانون باید هرو مرو د اسلامي ټولنې له اړتیاوو سره څنګ په څنګ وده وکړي او د اسلامي ټولنو ستونزو ته ځواب ووایي. دې موخې ته رسېدل، د پخوانیو منل شوو دودونو له غوښتنو سره د تطابق په پرتله، ډېر اهمیت لري"[87].له بده مرغه افغانستان د بېلابېلو لاملونو له امله لا تراوسه دې ته اړ دي، چې تر ډېره د اسلامي کورنۍ د قانون د اصلاحاتو په خوځښت کې بوخت واوسي، هغه څه چې مسلمانو هېوادونو پخوا په بېلابېلو کچو یې تطبیق کړي او اکثره یې د قرآن (شریف) د نویو خو په پراخه کچه د پېژندل شویو تفسیرونو پر بنسټ ولاړ دي.

په افغانستان کې بشري حقونه، لکه چې د اساسي قانون په (**۷** مه) ماده کې ویل شوی، په پراخه توګه منل شوي دي. دغه حقونه په ډېرو اسلامی هېوادونو کې د افغانستان په پرتله ډېر پېژندل شوي دي. له تفاوتونو سره سره، هغه همغږي چې د شریعت او بشری حقونو ترمنځ شتون لري، انکار نه منونکی دی. د شریعت او بشري حقونو ترمنځ دغه همغږي به لا ډېر پیاوړې شي، که چیرې افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ، ترمنځ یې د همغږي توب د زیاتوالي لپاره د حنفي فقه ځېنو نظریو ته ژوره کتنه وکړي.

حنفي فقه هم د مذهب د آزادۍ او له مذهب څخه د اوښتنې په اړه پخپلو حکمونو کې یوشان نه ده؛. دا خبره له دې اړخه هم د بحث وړ ده، چې له پېړیو راهیسې د یو شمېر علماوو په اند، ارتداد د جزاء وړ ګناه نه ګڼل کېږي. ددې عالمانو په کتار کې ابراهیم النخعي (**۷۱۳/ ۹۵**) د امام ابوحنیفه استاد او مشهور اماسفیان الثوري (**۱۲۱/۷۷۲**) شامل دی، چې په دې عقیده و، چې مرتد (له دین څخه اوښتونکی) شخص د دې پرځای، چې په مرګ محکوم شي باید بیا اسلام ته راوبلل شي.

---

۸۲ د طلاق او د میرمنو د تعدد په اړه د قرآن واقعي آیتونه، چې د نورو تفسیرونو مرکزیت جوړوي، د لا ډېر تفصیل لپاره د کمالي، آزادي، مساوات او عدالت په اسلام کې (*Freedom, Equality and Justice in Islam*)، ۷۲F مخ، وګورئ.

۸۷ محمد هاشم کمالي، "طلاق او د ښځو حقونه: د قرآن ځیني اسلامي مفسرین (Divorce and Women's Rights: Some Muslim Interpretations of the Q 2:228," *The Muslim World* 74 (1984)) ۲: ۲۲۸، "اسلامي نړۍ ۷۴ (۱۹۸۴)، **۸۵**-۱۰۰، **۹۹** مخ.

الشعراني (D .۱۵۲۵/۹۷۳)، د فقه په اړه کې پخپله یوه پرتلیزه لیکنه، کتاب المیزان، کې له دواړو، النخي او التوري څخه نقل قول کړي او داسې پایلې یې اخیستې، چې "له دین څخه اوښتونکي، باید په دایمي توګه توبه کولو ته راوبلل شي"[88] د حنفي مذهب لوی لیکوال او قانون پوه، شمس الدین السرخسي (d. ۴۸۳/۱۰۹۰) د فقه په اړه د ۳۲ جلدي (په حقیقت کې تر ټولو لوی کتاب) مؤلف د ارتداد په اړه ورته نظر څرګندوي:

> له ایمان څخه لاس اخیستنه او بی ایمانۍ ته مخه کول، په رښتیا سره لویه ګناه ده، خو دا د انسان او د هغه د خالق ترمنځ خبره ده، او جزاء یې د قیامت په ورځ ورته ورکول کېږي (الجزاء علیها مؤخر الی دارالجزاء). [89]

د ۱۹۲۰ کلونو په لومړیو کې، د الازهر پوهنتون رئیس، شیخ محمود شلتوت (۱۹۸۵ز.) په خپل مشهور کتاب، الاسلام عقیده و شریعت، چې په ډېرو ژبو ژباړل شوی دی، د ډېرو اړونده منابعو د څېړلو په ترڅ کې دې پایلې ته رسیدلې، چې ارتداد دنیوي سزا نه لري او ددې ځانګړې ګناه لپاره، قران یوازې د اخروي جزاء په اړه خبرې کوي. شلتوت زیاتوي:

> دغه حدیث، چې "څوک چې خپل دین ته بدلون ورکوي باید ووژل شي" د علماوو له خوا مختلف غبرګونونه راپارولي دي، ډېر عالمان توافق لري، چې حدود (ټاکل شوې سزاګانې) د یوه (واحد) حدیث پراساس نشي عملي کېدای او بې ایمانۍ (د عقیدې نه درلودل) پخپل ذات کې د مرګ جزاء نه رامنځ ته کوي[90]

که څه هم د افغانستان اساسي قانون له بشري حقونو او د قانون له حاکمیت څخه څرګند ملاتړ کړي دي، خو افغاني محکمې په مشکل سره د دغو ژمنو منعکسوونکي دي. د دغو محکمو یو د پوښتنې وړ اقدام دا دی، چې د اساسي قانون پر (۱۳۰ مه) ماده ډېر استناد کوي او په دې اساس کله کله د حنفي قضاوت په عنوان یې، خلک د اوږد مهال لپاره بندیخانې ته لیږلی دي. لکه چې یو مبصر وايي، له دغې مادې څخه دا ډول ګټه اخیستنه "یو ډول حقوقي (قانوني) خاموالي ده، چې په جوته توګه د جرایمو او جزاګانو په برخه کې، له اصولو او اساساتو څخه سرغړونه ده. په دې توګه خلک نژدې د هر عمل په اړه، چې د واک خاوندانو یې نه خوښوي، تر پوښتنو او تحقیق لاندې راځي، شکنجه کېږي، او بندیخانې ته لیږل کېږي"[91] دا کړنه د (۲۷ مې) مادې د روحیې پرخلاف ده. ۲۷ ماده وایي "هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون له مخې چې د جرم له ارتکاب څخه وړاندې نافذ شوي وي. هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا توقیفیدای نه شي". د افغان قاضیانو د ډېر زیات او نه توجیه وړ مخالفت سره سره، د (۱۳۰ مې) مادې د تطبیق په اړه روښانه دریځ وجود لري. دا محکمې هڅه کوې د تعذیر د حنفي قضاوت د حکمونو (ویروونکې احتیاطي جزاء) ته مراجعه وکړي، ترڅو د پوښتنې وړ سختې جزاګانې تطبیق کړي.

جزا ټاکونکي قاضیان، د اساسي قانون (۱۳۰ مې) مادې او د ۱۹۷۶ کال د جزاء قانون لومړۍ مادې ته، چې له ابهامه ډکې دي، مراجعه کوي. دغه دواړه مادې په واقعیت کې د هغوی د اصلي منظور پر خلاف استعمالیږي. په لومړۍ ماده کې ویل شوي، چې "دا قانون د تعذیر [د کتګورۍ] عادي جرمونه او جزاګانې تنظیموي. د حدود، قصاص او دیتمجرمین باید د اسلامي شریعت د حنفي مذهب د حکمونو له مخې مجازات شي"[92] قانون په څرګند ډول خپله موخه، چې د تعذیر تنظیمول دي، بیانوي او په اغیزمنه توګه وایي، چې

---

۸۸ عبدالوب الشعراني، کتاب المیزان، (قاهره: المتباه الحسنیه، ۱۹۰۵/ ۱۳۲۹)، دویم چاپ، ۱۵۲ مخ، د نور تفصیل لپاره د محمد هاشم کمالي، په مالیزیا کې اسلامي قانون: مسئلې او انکشافات، کوالالمپور: المیاء پبلشرز، ۲۰۰۰، لسم فصل د "ارتداد (ریدا)" په اړه، ۲۰۳- ۲۲۰ مخونه.

۸۹ شمس الدین محمد السرخسي، المبسوط، بیروت: دارالمعارفه، ۱۹۸۲/۱۴۰۲، لسم ټوک، ۱۱۰ مخ.

۹۰ محمود شلتوت، الاسلام "عقیده و شریعت" (کویت: مقالي دارالقلم، n.d)، ۲۹۲- ۲۹۳ د حدود د تفصیل لپاره، دمحمد هاشم کمالي، په اسلامي قانون کې جزاء: (*Punishment in Islamic Law: An Enquiry into the Hudud Bill of Kelantan*)، کلانتن (kelentan) د حدودو د قانوني لایحې په اړه یوه پوښتنه، هم وګورئ، (کوالالمپور، العیاء پبلشر، ۲۰۰۰). د نوموړي کتاب لنډیز زما په مقاله "په اسلامي قانون کې جزا: د کلانتن د قانوني لایحې ته یوه انتقادي کتنه، (Punishment in Islamic Law: A Critique of the *Hudud* Bill of Kelantan, Malaysia)، مالیزیا" کې لیدلی شئ. د عرب قانون درې میاشتنې مجله (۱۹۹۸)۲۰۳- ۲۳۴ مخونه.

۹۱ بهروز جهانیار، "د افغانستان په اساسي قانون کې ابهامونه او تناقضات" http://kabulpress.org/my/spip.php?article3390, 30 April 2009(لاسرسی ۲۰۱۴ کال د مارچ ۲۵). هغه ښځې، چې د محلي تاوتریخوالی په سبب خپل کور پرېږدي او پناه اخلي، یوه بیلګه ده: قانون په دې اړه هېڅ جزاء نه ده ټاکلې، خو دا ډول ښځې اکثره د (۱۳۰ مې) مادې پربنسټ د بندپر جزاء محکومیږي.

۹۲ حدود هغو جرمونو او جزاګانو ته وایي، چې په قرآن او حدیثو کې توضیح او توصیه شوي دي. قصاص د هغو جرمونو، لکه قتل لپاره، جزاء ته وایي، او تعزیر هغو جرمونو ته ویل کیږي، چې په یادو منابعو کې یې جزاء نه ده ټاکل شوې. داسې معلومیږي، چې د افغانستان د جزاء قانون په تعذیر کې حداکثر داسې جرمونه شامل کړي دي، چې د مرګ جزاء لري. خو که په ځیر سره موضوع ته وکتل شي، داسې جوتیږي، ځینې هغه موارد، چې د جزاء قانون هغه ته د مرګ جزاء ټاکلې ده، د قصاص په کتار کې راځي. د بیلګې په توګه د قصدي قتلونو د مرګ د جزا په اړه (۳۹۵) ماده وګورئ. د قاتلینو لپاره د مرګ جزاء ټولې نهه بېلګې چې په دې ماده کې وجود لري (لکه د انفلاقی توکو په واسطه قتل، یا د ځاه په اوبو کې د وژونکي زهر ګډول، د اساسي محرکونو پر بنسټ او ښکاره قساوت او په بیرحمۍ وژنه او داسې نور) په قصاص کې شمیرل کیږي. پردې سربېره، تعذیر یو ډول سیاست کول دي. د سیاست پراخه سلسله حاکم ته د جرمونو په جزاکې د پام وړ واک او قدرت ورکوي. د حاکمانو له خوا له سیاست څخه د پراخې ګټې اخیستنې لپاره د ژوزف شکاچت "قانون" په جي وان ګروبیساوم، دمسلمانانوپه مدنیت کې یووالی او تنوع، (د شیکاګو پوهنتون مطبعه، ۱۹۵۵)، ۷۵ مخ، وګورئ. په همدې ډول د "عبدالوهاب خلف، السیاسه الشرعیه، (قاهره المکتبه السلفیه ۱۹۷۱)، ۳f.

تر دې زيات، د قاضيانو ناوړه عدالت ته اجازه نه ورکوي. دا خبره د جزاء قانون په (۲ مه) ماده کې داسې تصديق شوې ده، چې "هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر د قانون د حکم پراساس " د جزاء قانون (۳ مه) ماده توضيح کوي، چې "هېڅ ډوک مجازات کېداى نه شي مګر د هغه قانون له حکمونو سره سم، چې د جرم له ارتکاب څخه مخکې نافذ شوي وي ".

په کابل کې د ۲۰۰۶ ز. کال د مې په مياشت کې په يوه نړيوال ورکشاپ کې[۹۳]، د افغانستان د حقوق پوهانو اتحاديې د محکمو له خوا د تعذير تر نامه دمذهبي فيصلو پر اساس د ښځو د بندي کېدو په وړاندې، سخت اعتراض وکړ. وروسته معلومه شوه، چې يوازې د پلچرخي په زندان کې (چې د کابل په ښار کې موقعيت لري) له ۸۰ بندي ښځو څخه ۲۰ تنو يې له کور څخه د تښتيدو په تور بندي شوې وې. له دغو ۲۰ ښځو څخه، يوولسو تنو يې له ۶ مياشتو تر ۱۴ کلونو پورې بند باندې محکومې شوې وې. ټولو دیادو ښځو په زور ودولو، وهلو، جبري کار او کورنۍ تاوتريخوالي له امله له کوره د دوی د تښتېدو عامل ګڼلي وو. ځکه چې په قانون کې له کوره تېښته، جرم نه ګڼل کېږي، نو محکمو د اساسي قانون (۱۳۰ مه) ماده او د ۱۹۷۶ کال د جزاء قانون لومړۍ ماده د خپلو پرېکړو اساس ګڼله. په ورکشاپ کې دوو کارپوهانو، د وخت مشاور وزير اشرف رسولي او د سترې محکمې مرستيال فضل احمد معنوي وويل، چې د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون (۱۳۰ مه) ماده په جرمي پېښو پورې اړه نه لري او يوازې په مدني اختلافونو کې د تطبيق وړ ده.[۹۴]

په څرګنده توګه، معلومېږي چې نه په دې اړه او نه د هغې په مخالفت او نه تراوسه د مسلط نظر په برخه کې، چې حنفي قضاوت په محکمو کې د جرايمو او جزاګانو په برخه عملي کوي، د نظر يووالى وجود نه لري. هغه څه، چې دلته يې وړانديز کېږي، د عدالت غوښتنه او داساسي قانون پر بنسټ قانونيت ته پاملرنه ده. هغه څه، چې دلته دبحث وړ ګڼل کېږي، په دې اړه د محکمو پرېکړې دي، چې د ۱۳۰ مې مادې له روحيې سره تضاد لري، چې د حنفي فقه د احکامو له لارې "په ډېره ښه توګه دعدالت تامين " غواړي. په دې اړه په کابل کې د ۲۰۱۱ ز. کال کنفرانس راپور ته مراجعه وشي، چې په يوه برخه کې يې ويل شوي: "کاري ډلې خپلې خبرې د افغانستان د پخوانيو اساسي قوانينو د نه برياليتوب په اړه پيل کړې، او وويل شو، چې په هغو کې نه عامه پوهاوي شتون درلود او نه په عملي ټولنو او موسسو کې د دولت په مقابل کې د مذهب (دين) د ونډې په اړه تمرکز شوي و "[۹۵]. دا د قانون د حاکميت په وړاندې غفلت کول او د جزاء د ټاکلو په حساسو ساحو کې د قانون د حاکميت نه برياليتوب دی.

فقهي ادبيات هم د تعذير په اړه د نظريو تفاوت ښيي. په داسې حال کې، چې مالکي او حنبلي فقه باور لري، چې په ځانګړو قضيو کې کېداى شي د تعذير پايله د مرګ جزاء وي، حنفي فقه خاص موقف لري او د تعذير په اړه د محدود موقف مشوره ورکوي. حنفي فقه وايي، چې تعذير په هر صورت بايد د حدودو او قصاص تر جزاء سخته نه وي. ددې معنا حدا اکثر ۴۰ دُرې، او د ځينو په نظر يوازې ۱۰ دُرې او همدا ډول د بندجزاء ده. زموږ په دوران کې هم تعذير د اساسي قانون د اصولو د قانونيت د محدوديت تابع دي. داسې اساسي قانون چې هغه په اړه يې له کار پوهانو او د ټولنې د چارو له مسئولينو سره (اولولامر، د النساء سوره، ۴:۵۹) پراخه سلا او مشورې صورت نيولى وي او د دولت د رييس له خوا تصديق شوی وي د احکام الامر يوه برخه ګرځي او د اطاعت وړ دي.[۹۶] حنفي فقه په عين حال کې د قانونيت په اصل درک لري او د جزاګانو بې صلاحيته پراختيا له هغو لارو څخه، چې په فقهي اصطلاح کې د تحکم يعنې د حکم صادروونکو له خوا غير قانوني عمل، ګڼل کېږي، په لاندې ډول توضيح کوي[۹۷]:

د مصر ډېر وتلی او مشهور قانونپوه او د اسلامي جزايي قانون د ډېر مهم کتاب ليکوال عبدالقادر عبده (۱۹۴۵ز.) وايي، چې شريعت د قاضيانو پر صلاحيتونو ځانګړې محدوديتونه وضع کوي. دا يوه اشتباه ده که وويل شي، چې تعذيري جزا په متن کې نه دی تنظيم شوی او يا ادعا وشي، چې قاضي اختيار لري، جرم او د جرم جزاء دواړه د تعذير پراساس وټاکي. قاضي بايد لومړی دا وټاکي چې آيا دغه عمل د شريعت د صريح متن پراساس جرم ګڼل کېږي. وروسته بيا موضوع يوشمېر تعذيري ګناهونو ته په مراجعې سره، چې په متن کې له دې پرته چې ځانګړې جزاګانې ورته ټاکل شوې وي، ښودل کېږي. په ليست کې د منع شوو توکو مصرف او خوړل، د ژمنې ماتول، په وزن او اندازه کولو کې تخلف، ناحقه قسم خوړل، سود خوړل، توهين، رشوت، د چا شخصي کور ته غير قانوني ننوتل او

۹۳ "په افغانستان کې د جنسيتی او جرمي عدالت" په اړه تخنيکي ورکشاپ، چې د نړيوال قانون د انکشاف د ټولنې له خوا د ۲۰۰۶ ز. کال د مې په مياشته کې ۱۵- ۱۲. جوړ شوی وو، کابل.15-16 http://www.afghangendercafe.org /Uploads/IDLO%20Gender%20Workshop%20Report.pdf, May 2006 ( لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۴).

۹۴ کمالي، "اسلام ته مراجعه"، (References to Islam and Women) ۲۹۱- ۲۹۳ مخونه.

۹۵ کلارک لومباردی، "په اسلامي بياکتنه کې ستونزې او فرصتونه: د نورو اسلامي هېوادونو تجربې د افغانستان لپاره درسونه"، (The Challenges and Opportunities of Islamic Review)، ۸ مخ.

۹۶ د نور تفصيل لپاره د محمد هاشم کمالي، د "اسلامي قضاوت اساسات وګورئ" (*Principles of Islamic Jurisprudence*)، ۵۰۷- ۵۱۱ مخونه.

۹۷ د نور تفصيل لپاره د محمد هاشم کمالي، په اسلام کې د ژوند، خونديتوب، محرميت او ملکيت حقونه، (*The Right to Life, Security, Privacy and Ownership in Islam*)، (کمبريج: د اسلامي متنونو ټولنه، ۲۰۰۸) "د قانونيت اساسات" برخه)، ۸۴- ۹۷. د دې ترڅنګ، تعذير د سياست يوه برخه ده ددې لپاره د شريعت قانون: يوه مقدمه (N۵۰) ۱۱ مه برخه د سياست په اړه وګورئ. هماغه ځای، اعتدال او انډول په اسلام کې: د وسطيا (wasatiyyah) قرآني اصل، (کوالالمپور، د پرمختللو اسلامي څېړنو نړيواله موسسه، ۲۰۱۰)، ۱۲- ۲۰ (د "جرمي عدالت اعتدال او قيد (محدوديت) "

جاسوسي شامل دي. په دې ټولو کې قرآنکريم او سنت صلاحيت ورکوي، چې ګناه وګڼل شي. د دغو اعمالو په مقابل کې د جزاء لپاره، قاضي يوه تاييده شوې جزاء، له تش ګواښنې څخه نيولې بيا تر جريمې او بند پورې ټاکې. په بله وينا ، قاضيان د تعذيري جرم د جزاء د ټاکلو په اړه د عده په خبره سلطه الاختيار (د ټاکلو اختيار) لري، چې د سلطه التحکيم (پخپله خوښه د جزاء ټاکل) په مقابل کې واقع ده. د حکومت کولو په اسلامي تيورۍ کې، نه قاضي او نه حکومت او نه کومه بله اداره هېڅ يوه يې د وروستې ډوله (سلطه التحکم) نامحدوده واک نه لري[98]. عده وروسته دوه بديل موقفونه توضيح کوي، چې د تعذير پراختيا غوښتونکې نظريه څرګندوي. يو بديل دا دی، چې د دولت مشر ورته جزاء ټاکي او بل دا چې د تعذير لپاره د مرګ تر کچې هم د جزا وړاندوينه کوي او ددې لپاره د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) پېژندل شوی حديث را نقلوي، چې مسلمانانو ته وايي: "کله چې تاسې ټول په يوه مشر باندې موافقه سره وکړه او بيا يو څوک هڅه وکړي، چې تاسې منشعب کړي او ستاسې ټولنه ووېشي- ويې وژنئ" دغه حديث په ښکاره توګه په يوه ځانګړې وضعې او يو ډېر غټ خاص سياسي حالت پورې اړه لري، چې نه شي کېدای د تعذير په برخه کې د مرګ جزاء ته پراخ شي.

د عبده او ددې ليکنې د ليکوال په نظر د تعذير په اړه يو محدود موقف نيول غوره برېښي. ځکه زما په عقيده د تعذير په اړه د جرمونو او جزاګانو په اړه يو خلاص نامحدود نظر به له هغو قانوني اصولو سره، چې افغانستان جوړ کړي دي، تطابق ونه لري.

په دې توګه، وړانديز کېږي، چې پر (۱۳۰ مه) ماده دومره پراخ تکيه کول، لکه چې د افغانستان په محکمو کې پرې کېږي، بايد ودرول شي او ستره محکمه (SC) بايد په دې اړه د اړتيا وړ نوښت رامنځ ته کړي او د اساسي قانون د تفسير له لارې، چې موږ يې وړانديز کوو، بايد داسې تعديل معرفي شي، چې (۱۳۰) ماده يوازې په مدني دعواوو کې تطبيق شي.

---

۹۸ "عبدالقادر عوده، التشريح الجناح الاسلامي مقارنين باالقانون الواضح۱۳ م چاپ، (بيروت: موسسه الرساله، ۱۹۹۴/ ۱۴۱۵)، اول جلد ، ۱۳۸- ۱۴۹. په عين حال کې د محمد هاشم کمالي، "په يو اسلامي دولت کې د قدرت حدود "، اسلامي څېړنې، (The Limits of Power in an Islamic State," *Islamic Studies*)، ۲۸: ۴ (۱۹۸۹)، ۳۳۵.

## ۸. د ښځو حقونه: هیلې او حقایق

د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون د ښځو د مساوي حقونو ملاتړ کوي او په عامه ژوندانه کې د ښځو د پراخ ګډون د تضمین لپاره مهم اقدامات ترسره کوي. په اساسي قانون کې داسې مادې شته، چې د ښځو موقف په مستقیمه توګه تعریفوي، داسې مادې هم شته، چې د جنسیت په اړه بې پرې دي، خو د ښځو د حقونو ملاتړ کوي. په لومړي مورد کې، (۲۲ مه) ماده په څرګند ډول اعلانوي، چې "د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی." په یاده ماده کې اضافه شوې ده، چې: "د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري." د یادونې وړ ده، چې د "ښځې او نارینه" اصطلاح د اساسي قانون په مسوده کې چې لویې جرګې ته وړاندې شوې وه، وجود نه درلوده، خو پورتنی مفهوم پخپله د ښځو د استازو له خوا وړاندیز شو او په پای کې ومنل شو.[۹۹]

په عامه ژوند کې د ښځو ګډون لړ تر لړه له دوو لارو څخه مطرح شوې ده: لومړی، په (۳۳ مې) ماده کې چې هر وګړي ته د "انتخاباتو او انتخاب کېدو حق ورکوي". دویم، اساسي قانون د افغانستان دوه مجلسه پارلمان ته د ښځو لپاره کمې څوکۍ په پام کې نیولې دي. په ولسي جرګه کې له هر ولایت څخه د ښځو لپاره لږ تر لږه دوه څوکۍ ځانګړې شوي، چې ټوله شمېره یې په ۲۴۹ څوکیو کې ۶۸ څوکۍ کېږي. په همدې توګه د مشرانو جرګه په اړه هم ویل شوی، چې یوه پر دریېمې برخې استازې به یې ښځې وي (۸۳- ۸۴ مادې)؟ (بنظر مترجم در مشرانو جرگه براساس قانون ۱۷ چوکی برای زنان اختصاص داده شده است و دو سوم غلط است. در هنگام ایدت کردن به این موضوع توجه شود) لکه چې وویل شو، ښځو د اساسي قانون د تدوین په درې واړه پړاوونو، تسوید، بیاکتنه او تصویب کې ګډون درلود او دوی پر دې بریالي شول، چې د ښځو له حقونو څخه د اساسي قانون ژبه باید پیاوړې او مشخصه وي.[۱۰۰]

په عین حال کې، (۴۵ مه) ماده کورنۍ د ټولنې د یوه اساسي رکن په توګه اعلانوي او له دولت څخه غواړي، چې "د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تامین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه" ونیسي.

هغه مادې، چې د جنسیت لپاره ځانګړې نه دي، (۶ مه) او (۷ مه) ماده ده، چې لومړۍ یې له دولت څخه د انسان د کرامت او بشري حقونو ساتل، او دویمه یې له دولت څخه د نړیوالو تړونونو او د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د رعایت غوښتنه کوي.

په دویم فصل کې ډېرې مادې د "اتباعو اساسي حقوق او وجایب" تر عنوان لاندې په غیرمستقیم ډول د جنسیت په اړه دي او په دې توګه د ښځو د حقونو ملاتړې دي. هغه تضمینونه، چې د بیلګې په توګه په ۲۳ مه ماده (د ژوند حق)، ۲۴ مه ماده (د آزادۍ او انساني کرامت حق) او ۲۹ مه ماده (له تعذیب څخه خوندیتوب) کې موجود دي، کولی شي ښځې له زیانمنونکو دودیزو رواجونو څخه وساتي.

دغه اقدامات د ۱۹۶۴ ز. کال د اساسي قانون په پرتله چې ښځو ته یې د رایې ورکولو حق او د هغوی د سیاسي او مسلکي ونډې په اړه اصلاحات منلي وو، د پام وړ سمونونه دي. د ۲۰۰۴ ز. کال د اساسي قانون ټولو هغو وړاندیزونو ته شاملېږي، چې د بن تړون له خوا د ښځو د وضعیت د ښه کېدا او په سیاسي ډګرونو کې د هغوی د برخه اخیستنې په اړه وړاندې شوي و. دغه وړاندیزونه په انتقالي اداره او د ۲۰۰۴ ز. کال په اساسي قانون کې په پام کې ونیول شول، خو واقعیتونه بل ډول دي:

د افغانستان د علماوو شورا[۱۰۱] د ۲۰۱۲ ز. کال په جنوري کې ښځو ته اعلان وکړ، چې "د شریعت پر اساس له نژدې خپلوانو (محرم) څخه پرته له سفر څخه ډډه وکړي". هغوی ټینګار وکړ، چې ښځې باید "په عمومي غونډو او ناستو، د زده کړو په ځایونو، بازار، ادارو او د ژوندانه په نورو برخو کې د نارینه وو له اختلاط څخه ځان وساتي،" او ښځې باید (تعدد زوجات) د اسلام د اصولو په توګه په رسمیت وپیژني[۱۰۲]. د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت (د ۲۰۱۲ ز. کال د مارچ اتمه) د ښځو فعالینو د علماوو د شورا دغه

۹۹ د تفصیل لپاره د کمالي "اسلام ته مراجعات" ، (References to Islam and Women)، وګورئ. ، ۳۰۰ مخ.

۱۰۰ هاشمزی، "د قواوو تفکیک"، (The Separation of Powers)، ۲۷۳ مخ.

۱۰۱ د افغانستان د علماوو سرتاسری شورا، چې کابل ښار ته نژدې په یو لوی مارکیت کې موقعیت لري؛ یوه ۱۵۰ کسیزه مرکزی شورا لري، چې په میاشت کې یو ځل غونډه کوي. دا یوه مدني ټولنه ده، چې پر ۲۰۰۲ ز. کال د حکومت په ملاتړ جوړه شوه، او په دوو کلونو کې ټولو ۳۴ ولایتونو ته پراخه شوه، چې دهیواد تر ټولو لویه (رسمی) دیني اداره ده. د راپورونو پر بنسټ، دغه شورا ۳۰۰۰ غړي لري، چې له هر ولایت څخه نژدی (۸۰) تنه عالمان او ملایان پکې شامل دي. د دې شورا غړي په عمده توګه سنیان دي، خو د ۲۵ سلنې په شاوخوا شیعه عالمان هم غړیتوب یې لري. د دې شورا د غړو لویه برخه د ۱۹۸۰ ز. کلونو د جهادي تنظیمونو غړي دي. ټولو ته حکومت تنخواه ورکوي او دیر یې نور موقفونه لکه په ښاري جوماتو کې امامان، د حکومت کارکوونکی او ښوونکي هم دي. د تفصیل لپاره د برهان عثمان لیکنه "د علماوو شورا: د عامه ذهنیت د جذب لپاره معاش اخیستونکی- ولی آیا دوی دا کار کولای شی؟" وګورئ. د ۲۰۱۲ کال د نومبر پنځمه http://www.afghanistan-analysts.org/the-ulama-council-paid-to-win-public-minds-but-do-they/, 5 November 2012 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د فبروری ۲۰).

۱۰۲ د رسول رحیم، ویراستار، او عارف فرهمند راپور، د دویچه ویلی په دري پروګرام کې http://www.dw.de/اعلامیه-شورای-علما-ناقض-قانون-اساسی-افغانستان/a-15794920, 8 March 2012, 2 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د فبروری ۲۰). د علماوو د شورا اعلامیه د افغانستان د اساسي قانون نقض دی. (۲ مخ).

پرېکړه او له دغې پرېکړې څخه د جمهور رئيس ملاتړ، چې دوه ورځې پخوا يې په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې اعلان کړه، تر انتقاد او نيوکې لاندې ونيوله. د سلما بيات له خولې ويل کېږي، چې "په دې صورت کې د ښځو د ورځې لمانځل څه معنا لري؟" "ځکه دغه پرېکړه د اساسي قانون ضد او په ښکاره توګه له تبعيضه ډکه پرېکړه ده. ميرمن يون ويلي دي چې: "اوس اوس نارينه او ښځې يو ځای په دفترونو (ادارو) کې کار کوي. که چيرې حکومت د علماوو شورا له پرېکړې څخه ملاتړ کوي، نو آيا د دې معنا دا نه ده، چې دغې ټولې ښځې بايد خپلو کورونو ته لاړې شي؟" هغې زياته کړې، چې دا خبره د سيمې په ټولو هېوادونو کې غير معمول ده، او "زه باور لرم، چې ددې خبرې ترشا يو سياسي انګيزه پرته ده" [۱۰۳]

مسعوده کوهستانۍ وايي، چې دا موضوع د نوي اساسي قانون له توشيح کېدو راهيسې څو واري تر بحث لاندې نيول شوې ده، په تېره بيا د ۲۰۰۵ ز. کال له ټولټاکنو وروسته، چې د ښځو لويه شمېره پارلمان ته راغلې، او هغوی اکثره د خپل رسمي موقف له امله بهر ته سفرونه درلودل. کوهستانۍ د علماوو د شورا صداقت او د اعلاميې وخت تر پوښتنې لاندې راوستې ده. هغې وليکل، چې دا خبره په ښکاره توګه د اسلام د دين پر ضد نه وه، خو د ټولنې له متداولو شرايطو سره يې سازش نه درلود او کېدای شي دخپلوانو ترمنځ د کورنيو اختلافونو سبب شي. کوهستانۍ وايي، چې د يوې مسلمانې او د دې خاورې د يوې ښځې په توګه "غواړم ووايم، چې موږ په ۲۱ مه پيړۍ کې ژوند کوو او زه ځېنې پوښتنې لرم، چې بايد طرحه يې کړم:" [۱۰۴]

- ولې دغه پرېکړه په داسې وخت کې ترسره شوه، چې له طالبانو سره د مذاکراتو د پيل په اړه چې د حکومت د تګلارې په سر کې قرار لري، خبرې کېږي؟
- ولې دغه پرېکړه کلونه پخوا، کله چې دا خبره د ورځې موضوع وه، ونه شوه؟
- چا دغه پرېکړه ځنډولې وه، حکومت که بهرنيو لاسونو؟

کوهستانۍ زياته کړې ده، چې که څوک د دې پوښتنو د ځواب په لټه کې وي، داسې معلومېږي چې د دې خبرو تر شا د دين پرځای سياست ځای لري. کېدای شي دغه پرېکړه له طالبانو سره په خبرو اترو کې ديوې سياسي وسيلې په توګه استعمال شي.

دغه پرېکړه په عين حال کې د هغو کورنيو لپاره له ستونزو ډکه ده، چې نارينه غړي نه لري، يا نارينه يې خپل ژوند په جګړه او پېښو کې له لاسه ورکړي دي، او په نتيجه کې ښځې اړې دي، چې د کورنۍ مسئوليت پر غاړه واخلي. دغه ډول ښځې به نارينه محرم له کومه کړي؟ د دې ترڅنګ داسې فرض کړئ، هغه ښځه، چې د دندې پر اساس سفر کوي، او مېړه هم ولري، چې هغه هم رسمي دنده ولري، رخصتي نه شي اخيستی، يا د کورنۍ اقتصادي ستونزې له امله نه شي کولی، چې له خپلې مېرمنې سره يو ځای سفر وکړي، او که چيرې يې لګښت دولت پر غاړه اخلي، د دولت د بوديجې لپاره لوی بار ګڼل کېږي، نو څه بايد وشي؟

دا ډېرې مهمې پوښتنې دي، چې د علماوو شورا له خوا بې ځوابه پرېښودل شوي دي. دغه پرېکړه ليک په عين حال کې له اوسنيو علمي نظريو او اړوندو فتواګانو سره هم ورته والی نه لري. د بېلګې په توګه د ډېر مشهور او وتلي عالم يوسف القرضاوی فتوا ته، چې له محرم پرته په الوتکه کې د ښځو سفر روا ګڼي، وګورئ. القرضاوي توضيح کوي، چې د فقه له مخې، د ښځو د سفر د ممانعت د ښځو جسمي او معنوي خونديتوب دی، چې د هوا له لارې په اوسنيو سفرونو کې دغه موخه تامينه شوې ده. هغه د اړوندو احاديثو (په موضوع پورې تړلو حديثونو) د تحليل په اساس خپل نظر پيياوړی کړی دی، او داسې پايلې ته رسيدلی، چې له معاصرو شرايطو سره په ښه توګه اړخ لګوي[۱۰۵]. د مصر دارالانشاء هم په دې اړه يوه فتوا صادره کړې ده، چې وايي:

> د يوې ښځې لپاره اجازه شته، چې له محرم پرته سفر وکړي، په دې شرط، چې د خپل سفر او استوګنځای او بيرته راګرځېدو د خونديتوب په اړه ډاډمنه وي او دا چې څوک پخپله د دې او د دې د دين مزاحمت ونه کړي... زموږ په وخت کې فتوا داسې ده، چې ښځې اجازه لري يوازې د سفر د خوندي طريقو، عمومي لارو، بندرونو، ګودرونو، هوايي ډګرونو او عامه ترانسپورت له لارې سفر وکړي. دغه ډول سفرونه په شريعت کې له کوم اعتراض او له دې پرته، چې سفر جبري، سپارښتي يا په اجازې سره وي، روا ګڼل کېږي. [۱۰۶]

۱۰۳ هماغه ځای، ۴ مخ.

۱۰۴ مسعوده کوهستانۍ، "د علماوو د شورا پرېکړه، چې د محرم نه لرونکو ښځو په اړه صادره شوې ده، کومه هڅه ده، وايي؟ http://www.kabuljournal.com/index.php/social/56-2012-03-29-10-19-14, 30 May 2011 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د مارچ۳).

۱۰۵ د تفصيل لپاره د القرضاوی فتوا (Can a Women Travel Alone in Islam) په www.alsiraj.net/English/misc/women/html/page25.html, 30 May 2011 (لاسرسی د ۲۰۱۴کال د مارچ ۳). وګورئ. په عين حال کې د محمد هاشم کمالی، "قانون او ټولنه: په شريعت کې د ځارنې او دليل متقابلې اغيزې"، (Law and Society: The Interplay of Revelation and Reason in the Shariah," in *The Oxford History of Islam*)، جان ال. اسپوسيتو، د اسلام په اړه د اکسفورد تاريخ، د اکسفورد د پوهنتون مطبعه، ۱۹۹۹، ۱۸ مه ص.

۱۰۶ ۳۲۸۴ شميره فتوا، http://www.dar-alifta.org/ViewFatwa.aspx?IDhttp://www.dar-alifta.org/ViewFatwa.

په لبنان کې د شیعه مذهب ډېر وتلی او مشهور عالم سید فضل الله (۲۰۱۰ز.)، د ښځو په اړه یو اغیزمن قرآني تحلیل وړاندې کوي، چې په یوې پوښتنې سره پیلېږي: دا ولې داسې ده، چې هر کله یوه ښځه د یو ټولنیز، سیاسي او فرهنګي کار لپاره له کوره وځي، پر هغې د انحراف تور په داسې بڼه لګول کېږي، چې ته به وایې، هغه یو داسې انسان ده، چې نه اخلاق لري او نه ځان ساتلی شي، خو د نارینه وو په اړه بیا داسې تصور وجود نه لري! آیا د نارینه وو لپاره د انحراف امکان وجود نه لري؟

دغه لیکوال وړاندې داسې توضیح ورکوي: لاتراوسه هم مسایلو ته د زړو دودونه په سترګه کتل کېږي، چې ځینې وخت خو لا داسې کتابي تفسیرونو او متني معلوماتو ته مراجعه کېږي، چې په اساس کې د ځانګړو شرایطو لپاره وي[۱۰۷]. موږ پوهېږو، چې قرانکریم معتبر معیارونه ټاکي؛ موږ په عین حال کې پوهېږو، چې قرآنکریم د نارینه وو او ښځو له ښو کړنو څخه یادونه کوي، همدا راز د ناوړو اعمالو په تړاو د دواړو په اړه په عین موقف کې خبرې کوي. قرآن شریف د ښځو په اړه د عبرت له پلوه خبرې کوي، لکه څرنګه، چې د نارینه وو په اړه، هم له مثبت او هم له منفي اړخ خبرې کوي. په همدی توګه کله چې قرآن کریم له امر باالمعروف څخه یادونه کوي، ترڅو د بشر د کړنو معیار لوړ کړي او هغه وخت چې له نهی عن المنکر څخه خبرې کوي، ترڅو د انسان نیمګړتیاوې څرګندې کړي، د جنسیت ترمنځ فرق نه کوي. په همدی ډول کله چې قرآنکریم د نارینه وو او ښځو په اړه د یو بل د وصي (اولیاء) په توګه خبرې کوي، د هغوی ترمنځ هېڅ راز توپیر ته قایل نه دی.

اوس نو دا زموږ دنده ده، چې له قرآن کریم څخه د یوه مقدس لارښود په توګه ګټه واخلو او ترې د غلطې استفادې مخنیوی وکړو. البته دا ممکنه ده، چې ځینې خلک له "مقدس کتاب" څخه غلط درک ولري او یا د موخې په اړه یې اغراق او مبالغه وکړي. موږ باید هرو مرو، په هر حال، "دا زړورتیا ولرو، چې د ناوړه ګټه اخیستونکو په وړاندې مقابله وکړو او په عین حال کې د خپل اسلامي حقیقت په اړه داسې پوهه ولرو، چې ګټورې او زیانمنونکې کړنې سره ګډې نه کړو... موږ باید هر څه چې ګټور دی ویې ساتو او زیانمن شیان رد کړو". فضل الله ادامه ورکوي، که موږ په دې کار بریالی نه شو، نو موږ د جهالت منطق (المنطق الجهالیه) په لاره روان یو، چې قرآن کریم په واضحه توګه یې غندلی دی: "موږ وینو، چې زموږ اجداد په یوه ځانګړې لاره تللې او موږ به یقینا د هغوی قدمونه تعقیب کړو (قرآن الزخروف، ۴۳: ۲۳)[۱۰۸].

پردې سربېره، کېدای شي، یو څوک د فقه قانوني مقولو ته مراجعه وکړي، چې وایي "د وخت له بدلون سره د قوانینو بدلون انکار نه منونکې خبره ده"[۱۰۹] په دې ځای کې مقوله په تیره بیا د فقه له قواعدو سره تړلې ده، چې له دودیزو کړنو او پخوانې اجتهاد څخه سرچینه اخلي. کله چې د ټولنې په دود او شرایطو، او د وخت په اړتیاوو کې بدلون راځي، باید اړوند قواعد هم تغییر وکړي او پر ځای یې نور مناسب بدیلونه رامنځ ته شي[۱۱۰]. د علماوو د شورا پرېکړه لیک د ټولنې له اوسنیو شرایطو لرې او داسې سپارښتنې یې کړې دي، چې ستونزې رامنځ ته کوي. له دې پرته، چې وغواړو تفصیل ته داخل شو، د یادونې وړ ده، چې په قران کریم کې د جنسي توپیر په اړه کوم ښکاره حکم وجود نه لري او په دې اړه نارینه وو او ښځو ته یوازې عمومي لارښوونې لکه په عامه ځایونو کې د حیا ساتل او یو بل ته له ځیر، ځیر کتلو څخه ډډه کول، موجود دي (النور، ۲۴: ۳۰-۳۱) په سنت کې داسې غیرقابل انکار شواهد شته، چې ښځې د حضرت پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) په وخت کې د عامه ژوندانه لویه برخه وه او هغوی اجازه لرله، چې په حکومت کې ګډون ولري او په عامه دفترونو کې د دندو خاوندانې وي. پر دې سربېره، فقهي ادبیات په داسې موضوعاتو کې عمومي دود (عرف) او د ټولنې شرایطو ته په درنه سترګه ګوري[۱۱۱].

سربېره پردې، د شلمې پېړۍ پوهې، قضایي نوښتونو او د کورنۍ قانون د اصلاح په اړه قانون جوړونې، د فقه د ځانګړو اړخونو په راز راز موضوعاتو کې اصلاحات رامنځ ته کړي دي. په دغو اصلاحاتو کې، لکه چې مخکې ترې یادونه وشوه، د تعدد زوجات، طلاق، د شهادت ورکولو وړتیا، په قضایي اداره کې ګومارنې، خوندیتوب، وصي توب، او د قانون په وړاندې د ښځو برابروالی شامل دي.[۱۱۲] په خواشینۍ سره افغانستان په دې اړه شاته پاتې ده او د ۱۹۷۷ ز. کال د مدني قانون اصلاحاتي اجزاء د دغو موضوعاتو په اړه په پوره توګه بې تفاوته او بې اهمیته پاتې دي.

---

aspx?ID=3684&LangID=1, 30 May 2011 (لاسرسی د ۲۰۱۴ د فبروری ۲۰).

۱۰۷ لوی آیت الله سید محمد حسین فضل الله، الانسان والحیات، شفیق المسعودي، (بیروت دارالملک ۲۰۰۱)، ۲۳۰.

۱۰۸ هماغه ځای، ۲۳۱ مخ.

۱۰۹ د پند ا وجیزې په عربي متن کې داسې راغلي دي: "لاینکر تغیر الاحکام باالتغیر الزمان" مجله الاحکام العدلیه، (۳۹ مه ماده).

۱۱۰ د تفصیل لپاره د محمد عثمان شبیر، القواعد الکلیه والضوابط الفقیه فی الشرعیه الاسلامیه، (امان: دارالنفایس، ۲۰۰۲)، ۲۵۹ مخ.

۱۱۱ د تفصیل لپاره د محمد هاشم کمالي، آزادی او عدالت په اسلام کې، (*Freedom, Equality and Justice in Islam*)، کمبریج: داسلامي متنونو ټولنه، ۲۱- ۷۵ مخونه؛ د شریعت قانون (n۴۹) ۲۲۷- ۲۷۸

۱۱۲ د نور تفصیل لپاره هماغه ځای وګورئ (زما دواړه یاد کتابونه د ښځو او کورنۍ مسئلو په اړه معلومات وړاندې کوي).

د افغانستان اساسي قانون په ښکاره ډول، د ښځو د حقونو رسمي مساوات منلي دي. خو تجربو ښودلې دي، چې په ټولیزه توګه په افغانستان کې د ښځو حقوق یوازې په قانون کې د کاغذ پر مخ پاتې دي او د تطبیق لپاره نه په عملي پالیسۍ کې ځای لري او نه داسې حمایوي اقدامات شوي، چې د تبعیض عملي اړخونه، چې د اسلام پر اساساتو نه دي ولاړ او ډېر یې د قومي او فرهنګي دودونو پایله ده، له منځه یوسي. لکه چې د ښځو د حقونو په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې څېړنې ښیي، د ښځو د حقونو په اړه ځینې پرمختګونه شوي دي: "په ټولیزه ژوندانه کې د ښځو ګډون او په زده کړو کې د جنسیتی توپیر د کموالي په برخه کې، مهمې چارې ترسره شوې دي. [خو یاد] پرمختګونه د ستونزو کچې ته په کتو سره کافي نه دي... [او] پایلې یې له غوښتنو سره تطابق نه لري." او بیا په دې څېړنه کې داسې یادونه شوې، چې "قانون جوړونه یوازې یو اساس ده.... په افغانستان د ژور جنسیتي تغییر لپاره په تګلورو او لیدلورو کې د بدلون اړتیا لیدل کېږي." AREU[113] وړاندیز کړی و،

> چې په دې برخه کې باید د جوماتونو ملا امامان او علماء همکاري وکړي او هغوی ته د ښځې د ونډې په اړه ځینې مسایل تشریح شي... نړیواله ټولنه هم باید د افغانستان له حکومت سره خپلې سیاسي او تخنیکي ملاتړ ته دوام ورکړي، ترڅو دغه موخې ترلاسه شي"[114] له بده مرغه د افغانستان ټولنیز او اقتصادي واقعیتونه، د افغانستان د ښځو په ژوندانه کې د اساسي قانون له موادو څخه د پلي کېدو مانع ګرځېدلې ده.

کله چې ښځې له تبعیض او تاوتریخوالي سره مخ کېږي، نو د ځرګندولو په اړه یې زړه نا زړه وي، ځکه چې د هغوی لپاره، خپلو ستونزو ته پام را اړول کېدای شي، دومره له زیان څخه ډک وي، چې دغه تاوتریخوالی په خپله هومره ورته زیانمن نه وي. کېدای شي، چې ښځې د نه تطبیق وړ قوانینو د ماتولو په جرم توقیف شي او د قضایي سیستم په دننه کې له تبعیض سره مخ شي[115]. دې موضوع ته به د پایلې په برخه کې بیرته راوګرځم.

۱۱۳ د افغانستان د څیړنې او ارزونی د واحد څېړنې، د ښځو حقونه، د جنسیت برابروالی او انتقال: لاسته راوړنې، مخ په وړاندې خوځښت، (Women's Rights, Gender Equality and Transition: Securing Gains, Moving Forward)، کابل، د ۲۰۱۳ کال سپتمبر، ۴۲ مخ.

۱۱۴ هماغه ځای، ۴۳ مخ.

۱۱۵ بارفیلد (n۷۲)، ص. ۳ د اریکا ګاستون او تیم لوکارو "عدالت ته د ښځو لاس موندنه". (Women's Access to Justice in Afghanistan: Individual versus Community Barriers to Justice)، (واشنګټن دی.سی: USIP، ۲۰۱۴).

# ۹. اساسي قانون، دموکراسي او اسلام: همغږيتوب يا ناانډولي

د اساسي قانون او دموکراسۍ مفاهيم په طبيعي ډول يو بل تغذيه او تاييدوي، خو سره له دې دواړه يوشی نه دي او کېدای شي په مشخصو شرايطو کې د يو بل په وړاندې واقع شي او خړپړتيا رامنځ ته کړي. په داسې حال کې، چې دموکراسي د اکثريت په حاکميت ولاړه ده، اساسي قانون د قانون حاکميت غواړي. دا به ډېره ستونزمنه خبره نه وي که ټولټاکنې پر يوه هېواد تحميل شي، خو د قانونيت رامنځ ته کول، اساسي حقونو ته ژمنتيا، او د قدرت د ادارو (درې ګونو قواوو) ترمنځ د انډول او توازن ايجاد په نسبي توګه ستونزمن ښکاري. که چيرې دموکراسي "پر خلکو د خلک د خلکو حکومت" په بڼه تعريف شي، کېدای شي اساسي قانون په ساده ډول "د يوه قانون له لارې د خلکو له خوا د پرېکړو کول" وګڼل شي[۱۱۲] د اساسي قانون په زړه کې د استازي حکومت سنجول شوي انتخاب وجود لري، چې سياسي ژوندانه د حاکم او هغه چا ترمنځ چې پرې حاکميت کېږي، د يوه الزام راوړونکي تړون په اساس سياسی ژوندانه، داسې سمبال کړي، چې بدلون به يې ستونزمن وي[۱۱۷]. د اساسي قانون د اصولو پراساس داسې بنسټيز ټولنيز ارزښتونه او انفرادي حقونه وجود لري، چې حتا د اکثريت په خوښه هم نفی کېدای نه شي[۱۱۸]. ډېره لويه تجربه موجوده ده، چې د اساسي قانون پر بنسټ قانونيت وخت په وخت دموکراسي تغذيه کوي، خو حتمي نه ده، چې دموکراسي پخپله خوښه اساسي قانون ته ژمن حکومت راولي. په داسې حال کې دموکراسي د اکثرت له لومړيتوبونو څخه ملاتړ کوي، اساسي قوانين مخکې له مخکې ټاکل شوي محدوديتونه د اکثريت پر ارادې تحميلوي[۱۱۹].

اسلامي پوهان له دموکراسۍ او اساسي قانون څخه د اسلامي اصولو پراساس په خپلو تحليلونو کې د نظر اختلاف لري. په هر حال، داسې نظريه چې نسبتا د يوه بشپړې او جامعې نظريې رنګ خپل کړي، دا ده، چې دموکراتيک سيستم د اسلام له خوا د منلو وړ دی. او دا ځکه چې دموکراسي د اساسي حقونو او آزادۍ، د قانون د حاکميت، يو استازی او ګډ حکومت، د قواوو بېلاوالي او د قانون په وړاندې د برابروالي په معنا ده. حقونه او آزادۍ د بشري عزت ښکارندويي کوي، چې بايد هرو مرو د دولت له قهري قوې څخه وساتل شي. اساسي قانون هم د محدوديتونو، تنظيم او د دولت د راز راز ادارو ترمنځ د قدرت د وېشلو يوه وسيله ده.

په عمومي توګه، اسلام د دموکراسۍ ډېر اړخونه تاييدوي او د عامه ګټو او مصلحتونو د خونديتوب او ساتنې، د مشورتي حکومت د رامنځته کولو، محاسبې او عدالت ته د ژمنتيا په برخه کې مثبت موقف غوره کوي. اسلام له يو محدود حکومت څخه، چې د شريعت هدفونو او مقصدونو ته ژمن وي، ملاتړ کوي. اسلام او دموکراسي دواړه د خلکو هوساينه او د ژوند د اساسي حقونو، شخصي خونديتوب او محرميت او مالکيت تامين غواړي. شريعت په عين حال کې د زده کړې او استخدام حقونه او د ژوند ضروري اړتياوو ته د اشخاصو لاسرسي، په رسميت پيژني[۱۲۰].

ډېر شواهد د دې څرګندوی دي، چې اسلام د روحانيونو د حاکميت پرځای د حاکميت له مدني سيستم څخه ملاتړ کوي، ځکه چې د دولت مشر د خلکو له خوا د مشورې، نوماندولو او د تابعيت د منلو له لارې ټاکل کېږي، چې د نن ورځې د خلکو له خوا ټاکل شوي حکومت سره، چې د قدرت واګې د خلکو په لاس کې دی، پوره ورته والی لري. د دولت مشر د خلکو په وړاندې مسئول دی او د محکمې د صلاحيت پيروي کوي، او په پای کې خلک دا قدرت لري، چې د دندو له اجراء څخه د سرغړونې په صورت کې يې له دندې موقوف کړي. د دولت د مشر دغه اداري مدني خصوصيت د فقه په دې مقوله کې نغښتې ده، چې "د دولت د رئيس چارې (د هغه برياليتوب او نه برياليتوب) د عامه ګټو پراساس سنجول کېږي (امر الامام منوط باالمصلحه)".

القرضاوي له دموکراسۍ او ټاکنيز جريان څخه ملاتړ، او يادونه کوي، چې ټاکنې له شاهدۍ سره په دې کې برابره او معادله ده، چې يو نوماند ته د رايې ورکړه، د خلکو له خوا د نوماند د وړتيا او باور تصديق او شاهدي ورکوي، او د شاهدي ورکړه د مسلمانې ټولنې لپاره ډله ييز مکلفيت (کفايي فرض) ګڼل کېږي. حزبي سياست هم د حکومت په چارو کې د منظم ګډون يوه وسيله ده. سياسي ګوندونه، له ځينو اړخونو، د فقهله مکتبونو، يا مذهبونو سره ورته والی لري، چې کېدای شي، حقوقي ګوندونه وشمېرل شي، چې

---

۱۱۲ فرانک آی. ميجلمن، برنيان او دموکراسي، (Brennan and Democracy)، (پرنيستون: د پرنيستون پوهنتون مطبعه، ۱۹۹۹)، ۵-۶ مخونه.

۱۱۷ لاورنس اچ. ترايب، د امريکا اساسي قانون، (American Constitutional Law)، (نيويارک، فونديشن پرس، ۲۰۰۰)، دريېم چاپ، ۲۰ مخ.

۱۱۸ والتر مورفی، "د اساسي قانون د تفسير هنر"، (The Art of Constitutional Interpretation)د ام. جو دهرمان، د متحده ايالتونو په اړه مقالې، (in Essays on the Constitution of the United States)، (نيويارک کنيکت پرس، ۱۹۷۸)، ۱۳۰ مخ.

۱۱۹ ساموئل ايساچارف، "په ټوټې شوو ټولنو کې د اساسي قانون پربنسټ دموکراسي"، (Constitutionalising Democracy in Fractured Societies)، (د تکساس د قانون بياکتنه: ۸۲ (۲۰۰۴): ۱۸۲۱.

۱۲۰ محمد هاشم کمالي، "په اسلامي هيوادونو کې اساسي قوانين: د اسلامي قانون معاصر ليد"، (Constitutionalism in Islamic Countries: A Contemporary Perspective of Islamic Law)، ګروت او رودر (n۹) ۲۴ اف، په اسلام کې د ژوند، خونديتوب، محرميت، او ملکيت، (in Constitutionalism in Islamic Countries)، کمبريج: د اسلامي متنونو ټولنه، ۲۰۰۸، مقدمه، هماغه ځای. "په يوه اسلامي دولت کې د واک محدوديت" اسلامي څېړنې (۱۹۸۹)، ۳۲۳-۳۵۳ مخونه.

په مسایلو کې راز راز نظریې ولري[۱۲۱]. کولای شو اضافه کړو، چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر، چې د قرآن اساسي اصل دی، د انفرادي اشخاصو په پرتله د ګوندونو او اتحادیو له خوا په اغېزمن- ډول عملي کېږي، او که د هغوی موخې همدا وي، نو په اسلام کې سیاسي ګوندونه نه یوازې جواز لري، بلکې د شتوالي سپارښتنې یې هم کېږي[۱۲۲].

د دې پوښتنې په ځواب، چې دموکراسي د دې پرځای چې یوه اسلامې نظریه وي، غربي تفکر دی چې غربي نظریه ګڼل کېږي، القرضاوي وایي، اسلامي دود او پوهه د نورو تمدنونو د منلو په وړاندې بالنسبه آزاد موقف لري او له نورو دودونو څخه یې د منلو وړ ارزښتونه اخیستي دي. ټاکنیزه دموکراسي خلکو یا حکومت ته دا حق نه ورکوي، چې اسلامي عقایدو او د عباداتو اصولو بې، حلال او حرام او د تقوا اساساتو ته بدلون ورکړي. دا خبرې په قرآن کریم او حدیثو کې پیاوړې بنسټ لري او هېڅ ځوک حق نه لري، چې د دموکراسی په نوم پکې مداخله وکړي. د ټولنې د چارو اداره او د خلکو د هوساینې په اړه دموکراسي هڅه کوي، خلکو ته آسانتیاوې برابرې کړي او په دې لاره کې د خنډ اچولو مخنیوي وکړي. په دې توګه ویلی شو، چې دموکراسي د اسلام پر ضد نه ده[۱۲۳]. د حاکمیت د حق په اړه، چې په خلکو، اساسي قانون، یا پارلمان پوری اړه لري (په ترتیب سره فرانسه، متحده ایالات او انګلستان)، دا اسلامي نظریه نه، بلکې د سیاسي دموکراسی نظر ده، چې اسلامي پوهانو په اړه یې خپل ملاحظات څرګند کړي دي. خو ډېرو دغو پوهانو د مطلق حاکمیت (سیادت الحکم)، چې کولی شي، قانون جوړ یا جوړ نه کړي، او اجراییوي حاکمیت (السلطان التنفیذي) ترمنځ، فرق کړی دی. په وروستني مورد کې (په اجراییوي حاکمیت کې) د حکومت اسلامی طرز شتون لري، ځکه چې په هغه کې دا صلاحیت وجود نه لري، چې د اسلام او شریعت اساساتو ته بدلون ورکړي[۱۲۴].

ځېنو مبصرینو بیا په مصر کې د السیسی په مشرتابه د پوځي حکومت له ټینګېدو داسې پایله اخلي، چې اسلام او دموکراسي له یو بل سره موافق نه دی. په هر صورت، په دقیقه توګه ویلی شو، چې دا په ښه حکومت کولو د اخوان المسلمین نه بریالیتوب او د واک په حلقه کې نورو ته د ونډې نه ورکولو له امله وو، چې په مصر کې دا پېښې رامنځ ته شوې. اقتصاد سقوط وکړ، د جنایتونو کچه لوړه شوه، ټولنیز ناخوالې ډېر شول او د ژوند کیفیت په څرګند ډول د خرابوالي لور ته ولاړ. " انقلاب ضد، له دموکراسي سره ضدیت او د پوځي حاکمیت تایید نه و، بلکې په ښکاره توګه د اخوان المسلمین ردول او رټنه وه"[۱۲۵]. پخپله مصریانو له دموکراسی څخه لاس نه دی اخیستی. دواړه، اسلامي بنسټپال او سکولرستان اوس د پوځي رژیم د غیر دموکراتیکو اقداموپر ضد اعتراض کوي. د اخوان المسلمین نه بریالیتوب په دې معنا نه ده، چې اسلام او دموکراسي له یو بل سره توافق نه لري. ددې خبرې لپاره ډېر دلیلونه وجود لري. البته یو دلیل دا دی، چې اسلام د اخوان المسلمین په انحصار کې نه دی او بیا پخپله په مصر کې، په دوو وروستیو کلونو کې، د النور ګوند او د الازهر پوهنتون مشرتابه په دموکراتیک چاپېریال کې فعالیت کوي[۱۲۶]. خلکو په هغو هېوادونو کې، چې په اصطلاح عربي پسرلی یې تجربه کاوه (تونس، مصر، لیبیا، او یمن) دموکراتیک بدیل ته لومړیتوب ورکاوه او داسې نه معلومېږي، چې لاتراوسه یې تغییر موندلي وي. داسې هېوادونه لکه اندونیزیا، مالیزیا، پاکستان، ایران، ترکیه او بنګله دیش، چې په بېلابېلو کچو تونډلارۍ اسلام او دموکراتیکو سیاسي جوړښتونو ترمنځ د ګډ ژوند لپاره، کار کوي، موږ ډاډمنوي، چې په اسلامي نړۍ کې د دموکراسی راتلونکې مثبت ښکاري. په هر صورت، ضروري ده، چې اسلامي ګوندونه او ویاندویان یې نه یوازې اجرایوي دموکراسي واک ته د رسیدو لپاره ټاکنیزه لاره وګڼي، بلکې اساسي اصول، جامعیت، مساواتو او د قانون حاکمیت یې هم ومني.

---

۱۲۱ د تفصیل لپاره د یوسف القرضاوي، من فقه الدوله في الاسلام، (قاهره، دارالشروق، ۱۹۹۷)، ۱۳۸

۱۲۲ د نور تفصیل لپاره د محمد هاشم کمالي، په اسلام کې د بیان آزادي، (*Freedom of Expression in Islam*)، (کمبریج، د اسلامي متنونو ټولنه، ۱۹۹۷)، " ۷۳- ۸۷ مخونه.

۱۲۳ القرضاوي (۱۲۲ n)، ۱۴۱ مخ.

۱۲۴ د تفصیل لپاره د محمد هاشم کمالي، "په اسلامي هېوادونو کې د اساسي قوانینو پلوي،(Constitutionalism in Islamic Countries)، ۲۸ مخ.

۱۲۵ مقتدر خان، "په مصر کې له انقلاب ضد پاڅون نه وروسته اسلام، دموکراسي او اسلامیزم"، (Islam, Democracy and Islamism after the Counterrevolution in Egypt) ، د منځنی آسیا پالیسي، ۲۱ ټوک، شمیره ۱، (۲۰۱۴)۸۰ مخ.

۱۲۶ هماغه ځای.

## ۱۰. د مبصرینو تحلیلونه او نظریې

په ټولیزه توګه د افغانستان د اساسي قانون په اړه د مبصرینو نظریې مثبتې دي، که څه هم ځینې یې انتقادي نظرونه لري، خو انتقاد کوونکي هم د اساسي قانون پر متن نیوکه نه لري، بلکې انتقاد یې پر جریان او پروسې باندې دی. په دې توګه ویل کېدل، چې د اساسي قانون لویې جرګې جګړه مارانو ته قانونیت ورکړ، "هغه کسان، چې د زیاترو افغانانو له خوا نامشروع او غیر قانوني ګڼل کېږي "[۱۲۷].احمد خطیبي په یو مثبت یادښت کې لیکي، چې اوسنی اساسي قانون "زموږ په هېواد کې تر ټولو ښه اساسي قانون دی... که څه هم داسې کمزورتیاوې لري، لکه چې پر سیاسي ګوندونو یې ځینې محدودیتونه راوستي دي"[۱۲۸]. اندریو فینکلمین وایي، چې د بن له جریان څخه راوتلی اساسي قانون اساسا "یو اعتدال خوښوونکی سند دی. د دې سند په متن کې د غیر مسلمانو مذهبي حقونه پېژندل شوي دي، دودیز او مذهبي قانون یې د مثبت قانوني حکم تر کچې رسولي او تر خپل چوکاټ یې راوستی دی، د جنسیت پر بنسټ تبعیض یې منع کړی دی، او د بشری حقونو نړیواله اعلامیې ته په خپل متن کې ځای ورکړی ده." [۱۲۹] فنیکمین زیاتوي، چې د پخوانیو اساسي قوانینو پرخلاف، چې عامه بحثونو ته وړاندې شوي نه وو "د اساسي قانون د تدوینولو دغه دوره د یادونې وړ اصلاحات لري او پخپل ذات کې- هم د افغانستان او هم په جنوب لویدیځه آسیا کې د دموکراسۍ د پلویانو لپاره یو بریالیتوب و "[۱۳۰].

د ملګرو ملتونو پخواني عمومي منشي، کوفی عنان دغه اساسي قانون "یو تاریخي لاسته راوړنه ګڼي، چې د افغانستان د خلکو د داسې ارادې استازیتوب کوي، چې غواړي هېواد یې په یوه باثباته او دموکراتیک دولت بدل شي"[۱۳۱] د متحده ایالتونو پخواني ولسمشر جورج بوش له خولې په دې اړه داسې نقل کېږي: "دغه نوی اساسي قانون د پرمختګ خوا ته یو تاریخي ګام دی، او موږ (متحده ایالات) به د افغانستان له خلکو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړو، چې آزاد او هوسا راتلونکې ولري"[۱۳۲].

محمد قاسم هاشمزی د اساسي قوانینو د تفسیر په تړاو د موجودو ستونزو په اړه خواشیني ښکاروي، هغه لیکي: "د افغانستان د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون په اسلامي نړۍ کې تر ټولو مترقي او معاصر اساسي قانون دی." هغه د اسلامي معیارونو او د اساسي قانون اصول داسې سره پرتله کوي، چې یو بل تغذیه او تقویه او د هغوی ترمنځ د همغږۍ ښکارندوی ده. هاشمزی زیاتوي "په افغانستان کې د ښه امنیت، ثبات او مدني حقونو د خوندیتوب لپاره، د اساسي قانون د اغېزمن نظام د رامنځته کېدو اړتیا لیدل کېږي " [۱۳۳]

پر ۲۰۱۲ کال د اساسي قانون د اتمې کلیزې په مناسبت غونډه کې په هالند کې د افغانستان سفیر پخپله وینا کې وویل، چې: "د افغانستان اساسي قانون په سیمه کې تر ټولو پرمختللی قانون دی" او زیاته یې کړه، له دموکراسۍ او اساسي حقونو څخه ملاتړ، د دغه قانون له ډېرو مهمو ځانګړتیاوو شمېرل کېږي [۱۳۴]

د رامین مشتاقي په خبره "د افغانستان اساسي قانون، د خپل ښه انډولیز خصوصیت له امله، د ټولنې د پرمختیاوو او بېلابېلو اهدافو د ترلاسه کېدو لپاره ښې زمینې برابروي " [۱۳۵] هغه په تیره بیا د اساسي قانون د مقدمې یادونه کوي، چې دده په اند "د یوه قانوني نظم د ټینګښت په برخه کې" د یوې مذهبي ټولنې هڅې دي "چې د قانون حاکمیت، دموکراسي او بشري حقونه له دې پرته چې د وګړو د قاطع اکثریت اسلامي هویت له پامه وغورځوي، عملي کړي". مشتاقي زیاتوي، چې افغاني ټولنه او مشران یې باید د "اساسي قانون ژمنه په حقیقت بدله کړي، او په دې توګه افغانستان، د هغه د اساسي قانون په څېر، په اسلامي نړۍ کې د مثال بېلګه شي. " [۱۳۶]

---

۱۲۷ دا د AREU (د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ) د جیمز الګالس لنډیز پانه "د افغانستان نوی اساسي قانون: د دموکراسۍ لپاره یو ګام شاته"، The New Afghan Constitution: A Step Backward for Democracy) ، http://fpif.org/the_new_afghan_constitution_a_step_backwards_for_democracy, 10 May 2014.(لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۴ ) ، ۵.

۱۲۸ احمد ارشاد خطیبي، "اد افغانستان په اساسي قانون کې د سیاسي ګوندونو ځای" http://www.afgjawanan.ca/2012/07/28/جایگاه-احزاب-سیاسی،-در-قانون-اساسی-افغانستان, 28 July 2012 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۲۸). د افغانستان د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون د نژاد، ژبې او مذهب پر بنسټ سیاسي ګوندونه منع کړی دی. دا هغه څه دي، چې خطیبي یې تر نیوکې لاندې نیسي. خو دغه محدودیت پوره عادلانه دی. د مصر اساسي قانون دې ته ورته احکام لري او دغه ممانعت جنسیت او محل ته هم غځوي.

۱۲۹ اندریو فنیکمن، "اساسي قانون او د هغه تفسیر: د افغانستان د اساسي قانون د انکشاف پروسې ته د اسلامي قانون په رڼا کې کتنه،(The Constitution and its Interpretation: An Islamic Law Perspective on Afghanistan's Constitutional Development Process)، ۲۰۰۲-۲۰۰۴" النخله (د جنوب لویدیځې آسیا او اسلامي مدنیت د مسئلو په اړه د فلیچر د مکتب آنلاین ژورنال) د ۲۰۰۵ کال پسرلی، ۲.

۱۳۰ هماغه ځای، ۳ مخ. کېدای شي دا نظر د ۱۹۲۴ ز. کال د اساسي قانون په اړه پر ځای نه وي، ځکه چې د دغه اساسي قانون عمده ټکي دا وو هغه کسان، چې د تسوید او بیاکتنې په جریان کې شامل وو، د رسنیو له لارې په بېلابېلو پړاوونو کې خلکو ته وروپېژندل شوي وو. البته یاد نظر د نورو ډېرو اساسي قوانینو په اړه سم برېښي.

۱۳۱ "بوش او عنان د افغانستان د نوي اساسي قانون هرکلي کوي" اکانومیک تایمز http://articles.economictimes.indiatimes.com/2004-01-06/news/27388329_1_afghan-people-new-afghan-constitution-draft-constitution, 6 January 2004 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۵).

۱۳۲ هماغه ځای.

۱۳۳ هاشمزی " "د قواوو تفکیک"، ۲۸۰ ص

۱۳۴ د افغانستان د اسلامی جمهوری سفارت په هاګ ، هالند کی http://www.afghanistanembassy.nl (لاسرسی د ۲۰۱۴ د آګست ۲۴).

۱۳۵ مشتاقي، (n۲۲)، ۷۱۳ مخ.

۱۳۶ هماغه ځای

سید محمودی د ایران اسلامی جمهوریت، پاکستان او سوډان له اساسي قوانینو سره د افغانستان د اساسي قانون د پرتله کولو په جریان کې داسې نظر ورکوي: "د افغانستان په اړه، ډېرې بیلګې شته، چې د مسودې جوړوونکو هڅه کړې وه، چې په اسلامي نړۍ کې تر ټولو ډېر معاصر اساسي قانون جوړ کړي." محمودي د اساسي قانون پر دې ژمنې، چې د ښځو او نارینه وو ترمنځ د مساواتو په اړه یې کړې دي او کېدای شي، چې د (۲۰) مادې پر بنسټ د هېواد جمهور رئیس ښځه یا نارینه وي، ډېر ټینګار کوي او خورا مهمه یې ګڼي[۱۳۷]. د غیر مسلمانو وګړو په اړه د پخوانیو مسلمانو پوهانو له راز راز دریځونو سره سره، محمودي زیاتوي، "دې حقیقت ته په کتو سره، چې د افغانستان اساسي قانون په ملي شورا یا سترې محکمې کې د عضویت لپاره مذهب د یوه شرط په توګه نه دی یاد کړی، د دې ښکارندویي کوي، چې په دې اړه د بېلابېلو مذهبونو په منځ کې توپیر یا تبعیض نشته"[۱۳۸].

۱۳۷ سید محمودي" شریعت د افغانستان په نوی اساسی قانون کی"، (The Shari'a in the New Constitution of Afghanistan)، ۸۷۹ مخ.
۱۳۸ هماغه ځای.

# پایله او وړاندیزونه

دجمهوري ریاست د اپریل د پنځمې نیټې بریالۍ ټولټاکنې، او د ۲۰۱۴ ز. کال د جون پر **۱۵** مه د هغې دویم پړاو، چې په یو سوله ییز چاپیریال کې ترسره شوې، او دا چې په دواړو پړاوونو کې د خلکو ګډون زیات وو، نو د دې ځرګندوی دی، چې افغانان د دموکراسۍ پلویان دي او د مسئول حکومت د جوړولو په برخه کې د خپلې خوښې ټاکل شوی اصل بې ګڼي. دا له رایه ورکوونکو سره د ځینو تلویزیونونو د مرکو پیغام و، چې ما په خپله اوریدلي دي. هغوی د طالبانو له جګړه ییزو ګوابنونو سره سره، د ټولټاکنو له لارې د افغانستان په تاریخ کې د واک د سوله ییز لیږد په اړه خبرې کولې. د دې څېړنې تر پای ته رسیدو پورې د ټاکنو نهایي پایلې معلومې نه دي. هیله کېږي، چې نوی جمهور رئیس او حکومت به د خلکو باور او لویو امیدونو ته په درنه سترګه وګوري او د دموکراسي او د قانون حاکمیت به د خپلې تګلارې په لومړیتوبونو کې وشمېري. غواړم خپل پاتې وړاندیزونه په لاندې ډول وړاندې کړم:

د فقه هغه مقوله، چې د وخت له بدلون سره قوانین هم تغییر کوي، د اساسي قانون په اړه هم مصداق لري. په عین حال کې یوازې د هغو شیانو بدلون، چې بدلون بې اړین وي، په اساسي قوانینو کې د تطبیق وړ ده، لکه چې اساسي قوانین پخپله د تعدیل طرزالعمل د منلو وړ ګڼي. د افغانستان اساسي قانون هم په دې برخه کې کومه استثناء نه ده. البته په دې اړه څوک له توجیه پرته بدلون یا د تغییر لپاره تغییر نه وړاندې کوي. افغانستان تراوسه باالنسبه ډېر د اساسي قوانینو د تغییر ډېرې تجربې لرلې دي، چې په هېواد کې د بې ثباتیو له لاملونو څخه یوه بې په همدې موضوع کې نغښتې ده. د دې لپاره چې د افغانستان د اوسني ښه اساسي قانون بالقوه پټ ځواک وپیژندل شي، اړین دی، چې د موجود اساسي قانون پلیتابه او تطبیق ته دوام ورکړل شي. ښایي مشخص بدلونونه د دې لپاره ضروري وبریښي، ترڅو د هغه د تفسیر لانجې حل او د قواوو د بېلاوالي او د دولت د ارګانونو ترمنځ انډول په ښه توګه روښانه کړي. خو زما په اند په اساسي قانون کې تعدیل راوستل، باید ډېر لږ او په دقت سره ترسره شي. دغه کار باید هغه وخت ترسره شي، چې په هېواد کې سیاسي ثبات او د اعتماد وړ رهبري (مشرتابه) رامنځ ته شي. ځکه چې د دې وېره شته، چې حتی باالنسبه ډېرې وړې ستونزې د شخړو او لانجو لامل وګرځي. ترهغو پورې او ښایي تل د افغانستان لپاره یو ښه اساسي قانون وګڼل شي. پخواني تجربې ښودلې، چې د لویو جرګو ښه مدیریت او اداره تر کومې کچې ستونزمن کار دی. د اغیزمنتوب او ښه تنظیم لپاره، دا وړ کار ګڼل کېږي، چې د مشورو اخیستلو په برخه کې لویه جرګه د څرګندې اجنداء او ځانګړو مادو د تعدیل لپاره جوړه شي. هره اضافي اجنداء په هغه صورت کې د تایید وړ ده، چې د لوړې فیصدی، د بېلګې په توګه د حاضرو غړو د **۲۵** سلنې له خوا بې ملاتړ وشي. اوسنی اساسي قانون د اجنډا او موضوعاتو په اړه څه نه وایي، خو دغه موضوع په کافي کچه اهمیت لري، چې په اساسي قانون کې تعدیل لازمي ده.

په دې اړه چې آیا له ریاستي سیستم څخه پارلماني سیستم، او واحد دولت څخه فدرالیزم ته د بدلون اړتیا لیدل کېږي او کنه، یوه ډېره لویه او ستره پوښتنه دا ده، چې په اوسني حالت کې په دې اړه د نظرونو ترمنځ خورا پراخ تفاوت موجود دی، او تراوسه په دې برخه کې د قطعي بدلون لپاره کوم قاطع مورد نه لیدل کېږي. له بلې خوا د افغاني روښاندو ترمنځ، د جمهوري ریاست د ټاکنو د مخکښو نوماندانو په شمول[۱۳۹]، پراخه یادونه وجود لري، چې ښایي ځینې تعدیلونه د دې لپاره د توجیه وړ وي، چې د شخص جمهور رئیس په لاس کې د واک تمرکزکنترول کړي، په اجراییه څانګه کې د ځانګړو ادارو او موسسو په ګټه چې مناسب وي، د سیمه ییزو ادارو په ګټه، چې وکړای شي د خپلې سیمې له اړتیاوو سره سم پالیسۍ جوړې او خلکو ته خدمت وکړي، ترسره شي. د موجود واحد دولتي جوړښت په حدودو کې هم ښایي د فدرالیزم د ځینو عناصرو ځایول د سلا وړ وي. داسې اقدامات هم، زما په اند، په اوسنیو شرایطو کې پرته له دې چې په اساسي قانون کې بدلون راشي، د اداري اقداماتو او تدریجي تحولاتو له لارې غوره ګڼل کېږي، البته په راتلونکي کې د داسې بدلونونو د امکاناتو لپاره لار پرانیزي. که چیرې د داسې بدلونونو لپاره پوره ملاتړ وجود ولري، باید دغه موضوع لومړی د کار پوهانو او څېړنکو له خوا تحلیل شي.

په افغانستان کې د حکومت د ورتیا د پراخوالي لپاره هڅې په امنیت او د هېواد د پوځ او پولیسو په وړتیاوو پورې تړلې دي. په داسې حال کې، چې دا خبره د درک وړ ده، خو یاد اقدامات د مدني ټولنې (د ملکي ساحو) د نه انکشاف لامل ګرځیدلي دي. اقتصادي ستونزې، بیکاري، د قانون او نظم ستونزې، د واکمنو کسانو له خوا فساد او بې قانوني، هغه مهمې ستونزې دي، چې هېواد ورسره مخامخ دي، او دا دواړه هغه ستونزې دي، چې حل بې اوږد مهالې ژمنتیا، پرله پسې او څو اړخیزې هڅې ته اړتیا لري. سوهرکی د ۲۰۱۱ ز. کال پخپله لیکنه کې لیکي، چې «د لوړ پوړو چارواکو او د قدرت د دلالانو لپاره چې د فساد او نشه یي توکو پر قاچاق تورن

---

۱۳۹ د ډاکتر اشرف غني احمدزي، ډاکتر زلمی رسول، ډاکتر عبدالله عبدالله، رحیم وردګ، او عبدالقیوم کرزی ترمنځ د طلوع نیوز د ۲۰۱۴ ز. کال د فبروري میاشتې د څلورمې نیټې مناظره. د مناظرې لنډیز په لاندی آدرس کې لیدلی شئ- http://www.iconnectblog.com/2014/04/might-afghans-amend-the-2004-constitutionhints-from-a-televised-presidential-debate/?utm_source=feedburner&utm_medium=email&utm_campaign=Feed%3A+I-CONnect+%28I-CONnect+Blog ۲۹,۳٪ April ۲۰۱۴ (لاسرسی د ۲۰۱۴کال د آپریل ۴).

دي، پوره معافیت او مصئونیت وجود لري»[۱۴۰] د حکومت په اړه د افغانانو تر ټولو لوی شکایت په حکومت کې فساد دی. د نړیوال شفافیت سازمان د راپور له مخې، د ۲۰۱۳ ز. کال د سروې پر اساس، افغانستان د ۱۷۷ هېوادونو په کتار کې د نړۍ په کچه تر ټولو ډېر فاسد هېواد ګڼل کېږي. افغانستان په دې برخه کې د سومالیا او شمالي کوریا ترڅنګ ولاړ دی. د ستونزو د پېژندنې او حل لپاره د عمل، ګام په ګام ستراتیژۍ، مشورو، د کارپوهانو د څېړنو اړتیا ده.

د اساسي قانون د تفسیر د لانجې په اړه یو لنډمهاله حل لاره باید د اړوندو اړخونو ترمنځ د بحث او مذاکرې له لارې ولټول شي، نه د جمهوري ریاست د بل فرمان له لارې[۱۴۱]. تر هغه وخته چې لویه جرګه جوړېږي، چې په اساسي قانون کې لازم تعدیلونه تصویب کړي، باید ستره محکمه د اساسي قانون تفسیر ته دوام ورکړي او له اساسي قانون سره د قوانینو تطابق، وروسته تر دې چې تنفیذ شي، پرېکړه وکړي. ICSIC (پر اساسي قانون د نظارت خپلواک کمېسیون) کولی شي، له اساسي قانون سره د تسوید شوو قوانینو د انطباق په اړه تر دې مخکې چې جمهور رئیس یې توشیح کړي، مشورتي نظریې وړاندې کړي. ICSIC په عین حال کې کولی شي، له اساسي قانون سره د پخوانیو قوانینو د تطابق مسئولیت هم پر غاړه ولري. اوس اوس، داسې معلومېږي، چې ICSIC په عمده توګه هغو پوښتنو ته ځواب ورکوي، چې د حکومتي ادارو له خوا هغوی ته راجع کېږي. ځینې وختونه د مشخصو ادارو له خوا پوښتنې ته د وړ ځوابونو لپاره، قانون هم د SC او هم ICSIC ته لېږل کېږي[۱۴۲].

د اوږد مهاله حل لپاره، وړاندیز کېږي، چې افغانستان باید، مصر ته ورته د اساسي قانون یوه ځانګړې محکمه، جوړه کړي، چې د اساسي قانون د تفسیر لپاره پوره واک ولري او د قوانینو او د حکومت د کړنو دواړه، مجرد او مشخص (ذهني او عیني) بیاکتنه ترسره کړي او په عین حال کې د اسلامي اصولو په اړه د (۳ مې) مادې د تطبیق څارنه پر غاړه واخلي. که چیرې دغه وړاندیز ومنل شي، نو د SC او ICSICټول مسئولیتونه باید د اساسي قانون محکمې ته وسپارل شي، چې په دې صورت کې به د ICSIC شتوالي نوره اړتیا نه لیدل کېږي. د حل دغه اوږدمهاله لار، د لویې جرګې له خوا د اساسي قانون تعدیل الزامي کوي، چې به عین حال کې باید د ولسي جرګې (WJ) له خوا د نه باور رایې پایله هم روښانه کړي.

هغو کسانو، چې د بشریت پر ضد جرمونه کړي، د ځمکو غصب او همدارنګه د نشه یي توکو سوداګرۍ او داسې نورو ته دوام ورکوي، باید د عدالت (محکمې) ته راکش شي، او نور اجازه و نه لري، چې په عامه ادارو کې کار وکړي. که د افغانستان محکمې نه شي کولی هغوی په داخل (د هېواد په دننه) محاکمه کړي، نو باید نړیوالو جنایي محکمو ته ور وپېژندل شي. د هغو کسانو په اړه، چې پښیماني څرګندوي او په خپلو بدو کړو اعتراف کوي او چمتو دي، چې ځان اصلاح کړي، باید ځانګړې استراتیژۍ- د بیلګې په توګه د یو رښتیني مصالحې کمېسیون - هغه څه چې له اپارتاید وروسته جنوبي افریقا کې د مصالحې او روغې جوړې لپاره رامنځ ته شوه، جوړ شي.

په دودیزو جرګو کې باید اصلاحات رامنځ ته شي. اوس چې اساسي قانون په پارلمان او ولایتي شوراګانو (او هیله کېږي، چې د ولسوالیو په راتلونکو شوراګانو) کې د ښځو ګډون تصریح کړی ده، کېدای شي، په درې واړو کې د ښځینه وو غړو غړیتوب یا پخپله د هغو له خوا یا په سیمه بیزو جرګو کې د یوې یا دوو غړو د انتصاب له لارې ترسره شي. کېدای شي د هغو د غونډو طریقه او ځای مناسب وي، ترڅو هغوی وکولی شي ګډون وکړي. کېدای شي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون هم وکولی شي، لږ تر لږه په ځانګړو ټاکل شوو وختونو کې خپل استازي جرګو ته واستوي. وړاندیز کېږي، چې له جرګې سره د همغږۍ اداره په هر ولایت

۱۴۰ استری سوهرکي"کله چه زیات لږدی"، (*When More is Less*)، ۱۸۴ مخ.

۱۴۱ د جمهوري ریاست فرمان (۱۱۳۷۱ ګڼه، د ۲۰۱۰ کال د نومبر ۱۴ مه) په دې اړه صادر شو، چې ICSIC باید "تسوید شوي قوانین د کابینې تر فیصلې وروسته او ملی شورا ته تر استولو وړاندې" تر بیا کتنې لاندې ونیسي. خو داسې برېښي، چې دغه فرمان د ستونزې په حل کې لږ پرمختګ لرلی دی.

۱۴۲ د بیلګې په توګه ICSIC د کابینې د دارالانشاء له خوا، په تاجکستان کې د هغو بندیانو په اړه، چې له (۲۰) کال څخه ډېر په بند محکوم شوی، خو د افغانستان قوانین حداکثر (۲۰) کاله د بند جزاء لري. بله پوښتنه د پارلماني چارو د وزیر له دفتر څخه د پولیسو او د فساد پر ضد د عالي ادارې ترمنځ د یو اختلاف په اړه د روښتیا لپاره چې آیا دغه وروستنۍ اداره د شواهدو د راټولولو او تحقیق په اړه ونډه درلودی شي، ICSIC ته استول شوي ده. همدا ډول د ولسي جرګې د دفاعي چارو د کمېسیون له خوا د دفاعي قراردادوونو په اړه، چې ولسي جرګې هغه بی ارزښته او باطل ګڼلی وو، ICSIC ته لېږل شوي او پوښتنه شوې وه، چې آیا دا ډول باطلول د محکمې له قضاوت پرته عملي ده او کنه؟ د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا هم د بګرام او پلچرخي په بندیخانو کې د افرادو د غیر قضایي توقیف د قانونیت په هکله چې د افغان- متحده ایالتونو د تفاهم د یادښت په اساس ترسره شوي وو، له ICSIC څخه پوښتنه شوې وه. ICSIC اکثره د افغاني قوانینو د حکمونو پر بنسټ دغو پوښتنو ته ځواب ورکړي ده. او داسې چې له دوسیو څخه معلومېږي، ICSIC ته د شرعي ستونزو په اړه هیڅ پوښتنه نه ده وړاندې شوې، او ICSIC هم په خپلو ځوابونو کې شرعي منابعو ته اشاره نه ده کړې. (د ICSIC د اسنادو د دري ژبې ژباړو او لنډیزونو چې د لیکوال له خوا ترسره شوي په عمومي توګه د دې څرګندویي کوي، چې دا ټول د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲- ۲۰۱۳) کال په مختلفو میاشتو کې واقع شوي دي)

کې جوړه شي، چې دغه استازي او د امکان په صورت کې اضافي استازي په جرګو کې د ښځینه وو ګډون تضمین کړي. کېدای شي دا کار په آزمایښتي ډول په ځېنو ځایونو کې پیل شي او بیا وروسته په تدریج سره نورو ځایونو ته وغځول شي. د داسې پروژې ابتدایي مراحل باید په هغو ځایونو کې تمرکز ولري، چې هلته د حکومت شتون باوري وي او په تدریجي توګه نورو سیمو ته هم وغځول شي. په دې توګه دغه جرګې لومړی په هغو سیمو کې جوړې شي، چې هلته حکومت موجود دی. او ورپسې د مرکزي حکومت د واکمنۍ ساحې په پراخېدو سره په نورو سیمو کې هم جوړې شي. د دغو جرګو په جوړښت کې اصلاحات په هغه ډول ترسره شي، لکه چې د ۱۹۲۴ ز. او د ۲۰۰۴ ز. کلونو د اساسي قوانینو په لویو جرګو رامنځته شول. دغه ټول اصلاحات باید د پارلمان د تصویب له لارې ترسره شي[۱۴۳].

که چیرې په پارلمان کې د ښځو د ګډون ونډه یوه سمه پرېکړه وه، نو باید د دولت په نورو څانګو او هر وزارت کې هم باید همداسې وشي. ترهغه ځایه، چې زه پوهیږم په دې لاره کې ځېنې پرمختګونه د عملي کیدو په حال کې دي. زه وړاندیز کوم، چې په اوس وخت کې له پنځو تر لسو کلونو په جریان کې باید د ښځو لپاره (۳۰) سلنه ونډه تطبیق شي[۱۴۴]. باید په لنډه موده کې د اندازې وړ پرمختګ رامنځ ته شي. هغه نوي استراتیژۍ چې دلته یې وړاندیز شوې، د هغو پراخو کړنو او پرله پسې هڅو ټولګه ده، چې د عملي قوانینو او سیاستونو پر بنسټ ولاړه ده او د ناوړه رسمي ګټه اخیستنو څخه د ښځو خوندیتوب تضمینوي او عدالت ته د هغوی لاسرسی اسانوي.

په دې کې شک نشته، چې له سولې پرته په هېواد کې هوساینې ته رسېدل، یو ناشونی کار دی او په افغانستان کې د قانونیت او اساسي قانون د ځواکمنتیا لپاره ټولې هیلې، په افغانستا کې د مساعدو شرایطو په رامنځته کېدو او د امن او ټیکاو په ټینګښت پورې تړلې دي. په دې توګه په هېواد کې د سولې او امن ټینګښت تر ټولو لومړی او مهم لومړیتوب دی. له دې امله، دغه ستونزه هم د افغانستان رهبران او هم په خپله افغانان د متحده ایالاتو، اروپایي ټولنې او ګاونډیو هېوادونو له مرستې پرته نه شي حلولې. نو اړینه ده، چې د جګړې د لاملونو د له منځه وړلو ترڅنګ، د قانون د واکمنۍ، له قانون ماتونې او فساد څخه د مخنیوي په برخه کې پراخې او جدي هڅې وشي. د ۲۰۱۴ ز. کال د جمهوری ریاست ټولټاکنې او د قدرت منظم لیږد د هېواد او د هغه د نوي مشرتابه لپاره ارزښتناک فرصت ګڼل کېږي، چې هغه ډېرې ستونزې اوارې کړي، چې افغانستان ورسره مخ دي. افغانان د سولې او د نوي راتلونکې لپاره لیوالتیا لري. هیله کېږي، چې نوی جمهور رییس او د هغه ډله له دغه ستر فرصت څخه د پاکو موخو او ښه حکومت کولو لپاره ګټه واخلي او د یوه هوسا او سوله ییز افغانستان په برخه کې د افغانستان خلک سره متحد کړي.

---

۱۴۳ دودیزه لویه جرګه له قومي او مذهبي مشرانو، د ځمکو خاوندانو او وتلو کسانو څخه جوړه ده، چې حکومت یې کله چې ملي مهمې مسئلې، لکه د نوي اساسي قانون جوړول رامنځ ته شي، راغواړي. د ۱۹۲۴ ز. او ۲۰۰۴ ز. کلونو اساسي قوانینو پراساس د پارلمان د دواړو جرګو له غړو، د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو له رئیسانو څخه د رایه ورکوونکو غړو په توګه یادېږي. د کابینې غړي (وزیران)، د سترې محکمې رئیس او د هغې غړي هم په لویه جرګې کې پرته له دې چې د رایه ورکولو حق ولري، ګډون کوي (۱۱۰ ماده)

۱۴۴ دغه موضوع د کابل او د ولایتونو د ډېرو مرکزونو لپاره ممکنه ده، خو د تطبیق ستراتیژۍ باید د سیمې د شرایطو له ملاحظاتو او د ښځو له واقعي ګډون سره سمې جوړې شي.

# لومړۍ ضمیمه
# "د افغانستان د اساسي قانون د لسمې کلیزې" په اړه یو څو خبرې
# له ډاکتر محمد هاشم کمالي سره مرکه

د ۲۰۱۴ ز. کال د سپټمبر ۷ مه

مرکه کوونکې: لیلیان دانګ[1]

سږ کال د افغانستان د اساسي قانون لسمه کلیزه ده. د ۲۰۰۴ ز. کال اساسي قانون، چې مرکزي ټکي یې د داسې یو دولت جوړېدل وو، چې پکې د قانون حاکمیت شتون ولري، پر ۲۰۰۱ ز. کال د طالبانو له راپرځېدو او د همدې کال په دسمبر کې د بن تړون له لاسلیکېدو سره سم، چې د هېواد اداري یې له سره جوړې کړي، تسوید شو.

له ۲۰۱۳ ز. کال راهیسې، د سولې لپاره د متحده ایالاتو انسټیټوټ (USIP ) او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU ) د اساسي قانون د ارزونې له پروژې څخه ملاتړ کړی دی. تېره میاشت AREU د افغانستان ۲۰۰۴ ز. کال د اساسي قانون په اړه خپله لومړنۍ ستره څېړنه «د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: کومې ستونزې مطرحې دي؟» تر عنوان لاندې، چې د اسلامي او تقنیني څانګو د وتلي څېره ډاکتر محمد هاشم کمالي له خوا ، چې پر ۲۰۰۳ ز. کال د افغانستان د اساسي قانون د نظارت کمېسیون غړي او د څه مودې لپاره یې رئیس وو ، لیکل شوې وه، خپره کړه. د USIP د پروګرام مشره کارکوونکې،لیلیان دانګ، له ډاکتر کمالی سره یوه مرکه کړې، ترڅو په افغانستان کې د اساسي قوانینو او د اساسي قانون له نظره د اوسنیو ټولټاکنو او دملي یووالي د حکومت د ستونزو په اړه، خپلې نظریې څرګندې کړي.

**لیلیان ډانګ: ستاسې په اند، دافغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د قوت او کمزوري ټکی کوم دي؟**

محمد هاشم کمالي: داسې بریښي، چې په دې برخه کې، ډېر شیان ویل کېدای شي، خو د ۲۰۰۴ ز. کال په اساسي قانون کې د پراخ لید په تړاو ربښتینې هڅې ترسره شوې دي. دغه اساسی قانون هڅه کړې ده، چې له ۲۵ کلونو کورنیو جګړو، مهاجرتونو او شخړو وروسته په افغانستان کې د یووالي نوی احساس رامنځ ته کړي. زه افغانستان ته له ډېرو سترو هیلو او توقعاتو سره بیاراغلم. ما ولیدل، چې په دغه اساسي قانون کې د یووالي او هر اړخیز فکر د پلي کېدو لپاره هڅه شوې ده.

د ۲۰۰۴ ز. کال د اساسي قانون یوه ځانګړنه دا ده، چې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (UOHR) یې په رسمیت پېژندلي او افغانستان ژمنه کړې، چې د یادو اصولو او د عدالت د نړیوالو معیارونو ملاتړ وکړي. په پخوانیو اساسي قوانینو کې داسې ژمنې نه شته. د بن تړون پربنسټ په هغه کې، نوي شیان اضافه شوي؛ په تېره بیا په اساسي قانون کې ښځو ته په ملي شورا ، ولایتي او ولسوالیو شوراګانو کې دسیاسي استازیتوب د ونډې سیستم څرګندول خورا زیات اهمیت لري. په دغه اساسي قانون کې د لومړي ځل لپاره د شیعه مسلمانانو حقونه، د اسلام د اتبار وړ یوې برخې په توګه، پېژندل شوي دي.

د دغه اساسي قانون تر ټولو مهم د پیاوړتیا ټکی په دې کې ده، چې اسلامي اصول پکې په روښانه توګه منعکس شوی. که څه هم اوس موږ له ځینو ارزښتونو څخه یو څه شاته تګ پکې ترسترګو کېږي، خو د اساسي قانون د نظارت په کمېسیون (CRC) کې موږ ټولو باور درلود، چې افغانستان له روسانو سره د اسلامي دریځ پر بنسټ جګړه وکړه او د هېواد خپلواکۍ د اسلام له برکته وه. په دې توګه په اساسي قانون کې اسلام ته ځای ورکول، ددغه تاریخی سند د ارزښت د لوړولو لپاره اړین وګڼل شو.

په پای کې، د اساسي قانون په تسوید کې مشورتي جریان بې ساری و. د تسوید جریان د دوو کلونو او دریو پړاوونو سلا او مشورو له لارې بشپړ شو. زما په یاد دي، چې د خپلو کارونو په آخره مرحله کې، زه ځینو ولایتونو ته ولاړم؛ په دې توګه، د افغانستان د ختیځو څلورو ولایتونو ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان په بېلابېلو ولسوالیو کې مو د سیمې له یو شمېر کسانو سره له درې تر څلورو ساعتونو پورې غونډې جوړې

[1] لیلیان دانګ په کابل کې د متحده ایالاتو د سولې د انسټیټوټ (اداري) د پروګرام مشره کار کوونکې ده. دانګ په افغانستان کې د USIP د قانون د حاکمیت د څېړنې او پروګرامونو څارنه کوي او کیدای شي له هغې سره په ldang@usip.org اړیکه ونیول شي. مرکه او لیکنه د دانګ له خوا ترسره شوې ده. د مرکې پوښتنې د AREU په سلا او مشورې جوړې شوې دي.

کړي. له خلکو سره غونډې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت (UNAMA) او د CRC د سکرټریت له خوا مخکې له مخکې تنظیم شوي وې. له خلکو څخه مو مخامخ وپوښتل، چې، "ستاسې غوښتنې څه دي؟" او "ستاسې مشورې او لارښوونې موږ ته کومې دي؟" او په دې توګه له اساسي لاسته راوړنو سره بېرته کابل ته راستانه شو.

د اساسی قانون د نیمګړتیاوو په اړه، ما په خپله لیکنه کې، د اساسي قانون د تفسیر ستونزې په ګوته کړې او د تفسیر د بېلابېلو ادارو د مدیریت لپاره مې ځانګړي وړاندیزونه، وړاندې کړي دي. دغه ابهام او پیچلتیا په وروستیو شیبو کې د ۱۲۱ مادې تر اضافه کېدو وروسته رامنځ ته شوه، او که چیرې موږ د اساسي قانون محکمه، چې په مسوده کې ځای شوي و او د CRC له خوا تصویب شوې وه، منلې وای، نو له دغې ستونزې سره به نه مخامخېدو. دا یوه ناڅاپي خبره وه، چې د اساسي قانون د تفسیر په برخه کې اوسنۍ ستونزه یې رامینځ ته کړله.

بله کمزورتیا، لکه چې زما په لیکنه کې هم پرې رڼا اچول شوې ده، د ولسي جرګې له خوا د «نه باور رایې» واک دی. اساسي قانون د وزیر په وړاندې د «نه باور رایې» پایله نه ده مشخصه کړې. آیا د نه باور په صورت کې وزیر باید له دندې ګوښه شي او که څنګه؟ په دې اړه به لا روښانه دریځ ډېره مرسته کړې وای.

موږ اوس پوهېږو، چې په اساسي قانون کې یوه بله کمزورتیا هم شته، چې هغه د قدرت د زیات تمرکز ستونزه ده. ټول هغه واکونه، چې پخوا پاچا او لومړي وزیر ته ورکړل شوي وو، اوس جمهور رئیس ته ورکول شوي دي. موږ په CRC کې باور درلود، چې په افغانستان کې له ډېرو ګډوډیو وروسته، په هیواد کې یو پیاوړي مرکزي مشرتابه ته اړتیا لیدل کېږي. موږ پر دې نه پوهیدو، چې دا شخص به څوک وي، خو باور مو درلود، چې په افغانستان کې دثبات او قانونیت د بیا رامنځ ته کېدو لپاره د قدرت تمرکز ته ټینګه اړتیا شته او ملت تر بل هر څه نن یووالي او پیوستون ته ډېر ضرورت لري. اوس دا ثابته شوه، چې دغه موضوع د اساسي قانون د قوت ټکي نه بلکې د کمزورتیا نقطه ده. ښایي اوس موږ د قدرت ډېر وېش ته اړتیا ولرو.

پر دې سربېره، اساسي قانون د سیاسي ګوندونو په اړه ډېر روښانه دریځ نه لري. زه فکر کوم، چې په دې اړه د روښانو لارښوونو شتوالي به د ټولټاکنو قانون د مدیریت او وخت په برخه کې مرسته کړې وای. که چېرې د سیاسي ګوندونو په اړه بې شرطې ژمنې موجودې وای، نو تر ټولټاکنو وروسته به د نورو بحثونو لپاره ځای پاتې نه وو، ځکه چې ګټونکی ګوند به د دې وړتیا درلوده، چې د ټولټاکنو د پایلو ساتنه وکړي او عملي یې کړي. زه په دې کې لږ څه زړه نا زړه یم، چې ووایم، د څرګندتیا او وضاحت کومه کچه کولی شي، هغو ډېرو ادعاوو ته ځواب ووایي، چې په ټولټاکنو کې د درغلیو او ګډوډیو په اړه ویل کېږي. د ټولټاکنو پایله، په اساس کې یو اصل ده. باید په دې اړه د چنه وهلو، ناندریو او نورو بحثونو لپاره زمینه موجوده نه وي. که چېرې د اساسي قانون د تفسیر لپاره قواعد او مقررات او د تطبیق لپاره یې د اساسي قانون د تفسیر با صلاحیته محکمه موجوده وای، نو د دومره ابهام او لانجو لپاره به ځای پاته نه و. که چېرې موږ په هماغه وخت کې د اساسي قانون محکمه په اساسي قانون کې ځای کړې وه، نو د محکمې دنده به تفسیر او د ابهام له منځه وړل وو، او موږ به په دې مرحله کې د دومره ډېرو ادعاګانو د ځواب ویلو لپاره د مرستی یوه سرچینه درلوده. لکه چې څرګنده ده، اوس د اختلافونو د حل لپاره مشخص دریځ او کړنلاره شتون نه لري.

اساسي قانون د اسلامي جمهوري دولت په اړه، پرته له دې چې د داسې یو دولت ځانګړتیاوې تشریح او توضیح کړي، خبرې کوي. اسلامي جمهوریت د ځان په اړه حقیقت نه څرګندوي. اړتیا لیدل کیږي، چې د اسلامي جمهوریت غټ او کلیدي عناصر یا ځانګړتیاوې وپیژندل شي. دا موضوع به نه یوازې هغو ادعاګانو ته د ځواب ورکولو په اړه وضاحت او د ډاډینې یوه کچه رامنځ ته کړې، چې اکثره د سخت دریځو انتقاد کوونکو (لکه طالبان)، چې د افغان دولت او د هغه د اساسي قانون له اسلامي اتبار څخه په صراحت سره انکار کوي. د شریعت په اړه دربیمه ماده منفي اړخ لري. دا یوه منتاقضه ماده ده، چې وایي «په افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولی، چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي». دا ماده نه وایي، چې په عمل کې څه معنا ورکوي. د نورو اسلامي هیوادونو، لکه مصر، په خپلو اساسي قوانینو کې د موضوع مثبت اړخ ځای کړی او د بیلګې په توګه وایي، چې شریعت د قوانینو د جوړولو اساسي اوبنسټیزه سرچینه ده. که چیرې په اساسي قانون کې تعدیل راځي، نو موږ باید د دغه ټکي وضاحت ورکړو او په نورو اضافي لارښوونو باندې کار وکړو.

په پای کې، غواړم ووایم، چې په دې اړه کله چې د عبدالسلام عظیمي په غیاب کې د لنډې مودې لپاره د CRC رئیس وم، ما غوڅ او قاطع دریځ غوره کړی و. ما په هغه وخت کې د مخالفو دودیزو کړنو په اړه، چې د ښځو له حقونو- حتا له هغو حقونو څخه یې انکار کاوه، چې شریعت منلي دي- ما یوه اعلامیه صادره کړه. ما سوچ کاوه، چې دا یوه ملي ستونزه ده، چې اساسي قانون باید د هغې په اړه روښانه دریځ ولري. د هغه پر ځای، په **۵۴** مه ماده کې یوه کمزورې جمله راغلې وه، چې داسې وایي: «دولت به .... د هغو دودونو په مقابل کې چې د اسلام له سپیڅلي دین سره تناقض لري، لازم اقدامات وکړي.» دودیز په دري ژبه کې د سنتي کړنو په معنا ده. خو بیا هم روښانه نه ده، چې دا خبره په عمل کې څه معنا ورکوي.

**لیلیان ډانګ: د ۲۰۱۴ کال د جمهوري ریاست پایله د دوو آخرو نوماندانو ترمنځ د "یووالي حکومت" په اړه خبرې او سیاسي جوړجاړی وه. ستاسې په نظر هغه غټې اندیښنې او دلایل کوم دي، چې باید په داسې جوړښت کې د اجراییه قوې ویش د یوه باثباته او قانوني حکومت راتګ باوري کړي؟**

محمد هاشم کمالي: په افغانستان کې پخوا موږ داسې تعامل نه درلود، چې په ریاستي سیستم کې اجراییه رئیس ولرو. په داسې حال کې چې په دې اړه خبرې روانې دي، ډېرې ناباوری هم شته، او زه ډاډمن نه یم، چې په دې اړه باید مطلق غبرګونونه څه وي. زما په باور اجراییه رئیس یو استثنایي او مؤقت موقف دی، چې د جمهوري ریاست د سیالۍ د حلولو لپاره رامنځ ته شوی دی. د اجراییه رئیس د موقف لپاره په اساسي قانون کې کوم ملاتړ وجود نه لري، مګر دا چې په اساسي قانون کې د دغه موقف د پیژندلو لپاره تعدیل راشي. اصل واک په جمهور رئیس پورې اړه لري؛ د اجراییه رئیس دنده دا ده، چې د جمهور رئیس غوښتنې اجراء کړي، که څه هم د هغو د ښه اجراء کولو لپاره د انعطاف یوه کچه وجود لري.

تاسې وایئ، چې د "ملي یووالي" حکومت باید دوه اجرا کوونکی ولري. نه، تاسې نه شي کولی دوه اجراکوونکي ولري. هغه څه چې تاسې یې په لټه کې یاست، باید په اساسي قانون کې موجود وي. ترڅو چې تاسې نوې لارښوونې یا په اساسي قانون کې نوې مادې ونه لرئ، دا پوښتنې د اعتبار وړ ځوابونه نه شي پیدا کولی. اوسنی اساسي قانون د اجراییه مفهوم په اړه روښانه ده. اجراییه رئیس کولی شي د جمهور رئیس له خوا سپارل شوي صلاحیت ولري. په هر حال، اجراییه رئیس د جمهور رئیس له موافقې پرته پریکړې وکړي.

بله خبره داده، چې جمهور رئیس باید هرو مرو د وسله والو ځواکونو اعلی قوماندان پاتې شي. جمهور رئیس کولی شي اجراییه رئیس ته امر او هدایت وکړي، او اجراییه رئیس د اصولو پراساس مکلف دی، چې له جمهور رئیس سره مرسته وکړي. اجراییه رئیس پخپله کوم واک نه لري، مګر دا چې داسې واک د اساسي قانون د تعدیل په پایله کې رامنځ ته شي. تر هغه چې دا خبره ونه منو، موږ به له بشپړې ګډوډۍ سره مخامخ یو.

په هر حال، که چیرې موږ د ملي یووالي حکومت په اړه خبرې کوو، نو باید دا ومنو، چې دا د واک د وېش یوه وسیله ده، چې په هغې کې راکړه ورکړه وجود لري. کله چې د بیا شمیرنې پایلې اعلان شي، نو ډاډینه به رامنځ ته شي. ښایي په اصطلاح فرانسې یا روسیې ته ورته داسې جوړښت رامنځ ته شي، چې په هغه کې به یو واکمن جمهور رئیس، او بل لومړی وزیر یا اجراییه رئیس وجود ولري. بله بیلګه ښایي ترکیه وي، چیرې چې اجراییه رئیس د کابینې مشرتوب کوي، خو د کابینې پریکړې باید هرو مرو د جمهور رئیس له خوا تصویب او تائید شي. دا ډول جوړښت په ترکیې کې دعمل وړحل ده، چې په دې وروستیو کې له یوه سمبولیک ریاستي جوړښت څخه یوه اجرائیوی ریاستي سیستم ته واوښت. په هر صورت، د ترکیې جمهور رئیس خپل لومړی وزیر ټاکي، او هغوي په ښه توګه له یو بل سره کار کوي او د هغوی ترمنځ یووالی او باور وجود لري. زه باور نه لرم، چې دا به په افغانستان کې هم واقع شي؛ خو د دواړو نوماندانو ترمنځ له ډېرو غونډو او مشورو وروسته، ښایي هغوی په ژوره توګه یو بل پیژندلي وي او ښایي هغوی وکولی شي یوځای کار وکړي.

په پای کې، دواړه نوماندان اړ دي، چې د ملت په وړاندې خپلې ژمنې ترسره کړي. د هغوی لومړی ګام به دا وي، چې خپلو ټاکنیزو کړنلارو او اعلامیو ته ځیر شي او وګورې، چې کومې ژمنې یې کړې دي او ترې ګډ ټکي غوره کړي. دا د ملت په وړاندې د هغوی مسئولیت دی. هغوی باید ډېر زیات انعطاف ونه کړي، او هغوی نه شي کولی د ټاکنو پایلې هومره ډېرې وځنډوي. که چیرې ځنډ نور هم دوام وکړي، د پاڅون او نویو ستونزو خطر شتون لري. زه هیله لرم، چې داسې څه واقع نه شي، خو باورنه شته، چې نوماندان اړ دي، چې د ټاکنو پایلې ومني او له سلیم عقل څخه کار واخلي. د ټاکنو منل یو اصل دی.

**لیلیان ډانګ: که چیرې د جمهور رئیس او فرضي اجراییه رئیس ترمنځ اختلاف رامنځ ته شي، د اوسني اساسي قانون د ثبات لپاره باید تفاوت څنګه حل شي؟**

محمد هاشم کمالي: اساسي قانون نه شي کولی تل د هر چا د هر قدم لارښوونه وکړي. باید د اساسي قانون له اصولو سره سم کار وکړو او عملي حل لارې پیدا کړو. وروسته له هغه چې جمهور رئیس د تحلیف مراسم پرځای کړي، باید د دواړو خواوو له خوا د ملت په وړاندې د جمهور رئیس د ژمنو په اړه، د توافق روحیه موجود وي. جمهور رئیس اړ دی، چې خپلو ژمنو ته تعهد ولري او له اجراییه رئیس سره د کار په اړه یو سیستم پیدا کړي. تر دې مخکې، چې دا کار وشي، دواړه نوماندان اړ دي، چې د ټاکنو پایلې او اصول ومني. موږ اړ یو پر دې وپوهیږو، چې څوک اصلي فرمان ورکوونکی دی. بل نوماند باید هرو مرو ومني چې ټاکنې یې بایللې دي او جمهور رئیس نه دی.

د اختلاف د مخنیوي لپاره مهمه ده، چې اجراییه رئیس دا خبره ومني، چې خپلواک او مستقل نه دی. هغه نه شي کولی اجرائیوي پریکړې وکړي؛ هغه کولی شي، یوازې هغه پریکړې عملي کړي چې جمهور رئیس نیولي او تایید کړي دي او یا د کابینې دریځ چې په اتفاق سره نیول شوې ده اجرا یې کړي.

ستونزه دا ده، چې له یوه اجراییه رئیس څخه، چې د اساسي قانون د اصولو پراساس رامنځ ته شوی نه دی، څنګه کار واخیستل شي. د جمهور رئیس او لومړي وزیر ترمنځ د واک یوځای کیدل، باید هرو مرو د اساسي قانون د حکمونو په حدودو کې وي. په پرله پسې توګه د ډیر واک غوښتنې، عملي کیدای نه شی. دا ډول تګلاره د نویو اختلافونو لپاره ور پرانیزي. زه فکر کوم، چې دا ډیره هوښیاري او ځیرکتیا نه ده، چې په یوه ریاستي سیستم کې له اساسي قانون څخه بېل، اجراییه رئیس، ځای کړل شي. زما په اند د سیاسي وضعې د سمولو اړتیا لیدل کیږي.

که چیرې د ځینو ټکو په اړه په ځینو وختونو کې جمهور رئیس او اجراییه رئیس له یو بل سره موافقه نه شی کولی، نو په هغه صورت کې دواړه اړ دي پریکړه وکړي، چې دوي لا هم کولاي شي له یو بل سره یوځای کار وکړي. که چیرې د دوي ترمنځ توافق رانه شي، نو د قرآن کریم له حکم سره سم د دوو مسلمانو ډلو تر مینځ د اختلاف په صورت کې حکمیت یا مینځګړتوب ته اړتیا پیدا کیږي. کیدای شي مینځګړي د اختلاف د دواړو غاړو له خوا وټاکل شي.د دغې موضوع په اړه چې زمونږ په وړاندي پرته ده، زما وړاندیز دا ده چې جمهور رئیس او اجرائیه رئیس یو شمیر ناپییلي خو وړ کسان ؤټاکئ: کیدای شي دغه کسان پنځه، ښېږ یا اوه غړ قاضیان وي چې له نورو اسلامي هیوادونو څخه د اختلاف په اړه د حکمیت لپاره ؤټاکل شي. که چیرې موږ د اساسي قانون محکمه درلوده، نو د اختلافونو د حل لپاره به ډیره مناسبه مرجع وه. لکه چې ما په خپله لیکنه کې هم روښانه کړې ده د اساسي قانون د تفسیر موضوع مبهمه او پیچلې پاته ده.

**لیلیان دانګ: تاسې په خپله لیکنه کې د وروستي لسیزې په جریان کې د قانون د حاکمیت ستونزې ته اشاره کړې دي. ستاسې په اند هغه لومړي ګامونه کوم دي، چې راتلونکې اداره یې باید د دغه ستونزې د له منځه وړلو او د قانون د حاکمیت د ټینګولو لپاره واخلي؟**

محمد هاشم کمالي: نوې اداره اړه ده، چې په دواړو لیکو کې د نورو ستونزو د مخنیوي او د قانون د حاکمیت د ټینګښت لپاره کار وکړي. دا یوه اوږد مهاله کړنلاره ده او هیڅوک دې د معجزې تمه او توقع نه کوي. نوی حکومت باید د قانون حاکمیت د خپلې ادارې د ستونزو په «سر» کې ځای ورکړي. باید په صراحت او روښانه توګه وویل شي، چې د قانون د حاکمیت رامنځ ته کول، د حکومت لومړنی دنده ده.

په افغانستان کې ستونزه دا ده، چې څنګه کیدای شي د اساسي قانون پربنسټ د قانون حاکمیت په ټولو باندې په یو شان تطبیق شی. د قانون یو شان تطبیقېدل په ټولنه کې د جنګسالارۍ، فساد او مخدره توکو د له مینځه وړلو اړتیا رامنځته کوي. د دې کار د سرته رسېدو لپاره حکومت د ټولنې د ټولو عناصرو ملاتړ ته، د دولت د ادارو او مدني ټولنو، او همدا ډول په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د ملاتړو او دوستانو په شمول، اړتیا لري. حکومت باید ټولنه د خپلو اصلاحاتو په کړنلارې کې ښکیل کړي او د خپلو پلانونو په اړه له خلکو سره خبرې وکړي، ترڅو په دې اړه په ټولنه کې د نظر اتفاق رامنځ ته شي. خلکو ته د یوه روښانه پیغام له لارې کیدای شي د هغوی ترمنځ د یووالي او پیوستون روحیه رامنځ ته شي. اړینه ده، چې خلک پوه شي، افغانستان د ډیرو کلونو تر ورانیو او ناهیلیو وروسته نه شي کولی، بیا هم همدې لارې ته تر آخره پورې دوام ورکړي.

د لومړیتوبونو په اړه باید وویل شي، چې د پوځ او پولیسو پیاوړتیا او ځواکمنتیا ته ډېره اړتیا لیدل کېږي. که څه هم دغه موضوع د بن تر کنفرانس وروسته د لیږد د لسیزې او نړیوالو ټولنو د کار په مرکز کې موقعیت درلوده، خو د پولیسو په پیاوړتیا باندې پوره تمرکز نه ده شوې. د چټک امنیتي غبرګون یو واحد باید په هر ولایت کې جوړ شي، چې د ولایتي حکومت تر ادارې لاندې د چټک غبرګون دنده ترسره کړي. دغه واحدونه به د ناڅاپي پیښو، ورانیو او نورو ستونزو د رامنځ ته کېدو په صورت کې د غبرګون په لومړۍ کرښې کې ځای ولري، چې دا خبره ډاډمنه کړي، چې کیدای شي، د ناوړو پیښو مخنیوی وشي. په عین حال کې د یوه منظم او باوري پوځ جوړول یوه بیړنۍ اړتیا ګڼل کیږي. اردو او پولیس باید د نوې ادارې له لومړیتوبونو وشمیرل شي.

د فساد په له منځه وړلو کې باید نوی حکومت، د پولیسو او ګمرکاتو ادارې، قضاء، او د حکومت د تهیې او تدارکاتو سیستم، **په تیره** بیا د کانونو په اړه، اصلاح کړي. سربیره پر دې د دې اړتیا لیدل کیږي، چې د ټاکنو ادارو ته توجه او پاملرنه وشي. د فساد پرضد د ادارو ترمنځ کمیټه، چې د سترې کمیټې په نامه یادیږي، پر ۲۰۰۸ ز. کال یو راپور له یو شمیر وړاندیزونو سره خپور کړ، چې تراوسه عملي شوي نه دي. زما باور دادی، چې د عظیمې کمیټې وړاندیزونه د توجه او پاملرنې ارزښت لري.

مخالف سیاست یا اپوزیسیون پرته له سیاسي ګوندونو ښه راتلونکی نه لري. د سیاسي ګوندونو قانون باید تطبیق شي، ترڅو د مخالفت غړ د منظم پورته کیدو لپاره زمینه برابره شي، پرته له دې به د قانون حاکمیت د لړدیدونکي وضعیت ولري. کیداي شي اجراییه رئیس او د هغه ملاتړي پر اپوزیسیون او مخالف څواک واوړي. په هر حال، ترڅو چې د اپوزیسیون لپاره منظم جوړښت رامنځ ته نه شی، زه هیله لرم چې اجراییه رئیس خپل ځان په اپوزیسیون کې داخل نه کړي او پرځای یې دی او دده همکاران له جمهور رئیس او د هغه له ډلي څخه ملاتړ وکړي.

په پای کې، د ویلو وړ ده، چې محلي اختلافونه ۸۰ تر ۹۰ سلنه د شوراګانو او جرګو له لارې حلیږي. ما په خپله لیکنه کې د شوراګانو او جرګو په اړه د وړاندیزونو په برخه کې، وړاندیز کړي دي او لا اوس هم په خپل دریځ ولاړ یم، چې شوراګانې او جرګې باید د رسمي عدالت په سیستم کې مدغم شي. دا ډول ادغام باید په اوږد مهال ښه ترسره شي. د دغې مسئلې تعقیب ته اړتیا لیدل کیږي.

**لیلیان دانګ: که چیرې په راتلونکي کې له طالبانو سره مذاکرې پیل شي، د اساسي قانون د بشپړتیا او تمامیت جریان به په کوم ډول اداره شي؟**

محمد هاشم کمالي: لومړنۍ مخامختیا باید د قانون او قانونیت په اړه نه وي. اساسي قانون یو چوکاټ دی، خو په دې اړه باید یو څه انعطاف وجود ولري، او د راکړې ورکړې ځینې بیلګې هم باید شتون ولري. طالبان د پخوا په پرتله کمزوري شوي دي. له هغو سره په خبرو کې باید لومړی قدم دا وي چې هغوی د ویلو لپاره څه لري.

که چیرې د سولې عالي شورا (HPC) غواړي، د مذاکراتو لاربښوونه پر غاړه واخلي، نو اړینه ده، چې یاده شورا لا هم پر یوه ناپییلې ادارې بدلې شي. د HPC لاربښوونه د داسې کسانو له خوا کیږي، چې په هغو کې د شمال د اتحاد یو شمیر شخصیتونه شته، چې طالبان هغوی د سولې په ګټه نه بولي.

